د امپراتور نوې جامې

(Kejserens nye Klæder)

او

شپږ نورې کیسې

لیکوال

هانس کریستین اندرسن

(H. C. Andersen)

ژباړن

آصف بهاند

د کتاب ځانګړنې :

د کتاب نوم: «د امپراتور نوې جامې او شپږ نورې کیسې»،

لیکوال: هانس کریستین اندرسن

ژباړن: آصف بهاند

د ژباړلو نېټه: ۲۰۱۵ ـ ۲۰۱۶ ـــ ۲۰۱۷ کلونه،

د خپریدو نېټه: د ۲۰۱۹ ام کال می

د خپریدو ځای: افغان جرمن آنلاین پورتال

د مطالبو فهرست

۱ ـ د سر خبرې	۴ مخ
۲ ـ د لیکوال پېژندګلوي	۶ مخ
۳ ـ د امپراتور نوې جامې	۱۰ مخ
۴ ـ د صنوبر ونه	۱۶ مخ
۵ ـ د واورو سړی	۲۸ مخ
۶ ـ د غونځې ستن	۳۶ مخ
۷ ـ سیوری	۴۲ مخ
۸ ـ الوتونکی صندوق	۵۸ مخ
۹ ـ د سفر ملګری	۶۶ مخ
۱۰ ـ د ژباړن لنډه بیوګرافي	۸۹ مخ

د سر خبرې

د کیسو دا ټولګه، د مشهور ډنمارکي لیکوال هانس کریستسن اندرسن اوه (۷) نورې کیسې دي چې په بیلابیلو وختونو کې مې ژباړلې او خپرې کړې دي.
د هانس د ژباړل شوو کیسو لومړنۍ ټولګه مې د ۲۰۱۸ ام کال په جنوري کې د «د سمندر وړه ښاپیرۍ او نه (۹) نورې کیسې» تر سر لیک لاندې خپره کړه. دا هم د یادولو ده چې د هانس په کیسو کې یوه اوږده کیسه (د سمندر وړه ښاپیرۍ)، پرته له نورو کیسو په جلا ډول د ځینو دوستانو په سپارښتنه او د ښاغلي استاد محبوب شاه په مالي مرسته مومند خپرندویي ټولنې له خوا په ۱۳۹۵ ل کال کې چاپ او خپره شوه چې زه د ټولو دوستانو له مرستې، په تیره د ښاغلي محبوب شاه له مالي مرستې نه مننه کوم.
زما له لوري د هانس د ژباړل شوو کیسو د لومړنۍ ټولګې (د سمندر وړه ښاپیرۍ او نه (۹) نورې کیسې) په مقدمه کې څو کرښې لیکل شوې وې چې د مهموالي لپاره یې یوه برخه دلته هم را اخلم:
«زما د فرهنګي هلو ځلو او کارونو په لړ کې داسې هم وشول چې په ډنمارک کې مې د ژوند کولو په موده کې دې ته پام شو چې زه باید د ډنمارکیانو او ډنمارکي ټولنې د مثبتو تجاربو ځینې برخې د خپلو هیوادوالو د لوستلو له پاره چمتو او هغوی ته وروپیژنم. د همدې ایډیا له مخې مې د ډنمارک، ډنمارکي ټولنې او د دوی د ځینو دودونو په باب څو مقالې ولیکلې.
بیا مې هوډ وکړ چې باید د ډنمارک او نړۍ د پیژندل شوي ادبي فرهنګي شخصیت او د کوچنیانو د کیسو ستر لیکوال، هانس کریستین اندرسن، کوچنیانو ته لیکلې ځینې کیسې پښتو ژبې ته وژباړم، نو مې دا کار پیل کړ او په لومړي سر کې مې د هانس بیوګرافي خپره کړه. د دې

بیوګرافۍ په یوه برخه کې مې لوستونکو او قلموالو ته اعلان وکړ چې زه د هانس د ځینو کیسو په ژباړلو پیل کوم. هغه توري داسې وو:
«... ما داسې هوډ کړی چې د ده (هانس) له آثارو نه په منتخب ډول ځینې داستاني آثار پښتو ته را وژباړم، څو و کولای شم د نړیوالو ادبیاتو او ډنمارکي ادبیاتو یو څو ښې بیلګې د پښتو ژبې لوستونکو ته هم وړاندې کړم.»
ما خپل کار د ۲۰۱۵ کال په جولای کې پیل کړ، د هرې کیسې ژباړل به مې چې پای ته ورسول، نو مې هغه کیسه خپروله. داسې هم وشول چې په افغانستان کې د کوچنیانو د ادبیاتو اړوندو موسسو او مینوالو یې د چاپولو ټټر وواهه، ما هم په هغه وخت کې پنځه ژباړل شوې کیسې وروليږلې، خو هغه هسې د یوې «غورې» په برید کې پاتې او هیرې کړای شوه.

زه مایوسه نه شوم او په هماغې لومړنې مینې سره مې خپلې ژباړې ته او خپرولو ته یې دوام ورکړ او اوس هم دا کار روان دی.»
د دې کرښو تر لیکلو پورې مې د هانس کریستین اندرسن اوه لس (۱۷) کیسې له ډنمارکي ژبې نه پښتو ژبې ته ژباړلې دي او ماخذونه مې یې د هرې کیسې په پای کې ښودلي دي.
دا د ژباړل شوو کیسو دویمه ټولګه ده چې د **«د امپراتو نوې جامې او شپږ نورې کیسې»** نوم مې ورته غوره کړی دی. اوس یې د کتاب په بڼه، په آنلاین ډول درنو لوستونکو ته وړاندې کوم او په تکرار سره یې بیا وایم:
هیله ده چې د لوستونکو ورپام شي، هم یې خپله ولولي، هم یې خپلو کوچنیانو ته د لوستلو سپارښت وکړي او یا یې په ټاکلو وختونو کې مینديې پلرونه ماشومانو او کوچنیانو ته ولولي.

په درنښت
پوهندوی آصف بهاند
د ۲۰۱۹ کال د می میاشت
هیدرسلیف
ډنمارک

د لیکوال پیژند ګلوي

هانس کریستیان اندرسن څوک و؟

(H. C. Andersen)

(H. C. Andersen)

(۱۸۰۵ـ ۱۸۷۵)

مشهور ډنمارکی لیکوال هانس کریستین اندرسن د ۱۸۰۵ د اپریل په دویمه د ډنمارک د اودنسي(Odense) په ښار کې زیږیدلی دی او وروسته له اویاوو کلونو ژوند نه، د ۱۸۷۵ کال د اګست په څلورمه د ډنمارک په کوپنهاګن (København) کې مړ شوی دی.

https://en.wikipedia.org/wiki/Hans_Christian_Andersen

هانس د ډنمارک او نړۍ د نولسمې پیړۍ له پیژندل شوو او منل شوو لیکوالو څخه شمیرل کیږي. یو شمیر ادبي څیړونکو د ده ژوند په دغو برخو ویشلای دی:

ـ کوچنیوالی،

ـ د ځوانۍ دوران او ستونزې،

ـ ادبي ژوند او آثار،

ـ مړینه.

د هانس کریستیان اندرسن د کورنۍ په باب روایات په بیلابیلو بڼو ثبت شوي دي. نیکه یې په دې باور و چې د دوی کورنۍ د ټولنې له لوړو طبقاتو څخه وه او په اشرافو کې یې شمیرله، خو وروستیو څیړنو دا ادعا رد کړې ده.

کومه بیوګرافي یې چې په کتابونو او انسایکلوپیدا کې ثبت شوې ده، هلته داسې راغلي دي چې پلار یې موچي و، چې نه یې کوم استاد درلود او نه یې هم شتمني، هر څه یې خپله زده کړي وو. پلار یې دیرش کلن و چې مړ شو او یولس کلن هانس یې یوازې پریښود. ده ته له پلار نه په طبعي ډول بې قراري، لیدل، فکر کول، لوستل او هغه استقامت په میراث پاتې شوی و چې دی یې په پای کې د بریالیتوب لوړو پوړیو ته ور وخیژاوه.

هانس به په کوچنیوالي کې له لرګیو څخه نانځکې جوړولې، خپله به یې تیاتر جوړواه او له همدې نانځکو سره به یې د شکسپیر آثار په خپله له یاده لوبول.

مور یې یوه نالوستې کلیواله ښځه وه چې په کلي کې به یې د خلکو جامې مینځلې، ډیرې ستونزې یې وګاللې، خو د همدې ستونزو په ګاللو سره یې خپل زوی ته د استقامت داسې درس ورکړ چې په راتلونکي ژوند کې هانس د دې له تجربو نه په استفادې سره پر ډیرو ستونزو لاس بری پیدا کړ.

هانس په ډیرې خوارۍ سره په بیلابیلو ځایونو کې فزیکي کارونه وکړل. د خپلې بد رنګې څیرې په خاطر به ډیر ځلې د خپلو ټولګیوالو او همکارانو د خندا او تمسخر وړ ګرځیده چې په پای کې یې د خپل ژوند همدا داستان هم ولیکه او نوم یې ورته«د مرغاوۍ بد رنګه چورګوړی» کیښود. په داستان کې کیسه داسې انځور شوې ده چې په کرونده کې کله چې د یوې مرغاوۍ چورګوړی له هګۍ نه سر پورته کوي، ډیر بد شکله وي، نو ټول مرغان او څاروي ورپورې خاندې، خو په پای کې له دې چورګوړي نه داسې یو ښکلی او د لوړ الوت مارغه جوړیږي چې ټول ورته حیران پاتې کیږي.

هانس یو تش لاسی څوارلس کلن تنکی زلمی و چې کوپنهاګن ته لاړ او لکه چارلي چاپلین په لارو کوڅو کې د یوه خندونکي(مسخره) په څیر سندرې ویلې اوپیسې یې تر لاسه کولې، بیا یې تیاتر کې هم د قدم ایښودلو چانس پیدا کړ او د ښه غږ په درلودلو سره آن سلطنتي تیاتر ته هم ورغی.

څو ښونځیو ته لاړ او په پای کې یې د سکندویایي ژبو تر څنګ جرمني او انګلیسي ژبې هم زده کړې. د خپلې مور او خپل پلار د میراث په رڼا او سیوري کې یې د ژوند د ډیرو ترخو او نا خوالو سره له مبارزې وروسته خپله لاره او خپل مسلک وټاکه: لیکل او لیکوالي.

هانس کریستین لا دیرش کلن و چې شهرت یې تر لاسه کړ او د احترام وړ لیکوال په توګه وپیژندل شو. هغه تر دې وخته پورې یو څه شعرونه، نمایشنامې، یونلیک، داستانونه، او د ټوکو ټولګه خپرې کړې وې.

په ۱۸۳۵ کې یې د کوچنیانو له پاره د څلورو کیسو یوه ټولګه خپره کړه او وروسته له څه لنډې مودې نه یې یو څه نور داستاني آثار هم چاپ کړل او دې لیکلو او خپرولو ته یې لس کاله نور هم دوام ورکړ او دې ته ورته نور داستاني آثار یې خپاره کړل چې له ډنمارک نه د باندې د ده د شهرت سبب شول. په دې ډله کې داسې آثار هم وو چې مخکې له دې چې په ډنمارک کې خپاره شي، په انګلستان او جرمني کې د همدې هیوادونو په ژبو وژباړل شول او خپاره شول.

هانس په ډیروهیوادونو کې د کوچنیانو او تنکیو ځوانانو د لیکوال په ډول پیژندل کیږي، خو حقیقت دا دی چې د ده آثار نه یوازې د کوچنیانو او تنکیو ځوانانو له پاره جالب دي، بلکې د مشرانو له پاره هم په زړه پورې دي او داسې یې جذبوي چې د لوستونکو زړه غواړي په پرله پسې ډول یې ولولي او د ده د ژوند او آثارو له لوستلو وروسته هر لوستونکی په دې پوهیږي چې هانس کریستین اندرسن د لوی او واړه له پاره لیکنې کړې دي. دی د ټولو خلکو، ټولو نسلونو او ټولو وختونو لیکوال دی.

د هانس ژوند خپله یو اوږد او جالب داستان ته ورته دی. له ده نه چې څومره آثار پاتې دي، د ده فکر او استعداد ښه په کې ځلیدلی دی او دراک لوستونکي کولای شي پوه شي چې څنګه دی د ژوند په زینو کې قدم په قدم او پټه په پټه مخ پر وړاندې تللی دی.

حقیقت دا دی چې د ده هر داستاني اثر د ده د خپل ژوند یو ډول نمایش او ښودل دي، هر اثر یې چې ولوستل شي، د ده د ژوند د پښې پل په کې موندل کیدای شي. ښایي داسې و ویل شي چې د ده له پاره لیکوالي د ده د ژوند داستان بیانول دي.

کله چې دی وایي:«و،نه و، یو هلک و، چې ډیر بیوزلی و. پرته د تن له جامو نه یې هیڅ نه درلودل او هغه هم نورې ورباندې وړې شوې وې ...» دا توري او جملې په نیغه د ده د ژوند د هغه وخت انځور دی چې دی یو تش لاسی څوارلس کلن تنکی زلمی و چې له خپل زیږنځای اودنسې نه د کوپنهاګن پر لور روانیږي.

د ده د داستاني آثارو بله ځانګړنه دا ده چې دی کله کله نثر له داسې انځورونو، تشبیهاتو، استعارو او کنایو سره لیکي، لکه شاعران یې چې په شعر کې کاروي. وروسته له څو وارې لوستلو نه یې سړی په ډیر تعجب سره ویلای شي: نثر او دومره تشبیهات او انځورونه. د ده له«د سمندر وړه ښاپیرۍ» نومي داستان نه په انځورونو ښکلو څو جملو ته پاملرنه وکړئ:

« د سمندرونو واکدار کلونه پخوا خپله میرمن له لاسه ورکړې وه، خو شاهي مانۍ یې مور اداره کوله. هغه هوښیاره ښځه وه، خو په خپل اشرافي توب باندې له حده ډیره نازیدله، په خپله لکۍ باندې یې دولس صدپونه ایښي وو، په داسې حال کې چې اشرافیانو کولای شول یوازې شپږ صدپونه په خپله لکۍ پورې ونښلوي. سره له دې هم د ستاینې وړ ښځه ځکه وه چې له خپلو وړو لمسیانو، یعنې له وړو شهزادګیانو سره یې ډیره مینه کوله. دا شهزادګیانې شپږ وړې ښکلې سمندري ښاپیریانې وې، چې کشرۍ یې تر ټولو ښکلې وه. د څیرې رنګ یې د سرو ګلانو پاڼو ته پاتې کیده. او سترګې یې داسې آبي وې، لکه د سمندر د ژورو اوبو شین والی؛ خو هغې هم لکه د سمندر د نورو اوسیدونکو په څیر پښې نه درلودې او د وجود په پای کې یې د کب په شان یوه لکۍ درلوده.»

H.C.ANDERSEN Eventyr' 1' D`en lille havfrue' 1994' Odensa' Denmark' s:146-147

هانس پرته له خو تلپاتې آثارو او ریښتیني شهرت نه بل هیڅ شی نه درلودل او دا آثار او شهرت یې وړیا نه وو تر لاسه کړي. ده دا شهرت د ډیرو کړاونو او رنځونو له ګاللو وروسته تر لاسه کړی و. ډیرې نا امیدۍ او غمونه یې و ګالل، خو دی دومره ماهر هنر مند و چې له همدې نا امیدیو او غمونو نه یې ښکلا رامنځ ته کړه، نه تمامیدونکې ښکلا او دا ښکلا د ده په هر یوه اثر کې لوستونکي لیدلای شي. د همدې له پاره ویلای شو چې هانس کریستین اندرسن د لویې شتمنۍ خاوند انسان دی. د ده شتمني د ده آثار او افکار دي اومیراث یې هغه څه دی چې د خپلو آثارو له لارې یې په ښکلې ژبه خپلو لوستونکو ته ورکوي.

د ده آثار تر اوسه پورې په یوسلو پنځوس(۱۵۰) ژبو ژباړل شوي دي. مخکې له مړینې نه یې یو آهنګ جوړونکي سره د خپل تدفین د مراسمو د موزیک په باب خبرې وکړې. هانس هغه ته داسې ویلي و:

«ډیری کسان چې زما مړی به بدرګه کوي، کوچنیان به وي. د موسیقي غږ د هغو له کوچنیو قدمونوسره هم آهنګه جوړ کړه.»

ګیورګ بر اندس د هانس له منتقدینو څخه و. یوه ورځ یې له ده نه پوښتنه کړې وه:

«داسې ورځ به وي چې د خپل ژوند داستان دې ولیکې؟»

هانس په ځواب کې ورته ویلي وو:

«ما هغه داستان پخوا لیکلی دی، د هغه نوم«د مرغاوۍ بد رنګه چورګوړی» دی.

H.C.ANDERSEN Eventyr’ 2’ D`en lille havfrue’ 1994’ Odensa’ Denmark’s:177-197

په ډنمارک کې د هانس کریستین اندرسن د زیږیدو ورځ ته «د کوچنیانود کتاب نړیواله ورځ» نوم ورکړی شوی دی.

د څو داستاني آثارو نومونه یې دا دي:

ـ د سمندر وړه ښاپیرۍ،

ـ لوی کلاوس او وړوکی کلاوس،

ـ د مرغاوۍ بد رنګه چورګوړی،

ـ د امپراتور نوې جامې،

ـ د هومر له مزار نه یو ګل،

ما د ۲۰۱۵ کال په جولای کې د هانس کریستیان اندرسن د بیوګرافي د خیرولو په ترڅ کې داسې ویلي و چې:

ما داسې هوډ کړی چې د ده له آثارو نه په منتخب ډول ځیني داستاني آثار پښتو ته را وژباړم، خو و کولای شم د نړیوالو ادبیاتو او ډنمارکي ادبیانو یو څو ښې بیلګې د پښتو ژبې لوستونکو ته هم وړاندې کړم. او دا کار ما تر یوې اندازې سرته ورساوه چې لس کیسې یې په دې ټولګه کې وړاندې کیږي:

د امپراتور نوې جامې

Kejserens nye Klæder



کلونه پخوا یو امپراتور ژوند کاوه چې نوې او ښکلې جامې یې ډیرې خوښیدې او خپلې ټولې پیسې به یې د ځان په سمبالولو لګولې. هغه خپلو سرتیرو ته هم پام نه کاوه، کومې ننداري ته نه ته، د آس په سورلۍ د ځنګله په سیل هم نه ووت؛ خو د خپلو نویو جامو د ښودلو له پاره یې ښه

ډیر وخت او ښې ډیرې جامې درلودې، داسې چې د ورځې د هر ساعت له پاره یې یو جوړه کالي درلودل او پر له پسې به یې بدلول. دی دومره مصروفه و چې فکر کیده چې«امپراتور د مشاورې یا مصلحتونو په کوټه کې دی»، خو په اصل کې داسې و چې:«امپراتور د کالیو په الماری کې لګیا و»

د امپراتور د اوسیدو ښار، له خوښیو ډک ښار و. هره ورځ هغه ښار ته ډیر نا پیژانده خلک راتلل. یوه ورځ دوه حیله ګر دې ښار ته ورغلل او ځانونه یې ټوکر جوړونکي معرفي کړل. هغوی ویل: تر ټولو ښکلی ټوکر، چې فکر یې کیږي، کولای شي و اوبي، داسې ټوکر چې نه یوازې دا چې رنګ او طرحه یې ډیره عالي او ښکلي وي، بلکې هغه جامې چې له دې ټوکر نه اوبدل کیږي، یوه بله عجیبه ځانګړنه هم لري: هغه څوک چې د خپل مقام وړ نه وي یا ډیر احمق وي، د چا پر بدن یې نه شي لیدلای.
کله چې واکمن دا خبرې واوریدې، ځان سره یې و ویل:«په رښتیا ډیره په زړه پورې به وي چې داسې جامې واغوندم، بیا نو کولای شم پوه شم چې زما په امپراتورۍ کې څوک د خپل مقام وړ نه دی او و به کولای شم چې د پوه او نا پوه توپیر وکړم. هوکې باید ژر تر ژره زما له پاره همداسې کالي جوړ کړای شي.» دواړو تیر ایستونکو نارینه ګانو ته یې ښې ډیرې پیسې ورکړې چې خپل کار پیل کړي.
تیرایستونکوو خپله دستګاه کیښوده چې ټوکر و اوبي، خو دستګاه کې د اوبدلو له پاره هیڅ شی نه وو. هغوی له امپراتور نه وریښمین او طلایي سپنسي وغوښتل، خو هغه یې و نه کارول او په خپلو توبرو کې یې کیښودل. د شپې تر نا وخته به د اوبدلو له دستګاه سره ناست وو، چې ټوکر اوبي.

امپراتور یو وار له ځان سره و ویل:«زړه مې غواړي پوه شم چې د کالیو اوبدلو کار څه ډول روان دی؟»، خو کله یې چې دا خبره په یاد کیدله چې: هغه خلک چې احمق او د خپل مقام وړتیا

نه لري، نه شي کولای چې دا ټوکر وګوري، نو په زړه کې یې عجیب حالت پیدا شو او له ځان سره یې و ویل چې اړینه نه ده چې له ځانه و ډار شي، خو زړه یې غوښتل چې د لومړي ځل له پاره بل څوک ور ولیږي چې هلته څه تیریږي.
د امپراتورۍ په ټولو برخو کې د دې جادویي جامو د کیفیت په باب خلکو یو څه اوریدلي وو او ډیری خلک دې ته سترګې پر لارې وو چې په دې پوه شي چې ګاونډی یې څومره احمق او د خپل کار وړ نه دی.
امپراتور سوچ وکړ چې:«زه باید خپل مجرب او وفاداره وزیر په اوبدونکوو پسې ولیږم چې د هغوی کارونه څنګه روان دي. دا ځکه چې دا وزیر پوه سړی دی او له ده پرته بل هیڅ څوک د ده د مقام وړتیا نه لري.»
پوه او د باور وړ وزیر هغې کوټې ته ورغی چې دوه مکار اوبدونکي د تشې دستګاه په څنګ کې ناست دي او د اوبدلو په نامه ښوري، خو وزیر څه و نه لیدل او له حیرانتیا نه یې سترګې بوټې را و وتې او له ځان سره یې و ویل:«خدایه و رحمیږي، زه خو هیڅ شی نه وینمه.»، خو څه یې و نه ویل.
مکارانو له ده و غوښتل چې د ټوکر اوبدلو دستګاه ته ور نږدې شي. هغوی تشې دستګاه ته په اشارې سره له وزیر نه د اوبدیدونکي ټوکر د طرحې، رنګ او ښکلا په باب پوښتنې کولې.
زاړه وزیر چې هر څومره خپلې سترګې خلاصې کړې اوبیا یې د دقت له پاره سره غونجې کړې، څه یې و نه لیدل، ځکه چې هلته هیڅ شی نه و.
وزیر له ځان سره و ویل:
«یا خدایه! آیا زه نا پوه یم؟ هیڅ کله مې باور نه کیږي، که رښتیا داسې وي، نو ښه ده چې څوک پوه نه شي، آیا زه د دې مقام وړ نه یم؟ نه، دا به هیڅ ښه نه وي چې و وایم: هغه ټوکر چې اوبي، زه یې نه شم لیدلای.»



یوه مکار په داسې حال کې چې د اوبدلو پیښې یې کولې، و ویل:«ښه! د ویلو له پاره څه نه لرئ!»

زاړه وزیر د خپلو عینکو له هغه اړخ نه د باندې وکتل او وې ویل:«واه ښکلی دی! دا طرحه، دا انځور او دا رنګونه! هوکې، زه به امپراتور ته و وایم چې ما یې له لیدلو نه په رښتیا خوند واخیست.»

دواړوو اوبدونکوو و ویل:«موږ ویاړوو» او وروسته یې د طرحو او رنګونو نومونه یاد کړل. زاړه وزیر د دوی خبرو ته په دقت غوږ ونیو، څو وکولای شي هغه بیا امپراتور ته تکرارکړي او دا کار یې په هوښیارتیا تر سره هم کړ.

اوس نو دواړو تیرایستونکوو سړیو د ټوکر داوبدلو له پاره د نورو ډیرو پیسو، وریښمو او زرینو سپنسیو غوښتنه وکړه چې هر څه خپلو جیبونو ته واچوي. د اوبدلو دستګاه لکه پخوا تشه چلیده، حتی یو سپنسی هم په دستګاه کې نه لیدل کیده او دوی د کار کولو پیښې کولې.
امپراتور په ډیره بیړه خپل یو بل د باور وړ استازی ور ولیږه چې وګوري د ټوکر د اوبدلو کار څنګه روان دی او کله به پای ته رسیږي. په دې استازي هم د زاړه وزیر کانه وشوه. دې استازي هم وکتل او وکتل، خو پرته له تشې دستګاه نه یې بل څه ونه لیدل.

دې استازي ته هم دواړو مکاروو نارینه وو دهغه څه په باب څرګندونې وکړې ، چې هلته نه وو او بیا یې ور نه وپوښتل:«څنګه! ښکلی ټوکر نه دی!»
د امپراتور استازي ځان سره فکر وکړ«زه احمق نه یم، ضرور زه د خپل مقام لیاقت نه لرم! د خندا وړ ده! خو ما سره ښایي چې د چا را باندې پام نه شي.» او له دې سره یې د هغې ټوټې د طرحو او رنګونو په ستایلو پیل وکړ چې هیڅ نه لیدل کیدل او مکارانو ته یې و ویل چې څومره یې ټوټه خوښه شوې ده. بیا نو امپراتور ته ورغی او ورته وې ویل:«هوکې، یوازې ښکلی دی!»

ټول ښار د هغه پرتمین ټوکر په باب غږیده چې دوو مکارانو اوبه. په پای کې امپراتور پریکړه وکړه چې ټوکر د دستګاه پر سر وګوري.

امپراتور له یوې منتخبې ډلې سره چې د ده دوه پخوا ورلیږلي استازي هم په کې وو، هغې کوټې ته ننوت چې مکاران لګیا وو او په ډیر جدیت یې د اوبدلو دستګاه کاروله چې یوه ټوټه څه، حتی یو سپنسی هم په کې نه و.

د امپراتو دوو باوري استازو غږ وکړ:«وګورئ! اعلیحضرتا، څه ښه رنګ او څه ښه طرحه ده. آیا ډیره عالي نه ده؟»

دواړو زړو او باوري استازو تشې دستګاه ته داسې اشاره کوله، ته وا رښتیا ټوکر په کې دی او ټول یې لیدلای هم شي.

امپراتور ځان سره و ویل:« یعنې څه! زه خو څه نه وینم! بیرونکې ده! آیا زه احمق یم؟ آیا زه د امپراتور د واک وړتیا نه لرم؟ دا له ټولو نه خطرناک څه وو چې کیدای شول ما ته را پیښ شي!» بیا یې تشې دستګاه ته په کتو سره د رضایت په ډول سر وښوراوه او وې ویل:«اوه، ډیر ښایسته دی! ډیر مې خوښ شو.» هغه نه غوښتل وایي چې څه نه شي لیدلای.
ورسره تللو درباریانو پر دستګاه سترګې وګنډلې، ډیر ټیټ و پاس شول، څه یې و نه لیدل، خو ټولو امپراتور غوندې و ویل:«اوه، ډیر ښکلی دی!» او امپراتور ته یې سپارښت وکړ چې د ده له پاره، له همدې ټوټې نه جامې وګنډل شي چې امپراتور یې په راتلونکو مراسمو کې واغوندي.

هغوی ټولو و ویل:« عالي دی! ښکلی دی! پرتمین دی.» دا خبره خوله خوله شوه او ټولو رضایت ښکاره کړ. او امپراتور هم دواړو مکارانو ته «د اوبدلو د دستګاه نجیب زاده» لقب او د شوالیه نشان ورکړ چې پر ټټرونو یې ور ته و نښلوي.

دواړه مکار اوبدونکي، د مراسمو له تر سر کیدو یوه شپه مخکې، له شپاړسو لګیدلو شمونو سره شپه په ویښه سبا کړه. خلکو کولای شول وګوري چې هغوی د امپراتور د نویو جامو د کار د خلاصولو له پاره څومره هڅه کوي.هغوی داسې ښودله چې ټوکر له دستګاه نه را باسي، هوا په غټو قیچیانو غوڅوي(باد ته یې توره ایستلې) او په بې سپنسیو ستنو باندې یې ګنډي. او په پای کې یې غږ وکړ چې د امپراتور جامې تیارې دي!

امپراتو له خپل ځانګړي ګارد سره په اوبدونکو پسې ورغی. دواړو مکارانو خپل لاسونه هوا ته داسې جګ کړل لکه کوم شی چې یې په لاسونو کې وي او وې ویل:«دا پرتوګ، دا کمیس او دا هم خولی» او پسې زیاته یې کړه:«د غنې(جولا) د تار په سبک جوړې دي! کله چې واغوستل شي، انسان فکر کوي چې څه شی یې په ځان کې نه شته، همدا د دې ټوټې ښیګڼه ده.»

د ګارد غړو ټولو په یوه خوله و ویل چې هوکې، خو دوی څه نه وو لیدلي، ځکه چې د لیدلو له پاره هیڅ شی نه وو. دوو مکارانو و ویل:«که د اعلیحضرت غوښتنه وي، مهرباني دې وکړي خپلې جامې دې وباسي! موږ به د لویې آیینې په مخ کې تاسو سره مرسته وکړو چې خپلې جامې واغوندئ.»

امپراتور خپلې ټولې جامې وایستې او دواړو مکارانو داسې ښودله چې د ګنډل شوو جاموهره برخه جلا جلا ور اغوندي، بیا یې داسې پیښې وکړې چې ګنې کوم شی یې له ملا نه ور تاووي او ورپسې د جامو شاتنۍ برخه چې ورپسې زوړنده وي. امپراتور را تاو شو او د آیینې مخکې ودرید. ټولو و ویل:«اوه خدایه! څنګه درسره ښایي، څومره مناسبې دي! څه ښه رنګ! څومره ښه طرحه! ډیرې قیمتي جامې دي!»

د دربار د تشریفاتو رییس و ویل:«اعلیحضرتا! هغه چتر یا خیمه چې د مراسمو په لړ کې باید ستاسو پر سر وي، چمتو ده.»

امپراتور داسې ښودله چې ګنې د ډیرو مجللو او ښکلو جامو د امتحانولو په حال کې دی، یو ځل بیا د آیینې مخکې را تاو شو او وې ویل:«ښه زه چمتو یم، آیا نه را سره ښایي؟»

دوه تنه درباریان چې باید د امپراتور د جامو وروستۍ زوړنده برخه یې په لاس کې ورپسې وړې وای، د ځان غولونې په ډول لاسونه پرغولي باندې ښورول چې ګنې د جامو زوړنده برخه په لاس کې نیسي، نو داسې یې وښوده چې دوی د جامو وروستۍ زوړنده برخه ونیوله، لاسونه یې په هوا کې ښورول چې څه شی وړي. هغوی نه شو کولای دا ومني چې څه نه ویني او څه شی نه شته.

بیا امپراتور د هغې کیږدۍ خوا ته ورغی چې هلته مراسم تر سره کیدل. ټول ښاریان د واټونو په اړخونو کې ولاړ وو او یا یې له کړکیو نه راکتل او ویل یې:«خدایه! د امپراتور جامې څومره ځانګړې دي! شاتنۍ برخه یې څومره ښکلې ده! په امپراتور باندې څومره ښې ښکاریږي!» او په ټولو خلکو کې یو تن هم نه و دا ومني چې څه شی نه ویني. که چا څه ویلي وای، بیا ویل کیدل چې دا احمق دی او د خپل کار وړتیا نه لري. مخکې له دې هیڅ کله د امپراتور جامې دومره د پاملرنې وړ نه وې ګرځیدلې.

د خلکو په ډله کې یوه کوچني ناري کړې:«د امپراتور پر تن څه شی نه شته، لوڅ لیږ دی!»

د کوچنې پلار و ویل:«پاکه ربه، د دې بې ګناه کوچنې خبرې ته غوږ شئ.» او خلکو په خپلو منځو کې په ګونګوسې پیل وکړ او هغه څه چې کوچنې ویلې وو، دوی هم بیا ځلې و ویل:«د امپراتور پر تن څه شی نه شته، وړوکی ماشوم وایي چې د هغه په ځان کې څه شی نه شته.»
او په پای کې ټولو چغې کړې:«د امپراتور پر تن څه شی نه شته.»
امپراتور وریږدید، ځکه هغه باوري و چې حق د خلکو په خوا دی، خو له ځان سره یې و ویل:«زه باید مراسم تر سره کړم.» او په غرور سره یې ګام اوچت کړ. دوه درباریان چې د جامو د وروستۍ برخې د وړلو پیښې یې کولې، هماغسې ورپسې روان وو!

پای

منبع:

H.C.Andersen Eventyr, 1, 193 _ 203 s, 1994, Odnsa, Denmark

د صنوبر ونه

(Grantræet)

H.C. Andersen

د ځنګله په منځ کې یوه ښایسته د صنوبر ونه ولاړه وه. دې ونې په ځنګله کې ښه ځای درلود، پوره لمر یې اخستلای شو، پوره هوا ور رسیده او په شا و خوا کې یې ښو غټو ونو د ملګرو په

ځیر سرونه هسک کړي وو، خو دې وني په شته امکاناتو بسنه نه کوله او غوښتل چې نوره وده هم وکړي او ستره شي؛ آن تر دې چې کله به د کلي کوچنیان ځنګله ته د میوو ـ ټولولو له پاره راتلل، هغو ته به یې هم پاملرنه نه کوله. کله به کوچنیان له میوو ډکې ټوکرۍ سره راتلل او د ښکلي صنوبر د وړې وني له اړخ سره به کیناستل او د دمې په ترڅ کې به یې مځکني توت په یوه نازکه لښته کې داسې سره پیچل، لکه کباب چې په سیخ کې تیریږي او بیا به یې یو، یو خوړل، تل به یې د کاج د وني صفت کاوه او ویل به یې چې:

«څومره ښکلي وړه ونه ده.»،

خو وني دې خبرو ته هیڅ پام هم نه کاوه، لکه اوریدلې یې چې نه وي. هیله یې دا وه چې ډیر ژر ستره شي.

د صنوبر دا وړوکې ونه کال په کال غټیده او ستې یې نور هم قوي کیده، خو ګوره چې د صنوبر یوه ونه څومره خوارۍ او زحمت او څو کلونو ته اړتیا لري چې دا ستره شي.

وړوکې صنوبر وني په خپګان سره آه ایسته او له ځان سره یې ویل:

«کاشکې زه هم نن لکه دا نورې وني یوه غټه او قوي ونه وای، خپلې څانګې به مې شا و خوا ځړولې او له خپلې پاسنۍ برخې نه مې دا نوره نړۍ لیدلای، مرغان به راتلل او زما په څانګو کې به یې ځالې جوړولې، او د باد له الوتو سره مې د نورو ونو په څیر کولای شوای سر وخوځوم.»

د صنوبر وړې وني، د لمر له وړانګو، له الوتونکو او پر سر یې سهار او ماښام له روانو سرو وریځو څخه رضایت نه درلود او له هغو نه یې هیڅ خوند نه اخیسته.

کله چې ژمی شو، د واورو سپنې داني پرې را خورې شوې، یو شیطان او شوخ سوی به په خینجتو هلته راته او د صنوبر د وړې وني له پاسه به یې خیزونه وهل، د وني له پاسه به کیناسته او دې کار به د صنوبر ونه عصباني کوله!

دوه ژمي واوښتل، دریم ژمی چې راغي، د صنوبر وړه ونه دومره ستره شوې وه چې شیطان سوی نه شوای کولای د هغې له پاسه خیزونه و وهي او مجبور و چې شا و خوا ورنه راتاو شي.

د صنوبر ونې داسې فکر کاوه چې وده کول، غټېدل او زړېدل په نړۍ کې تر ټولو ښکلې شیان دي.

په مني کې به هر کله لرګي ماتونکي راتلل، څو تر ټولو ستري ونې به یې ماتولې او غورځولې. په هغه کال هم راغلل، د صنوبر ونه چې ښه غټه شوې وه، د هغوی په لیدلو سره، له ډاره وریږدیده. هغې لیدل چې ستري ونې لکه بریښنا داسې مخکته لویږي. لرګو ماتونکو به د هغوی څانګې غوڅولې، په کراچیو کې به بارولې، اسانو به کشولې او له ځنګله څخه به یې ایستلې، خو د صنوبر ونه په دې نه پوهیده چې غوڅې کړای شوې ونې چیرې وړل کیږي؟ او څه پرې کوي؟

په پسرلي کې، کله چې توتکۍ او ډینګ (لک لک) راغلل، د صنوبر ونې له هغوی نه پوښتنه وکړه:

«آیا تاسو پوهیږئ چې زموږ دوستان یې چیرې یوړل؟ په لاره کې مو هغوی ونه لیدل؟»

توتکۍ په څه نه پوهیدلې، خو ډینګ (لک لک) په متفکرانه ډول سر وښوراوه او وې ویل:

«هو، لکه چې ما ولیدل. کله چې د مصر په لوري تلم، ډیرې نوې کشتیانې مې ولیدلې. د هغو پر سر لوی او پرتمین شاتیرونه بار وو، که تیروتی نه اوسم، دا به زموږ هماغه خپلې ونې وې، د سروې او صنوبر بوی یې کاوه، ډیرې ښکلې او پرتمینې ښکاریدې.

د صنوبر ونې یو آه ویست او وې ویل:

«کاشکې ما هم کولای شول چې د سمندر پر سفر ولاړه شم! دا سمندر چې تاسویې یادوئ، دا څه ډول ځای دی؟ هغه څه ډول ښکاري؟»

ډینګ (لک لک) و ویل: «د دې شیانو په باب خبرې کول ډیر وخت غواړي.» دا یې و ویل او ایسته والوت.

د لمر زرینو وړانګو وویل:

«د ځوانۍ په ځواک دې پوه شه! باران به د ونې پاڼې ښکلولې، سهارنۍ پرخه به د هغې پر اوږو اوښکې تویولې»؛ خو د صنوبر ونه د هغوی په ژبه او خبره نه پوهیده.

د کریسمس وخت راورسید، لرګي ماتونکي په صنوبر ونو پسې راغلل او هغوی یې یوه، یوه غوڅې کړلې. هغوی څو ځوان صنوبر نیالګي هم غوڅ کړل، هغه نیالګي چې زموږ د کیسې له صنوبر نه هم واړه وو؛ بیا یې پرې شوې ونې پر خپلو ګاډیو باندې کیښودې او اسانو په کشولو سره هغه له ځنګله څخه وایستلې.

د صنوبر ونې له ځان څخه وپوښتل:

«هغه چیرې وړي؟ هغوی تر ما وړې وې، هغه یې غوڅې کړې او وې یې وړې، خو زه یې وې نه وړم؟ هغوی چیرې روان دي؟»

خړو مرغیو په چقهارې سره وویل:

«موږ پوهیږو، موږ پوهیږو! کله چې دننه په ښار کې وو، د کورونو له کړکیو نه مو د ننه وکتل، موږ پوهیږو چې هغوی یې چیرې یوړې!

اوه! هغوی په داسې حالت کې دي چې فکر یې هم نه شي کولای، هغوی اوس په ډیر جلال او پرتم کې دي. موږ له کړکیو نه سرونه ور وړاندې کړل او ومو لیدل چې هغوی یې د یوه تاوده

سالون په منځ کې درولې دي او په ډیرو ښکلو شیانو یې ګاڼلې دي. زرینې مڼې، له ګبینه جوړ کیکونه، د لوبو رنګارنګ اسبابونه او سلګونو شمونه یې په کې راځړولي دي.»

د صنوبر ونه له احساساتو سره وریږدیده او وې پوښتل: نو بیا؟ هو، بیا څه وشول؟

«بلې، بیا موږ هیڅ و نه لیدل، خو هغه ځای بې جوړې و!»

د صنوبر ونې په خوشالتیا سره وویل:

«ښایي زما راتلونکې به هم همداسې وي چې داسې یو پرتمین برخلیک را په برخه شي! دا خو په سمندر کې تر سفر کولو هم ښه دی، څومره د داسې یو حالت لیواله یم! کاشکې همدا اوس کریسمس وای او زه په یوه تاوده او خپلې خوښې وړ سالون کې، په ښکلاوو او پرتم کې درول شوې وای! او بیا؟ خامخا به د داسې ونې له پاره نور ښه هم په انتظار کې وای، ډیر جالب څه، که نه څه اړتیا وه چې ونه دې هغسې تزیُن او سینګار کړي؟ باید له دې نه هم کوم مهم او لا پرتمین څه په مخ کې وي، خو څه شی؟ اوه! څومره زوریږم! څومره هیلمنه یم! زه خپله هم نه پوهیږم چې ولې؟ اې شینه ځنګله پوه شه!»

پاکې هوا او د لمر تودونکو وړانګو وویل:

«له موږ نه خوند واخله! په دې شنه ځنګله کې دې د ژوند او ځوانۍ په قدر پوه شه!»
خو د صنوبر ونې له دې شیانو خوند نه اخیسته او خوشحاله کیده نه، یوازې وده یې کوله او غټیده. ژمی او اوړی تیر شول او د صنوبر ونه له خپل جګ قد سره، هماغسې هلته ولاړه وه، هر چا به چې لیدله، ویل به یې:

«عجبه ښکلې او پرتمینه ونه ده!»

د کرسمس له رارسیدو سره یې زموږ د کیسې صنوبر، له نورو ونو مخکې غوڅه کړه، تبر یې بدن ورڅیرې کړ او ونه په ګړز سره پر مځکه ولویده. ټول وجود یې له درده ډک شو او عجیبه سستتیا او ضعف یې احساس کړ. په هغې شیبه کې یې نه شوای کړای د نیکمرغۍ او خوښۍ په باب فکر هم وکړي، خواشینې وه، ځکه چې له خپل کور کلي او هغه ځای نه چې دا په کې ستره شوې وه، جلا کیده. پوهیده چې نور خپل پخواني او ګران دوستان نه شي لیدلای او دا له ویرونو ډک بیلتون یې بیخې نه خوښیده.

د صنوبر ونه هغه وخت په سد شوه چې د یوې لویې حویلۍ په مخکې یې له نورو ونو سره یو ځای، له کراچۍ نه ښکته و غورځوله، په همدې شیبه کې صنوبر یو غږ واورید:

«دا یوه بې جوړې ده، موږ همدا غواړو»

لږ څه وروسته دوه تنه چوپړان راغلل او د صنوبر ونه یې داسې یو لوی سالون ته ننه ایسته، چې پر ټولو دیوالونو یې نقاشي شوي ښکلي انځورونه را ځړول شوي وو، د سالون د لویې بخارۍ په څنګ کې ګلدانونه ایښودل شوي وو چې د زمري په څیر سرپوښونه یې درلودل، یوه خوځیدونکې څوکۍ او د وریښمینو پوښونو لرونکې کوچونه، یو لوی میز چې ډیر مصور کتابونه ورباندې ایښودل شوي وو، یو څه د لوبو اسباب او په سلګونو سکې ایښودل شوې وې.

د کاج ونه یې په یو استوانه ډوله داسې لوی ګلدان کې کیښوده چې له میده شګو نه ډکه وه، خو ګلدان ځکه نه لیدل کیده چې شا و خوا یې په شنه ټوکر پوښلی و او ګـلدان پر یوه غټ لکه لرونکې فرش باندې ایښودل شوی و.

اوه، ونه څنګه وریږدیدله! اوس به څه پیښیږي؟

چوپړانو ونه سینګار کړه او په څانګو کې یې د خلطو په څیر، رنګه جالی، جالی کاغذونو وځړول او دا خلطې یې په خوږو ډکې کړې. د زنګ په څیر لوښې او چارمغز ډوله شیان یې داسې په ونه کې را وځړول چې تا به وې چې همدلته را شنه شوي دي او څو شنه، سپین او سره واړه شمونه یې هم په څانګو کې وتړل.

کله چې کار خلاص شو، د ونې په څانګو کې د ریښتینو انسانانو په څیر داسې نانځکې تاو راتاو کیدې، چې ونې پخوا هیڅکله نه وې لیدلې او د ونې په تر ټولو جګه برخه کې یو غټ ستوري ایښودل شوی و چې رنګه او ځلیدونکې ستارې وربانديې ټومبل شوې وې، داسې چې بیخې بیساری و، بیخې بیجوړې.

ماخوستن ټولو په یوه خوله وویل:

«نن شپه د صنوبر ونه ښه ځلیږي!»

ونې چُرت وواهه:

کاشکې همدا اوس شپه وای چې څراغونه ژر لګول شوي وای!
دا به کله کیږي؟

آیا داسې کیدای شي چې نورې ونې زما د ننداري له پاره له ځنګله څخه راووزي؟
آیا مرغۍ به د کړکیو شا ته راشي؟

آیا زه به همدلته همداسې شنه یم او خپلې ودې ته به دوام ورکوم او ژمی وړی به همداسې ښکلې او سینګار شوې ولاړه یم؟»

د ونې هیلې او خیالونه له واقعیت نه لرې نه وو، خو د دې هیلو تر څنګه، د ملا ډیر کلک درد هم په عذاب کړې وه، داسې بد درد، لکه د انسان د سر درد.

شمونه بل کړای شول، څه رڼاوې او څه پرتمنینه ځلا، څه پرتم او جلال! ونه داسې سره وریږدیده، چې د یوې شمعې لمبې، یوې شنې څانګې ته اور ورته کړ او ایره یې کړه.
څو ځوانو نجونو چغې کړې:

«اوه خدایه!»

او په بیړه یې اور مړ کړ.

اوس د کاج ونې ریږدیدا ته هم زړه نه شو ښه کولای، دا څومره ګرانه وه! ونه په دې هم ډاریده چې د دې په څانګو کې را زوړندې ناوکې اور وانخلي. دا له دومره ډیرې ښکلا او رڼا ګانو نه په حیرانتیا کې ډوبه وه چې ناڅاپه د لوی تالار دروازې خلاصې شوې او څو کوچنیان په خوشالتیا او بیړې سره داسې راننوتل چې نږدې و د صنوبر ونه واړوي. مشران لږ څه په کرارۍ را ننوتل، واړه یوه شیبه غلې پاتې شول، خو لږ څه وروسته یې د خوشالۍ داسې چغې سورې جوړې کړې چې ټول تالار یې ښوراوه. کوچنیان د صنوبر ونې شاو خوا کې ښه په درزا سره ګډیدل او د ونې له څانګو نه یې ډالۍ تر لاسه کولې.
ونې له ځان سره فکر وکړ:

«دوی څه کوي؟ اوس به څه پیښ شي؟»

شمونه ټول وسوزیدل، دومره چې آن تر څانګو پورې وسوزیدل. بیا مشرانو د شمونو اور یو ، یو مړ کړ او بیا یې کوچنیانو ته اجازه ورکړه چې هرڅه په ونه کې پاتې وي، وایېخلي.
کوچنیانو هم پر ونې ور منډه کړه او داسې یرغل یې پر وکړ او داسې په تندۍ یې خوراکي توکي تر لاسه کول چې د ونې د څانګو د ماتیدو غږ اوریدل کیده. که یې د ونې پر څوکه تړلی ستورى د سالون په چت پورې نه وای نښلولی، ونه به لا وختې چپه شوې وای.

کوچنیان د لوبو ښکلې اسبابونه په لاس، د ونې شا و خوا ګډیدل. نور نو د صنوبر ونې ته هیڅ چا پام نه کاوه، یوازې یو بوډا سړی راغی او په ځیر یې د ونې څانګو ته په دې موخه کتل چې کوم انځر یا منه هلته پاتې نه وي.

کوچنیانو په جګ غږ سره ناري کړې:

«یوه کیسه! یوه کیسه!»

او له دې چغو سره یې یو پنډ ټیټ قدی سړی په کشولو، کشولو د ونې خوا ته راوست. سړی د صنوبر تر ونې لاندې کیناست او وې ویل:

«سړی یې داسې انګیرې چې د ځنګله په منځ کې ناست وي، د صنوبر ونه هم کولای شي زما کیسې ته غوږ شي، خو زه به یوازې یوه کیسه تاسو ته و وایم. اوس نو ستاسو خوښه چې د «ایوید ـ آوید» کیسه غواړئ، که د «کلومپي ـ دومپي» کیسه چې له زینو راولوید، مهم سړی شو او له شهزادګۍ سره یې واده وکړ؟»

ځینو ناري کړې:

«ایوید ـ آوید»

خو ځینو نورو بیا چغې کړې چې:

«کلومپي ـ دومپي»

چیغو سورو تالار په سر اخیستی و، یوازې د صنوبر ونه غلې وه او له ځان سره یې داسې فکر کاوه:

«آیا زه هم کولای شم یوه کیسه ونوموم؟»

پنډ ټیټ قدي سړي د«کلومپي ـ دومپي» کیسه وکړه چې له زینو راولوید، خو مهم سړی شو او له شهزادگۍ سره یې واده وکړ.

کوچنیانو لاسونه وپړکول او ناري یې کړې:

«یوه بله، یوه بله.»

هغوی غوښتل چې د «ایوید ـ آوید» کیسه هم واوري.

د صنوبر ونه غلې او په چُرت کې ولاړه وه. ځنگلي مرغانو خو هیڅکله دا کیسه نه وه کړې چې «کلومپي ـ دومپي» له زینو لاندې ولوید، لوړ مقام ته ورسید او له شاهزادگۍ سره یې واده وکړ!

د صنوبر ونې له ځان سره وویل:

«هوکې! د دنیا کارونه همداسې دي!» او ټوله کیسه باندې یې باور وکړ، ځکه چې د یوه مهربانه سړي له خولې یې اوریدلې وه.

بیا یې له ځان سره چُرت وواهه:

«وړاندې څوک څه پوهیږي؟ ښایي کومه ورځ زه هم له زینو نه لاندې ولویږم یوه شهزادگۍ پیدا کړم!»

د صنوبر ونه په ډیره مینه او امید سترگې په لاره شوه چې سبا شپه هم ښکلې او سینگار کړای شي، په څانگو کې یې شمونه، د لوبو اسباب، زرین شیان او میوې راوځړوي. صنوبر له ځان سره سوچ وکړ:

«سبا به زه و نه ریږدم، له هغه پرتم او ښکلا نه به خوند واخلم. سبا به بیا د «کلومپي ـ دومپي» یا ښایي د «ایوید ـ آوید» کیسه واورم.»

د صنوبر ونه ټوله شپه غلې ولاړه وه او همدا چُرتونه یې وهل.

سبا ته چې کارکونکي سالون ته رادننه شول، ونې فکر وکړ چې:

«اوس به مې ټول ښکلي او پرتمینې شیان رابدلوي»؛ خو هغوی ونه په کشولو سره له سالون څخه ویسته او هلته لرې یې په یوه خځلداني غوندې تیاره ځای کې وغورځوله.

«د دې کار مانا څه ده؟ اوس باید زه څه وکړم؟ مانا دا چې څه به پیښیږي؟» ونې له ځان سره همدا چورتونه وهل. شپې ورځې یو په بل پسې تیرې شوې، خو څوک د خځلدانی خوا ته رانغلل، وروسته له ډیرې مودې کوم څوک راپیښ شول، هغه هم څه لوی صندوکونه هلته ایښودل او بیرته ته.

ونې بیا له ځان سره و ویل:

«فکر کوم چې دلته یې زه د دې له پاره ایښې یم چې اوس ژمی دی، مځکه ډیره کلکه ده او ټول ځایونه واورو پوښلي دي او دوی نه شي کولای چې ما په بڼ کې کینوي، د دې له پاره زه باید تر پسرلي پورې دلته پاتې شم. رښتیا دوی څه ښه خلک دي! خو کاشکې دا ځای دومره تیاره او ډارونکی نه وای، حتی یو وړوکی ښکلی سوی هم دلته نه شته چې په ځنګله کې به د واورې له لویدو سره، زما شاو خوا او پر سر باندې خینجتې او خیزونه وهل، خو اوس دلته هغه څه نه شته، دا یوازیتوب، وحشتناکه دی.»

په همدې شیبه کې یې څرهاری واورید او د څه شي ښکالو یې تر غوږه شوه. که ګورې چې یو وړوکی موږک ورته را نږدې کیږي. یو، بل ورپسې بل. ورو، ورو یې ونه بویوله او په څانګو یې ور ختل. یوه واړه موږک و ویل:

«دا ځای خو ډیر ښه ځای دی، خو افسوس چې ډیر سوړ دی! ته یې همداسې نه ګڼې د صنوبر زړې ونې؟»

د صنوبر ونې وویل:

«زه خو زړه نه یم، تر ما مشرانې ونې هم شته.»

موږکانو پوښتنه وکړه:

«ته له کوم ځای نه راغلې یې او دلته څه کوې؟

موږ ته و وایه چې د نړۍ تر ټولو ښکلی ځای چیرې دی، آیا ته کوم ځلې هلته وې؟ آیا تا داسې خوږنتون لیدلی دی چې هلته پنیرونه په الماریو کې ایښي وي، غوښې له چت نه ښکته راځړیږي او سړی په ګدا سره ډنګر ورننوزي او چاق بیرته ورنه راووزي؟»

ونې وویل:

«ما داسې ځای نه لیدلی او نه راته مالوم دی، خو ځنګل ښه پیژم، چیرې چې د لمر وړانګې په هر لوري خورې وي او الوتونکي سندرې وایي.»

بیا یې د خپلې ځوانۍ د دورې خاطرات هغوی ته وویلې. وړو موږکانو هیڅکله داسې شیان نه وو اوریدلي، ځکه یې په ډیرې مینې او پام سره غوږ ورته نیولی و. بیا موږکانو وویل:

«ډیر په زړه پورې شیان دې لیدلي دي! خامخا به هغه وخت ډیره خوشاله وې!»
د صنوبر ونې وویل:

«بلې!»

بیا یې د موږکانو د خبرو په باب فکر وکړ او وې ویل:

«هوکې! هغه ورځې په رښتیا سره چې ښې ورځې وې!»
بیا یې د کریسمس د شپې په باب هغوی ته کیسه وکړه چې په څانګو کې یې ډالۍ، خواږه او شمونه رازوړند کړي وو.

واړه موږک وویل:

«اوه! ته څومره نیکمرغه وې، زړې ضنوبرې!»

ونې وویل:

«زه خو زړه نه یم! زه په همدې ژمي کې له ځنګله نه راغلم! یوازې زما د بدن وده لږ سسته شوې ده!»

واړه موږک وویل:

«ته څه جالب او ښکلي داستانونه وایې!»

بله شپه وړوکی موږک له څلورو نورو موږکانو سره بیا راغلل څو د ونې کیسې واورې. د صنوبر ونه چې هر څومره د خپلو خاطراتو په باب غږیده، هغومره نور شیان هم وریادیدل او د نورو شیانو په باب یې فکر کاوه.

«په رښتیا هم ډیر ښه وختونه او خوشاله ورځې وې! کیدای شي چې بیا هغه ورځې راشي؟ «کلومپي ـ دومپي» له زینو ښکته راولوید او شهزادګۍ یې تر لاسه کړه، کیدای شي ما ته هم یوه شهزادګۍ را په برخه شي!»

د صنوبر ونه د یوې بلې وړې ونې په چورت کې لاړه چې په ځنګله کې، د دې په څنګ کې شنه شوې وه. دا وړه ښکلې ونه د صنوبر ونې له پاره یوه ریښتینې شهزادګۍ ښکاریده.
وړو موږکانو پوښتنه وکړه:

«دا «کلومپي ـ دومپي» بیا څوک دي؟»

د صنوبر ونې ټول داستان ورته بیان کړ. ونې کولای شول د هغه داستان هره کلمه په یاد کړي. موږک د داستان په اوریدو سره، له ډیرې خوشالۍ نه د ونې لوړو څانګو ته ورخیز کړل. بله شپه نور موږکان هم صنوبر ونې ته راغلل او د یکشنبې په ورځ دوې مږې (غټ موږک) هم له نورو موږکانو سره یو ځای صنوبر ونې ته راغلل، خو د ونې کیسه یې دومره خوښه نه شوه او په دې باندې واړه موږکان خواشیني شول. اوس د وړو موږکانو ته هم د صنوبر د ونې کیسه دومره په زړه پورې نه ده او چندان خوند نه ورکوي. مږو (غټو موږکانو) د صنوبر ونه وپوښتله:

«د تا یوازې یوه کیسه زده ده؟»

ونې په ځواب کې ورته وویل:

«هو، همدا یوه کیسه مې زده ده! او دا مې هم د خپل ژوند په تر ټولو ښه او خوشاله شپه اوریدلې ده، هغه وخت نه پوهیدم چې زه څومره نیکمرغه وم!»

موږکانو وویل:

«دا داستان له موده لویدلی او خراب دی، کوم داسې داستان چې د ډوډۍ د میز په باب وي، نه دې ده زده؟

ونې وویل:

«نه»

مږو (غټو موږکانو) وویل:

«سمه ده، مننه!»

او خپلو ملګرو ته ورغلل.

څو ورځې وروسته واړه موږکان هم له صنوبر ونې څخه ولاړل. ونې سوړ اسویلی وایست او وې ویل:

«کله به چې واړه موږکان شاو خوا را ته ناست وو او زه به ورته غږیدم، څومره ښه و، اوس هغه ورځې هم تیرې شوې. کله مې چې له دې ځایه وباسي، کیدای شي بیرته خوشاله شم.»
دا څه پیښ شول؟

یوه ورځ سهار مهال و، چې خلک راغلل او د خځلدانۍ توکي یې لاندې باندې کړل، لوی صندوقونه یې یوې خواته کړل، ونه یې له هغه ځایه راویسته او پر مځکه یې کلکه وغورځوله. یو تن راغی او ونه یې په کشولو سره له زینو څخه لاندې یوړله. رڼا ورځ وه، ونې له ځان سره فکر وکړ:

«لکه چې بیا ژوند له سره پیل کیږي!»

تازه هوا او د لمر لومړنۍ وړانګه یې احساس کړه. یوه شیبه وروسته بیا د حویلۍ په منځ کې پرته وه. دا هر څه په ډیره چټکتیا تر سره شول. د ونې شا و خوا ته د لیدلو له پاره هر څه نوي وو او دې هیر کړل چې د ځان په هکله فکر وکړي.

حویلۍ داسې وه لکه یو بڼ، بوټو او ونو غوټۍ کړې وې، سره ګلاب تازه او پر اوسپنیزو کټارو باندې را زوړند وو او ښه بوی ورنه جګیده، د ونو غوټۍ هم ډیرې ښې ښکاریدې، توتکۍ په هوا کې الوتلې او چقهارۍ یې کاوه.

ونې په ډیرې خوشالتیا سره وویل:

«بیا راژوندۍ او تازه کیږم!»

خپلې څانګې یې سره خلاصې کړې او وې غوړولې، خو په خواشینۍ سره چې ټولې څانګې زیړې او وچې شوې وې. ونه د حویلۍ په یوه څنډه کې د خسو او هرزه ګیاوو په منځ کې پرته وه او د نوي کال کاغذي زرین ستورۍ یې پر سر باندې لا بند و او د لمر تر وړانګو لاندې ځلیده.

هلته په حویلۍ کې څو بې پروا کوچنیان په خوشالۍ سره لوبې کولې. دا هماغه کوچنیان وو چې د کرسمس په شپه یې د همدې صنوبر ونې چارچاپیره ګډا کوله او د همدې ونې په پار یې خوښې او مستې کوله. د دې کوچنیانو له ډلې نه تر ټولو کوچنې منډې کړې، کاغذي زرین ستورۍ یې له څانګې څخه راوشکاوه او نورو ته یې غږ وکړ:

«وګورئ چې په دې بدرنګه او زړې ونې پورې څه شی نښتي دي!»

او دومره یې د ونې د څانګو د پاسه خینجتې ووهلې چې څانګې یې ټوټه ، ټوټه کړې. ونې د ګلانو بوټو او له غوټیو ډکو ونو ته کتل، بیا یې ځان ته وکتل او د زړه له کومې یې هیله وکړه چې کاشکې په هماغې تیاره خځلدانۍ کې پاتې وای.

ونې د خپلې ځوانۍ، په ځنګله کې د خپل ژوند، د نوي کال له خوښیو ډکې شپې او د وړو موږکانو په باب فکر کاوه چې څنګه هغوی د «کلومپي ـ دومپي» کیسې ته غوږ نیولی و.
بد مرغې ونې وویل:

«اوس ناوخته ده، کار له کاره تیر دی، کاشکې زه هم د ژوند په قدر پوه شوې وای او خوند مې ورنه اخیستی وای، افسوس چې هغه وخت تللی او اوس پښیماني کومه ګټه نه لري!

د کار عمله بیرته راغله او په یو تیره تبر سره یې ونه ټوټې، ټوټې کړه او د سون توکي یې ورنه جوړ کړل.
کله یې چې د ونې ټوټې په نغري او دیوالي بخارۍ کې کیښودې او اور یې ور واچاوه، لمبو یې کوټه روښانه کړه، نو صنوبر د زړه له تل څخه یو آه ویست. کوچنیان په منډه راغلل، اور ته کیناستل او ننداره یې کوله او ونې په جګ ترقهارې سره آهونه ویستل:

«پیف، پف، پوف!»

د اور له هر سپخنکي سره، چې د ونې آهونه وو، صنوبر ته د ځنګله د اوړي یوه ورځ او یا د ژمي د یوه شپه وریادیدله، هغه ستوري به ور په یاد کیدل چې د دې سر پورې به ځلیدل. هغې د کرسمس د شپې او «کلومپي ـ دومپي» د کیسې په باب فکر کاوه، د هغه یوازیني داستان په باب چې په ټول عمر یې یو ځل اوریدلی و او کولای یې شول چې بیا ځلې یې ووایي. په لږ وخت کې ټوله ونه وسوځیدله او په ایرو بدله شوه.

کوچنیانو لا په حویلی کې لوبې کولې او تر ټولو کشر یې د ونې هغه ستوری پر سینه ټومبلی و چې د نوي کال په شپه د صنوبر د ژوند په تر ټولو ښه شپه پر سر درلود.

ځنګه چې هغه شپه تیره شوه او د ونې ژوند پای ته ورسید، دا کیسه هم پای ته ورسیده. تیر، تیر دي، ټول داستانونه به یوه ورځ پای ته ورسیږي.

پای

منبع:

H.C.Andersen Eventyr, 2, 199 – 216 s, 1994, Odnsa, Denmark

د واورو سړی

(SNEMANDEN)

H.C. Andersen

د واورو سړي وویل:

«څومره ښه ساړه دي چې ما خرپوي او غچهاري مې جګیږي. دا داسې هوا ده چې انسان ته نوې سا ورکوي. هلته پاس یو سور اورنی موجود په عجیب ډول ما ته راګوري.»
د واورې د سړي موخه د لمر سور ګرد ټیکلی و چې ورو، ورو د لویدو په لور روان و.
د واورو سړي وویل:

«هر څه چې وکړي، زور یې پر ما نه رسیږي!»

د واورو د سړي د سترګو په ځای کې درې مثلث ډوله کودې ایښې وو او د غاښو او خولې په ځای کې یې یوه زړه اوسپنیزه شاخې ایښودل شوې وه. هغه د وړو هلکانو د خوشالۍ او شور په لړ کې زیږیدلی و او د لخچکونو ګړینګیو او د قمچینو شړقهارې ښه راغلاست ورته ویلی و. لمر ولوید او د څوارلسمې تکه سپینه، ګرده او ښکلې سپوږمۍ په شنه آسمان کې را جګه شوه.

د واورو سړي وویل:

«دا دی بیا له بلې خوا را ښکاره شو.»

د ده مقصد لمر و، ده فکر کاوه چې لمر بیا ځان را ښکاره کړ.

«اوس مې یې له کتلو سره ځان عادت کړ، راګورې دې، همالته دې را زوړند وې او ځلیږې دې، تر څو زه وکولای شم خپله شا و خوا وګورم. که زه پوهیدای چې څنګه له دې ځای نه حرکت وکړم، خامخا به مې دا کار کړی و. خوښیږې مې چې لاړ شم د هغو هلکانو په شان د یخ پر سر ځان وښویوم او تفریح وکړم، خو نه پوهیږم چې څنګه منډې وکړم.»

زاړه ساتونکي سپي وغپل:

لرې شئ!

لرې شئ!

د سپي غږ ناست و، هغسې یې چې زړه غوښتل، نه یې شوای کولای وغاپي. له کله نه چې د یوه کورنې سپي په څیر د بخارۍ په څنګ کې اوږد وغځیږي، غږ یې داسې شوی و.

سپي د واورو سړي ته وویل:

«لمر به تا ته منډې وهل درزده کړي! داسې به ویلې شې چې په خوب کې دې هم نه وې لیدلي! پروسږ کال ما همدا وضعیت، د واورو په هغه بل سړي باندې لیدلی و، له هغه پخوا مې د هغه بل باب هم لیدلی و!

لرې شئ!

لرې شئ!

او ټول لرې شئ!»

د واورو سړي وویل:

«انډیواله زه هیڅ نه پوهیږم چې ته څه وایې، هغه پاس شی ګورې، هغه باید ما ته منډې وهل زده کړي؟»

د واورو د سړي مقصد پاس په اسمان کې سپوږمۍ وه.

خو تړلي سپي ورته وویل:

«ته په څه نه پوهیږې، ستا ګناه نه ده، ځکه چې ته نوی جوړ شوی یې. دا څه چې ته پاس ګورې، دا سپوږمۍ نومیږي او هغه بل چې لاړ، هغه لمر و. لمر سبا بیرته راځي او تا ته به یې در وښیي چې څنګه لاړ شي په غوچوړي کې څملې. ډیر ژر به هوا بدله شي، زه همدا اوس هغه په خپله چپه پښه کې احساسوم چې پښه مې زوروي، هوا به ژر بدله شي.»

د واورو سړي له ځان سره ویلې:

«زه نه پوهیږم چې دا څه وایې؟ خو داسې یې ګڼم چې د کوم ناراموني شي په باب خبرې کوې؛ خو کولای شم دا احساس کړم: هغه ځلیدونکي غونډاري چې لمر یې ګاڼه او ما ته یې په ځیر سره کتل، هغه زما ملګری نه دی.»

ساتونکي سپي وغپل:

«لرې شئ،

لرې شئ!»

درې ځلې سره تاو شو او خپلې کوټنۍ ته ورننوت، تر څو ویده شي.

په هوا کې بدلون راغی. د سهارمخې ته یوې ټینګې درنې وریځې ټوله سیمه ونیوله، بیا ډیر سوړ باد پسې راوالوت. داسې بریښیده چې یخ د انسان هډوکي هم سړوي؛ خو کله چې لمر راوخوت، څه یوه پرتمینه ننداره رامنځ ته شوه:

ونې او بوټي، واورو او کنګل پوښلي وو، او د یوه مرغلین ځنګله په څیر ښاریده. داسې بریښیده چې هره څانګه له سپینو ځلیدونکو غوټیو ډکه وي، د څانګو هغه اندامونه چې په اوړي کې یې پاڼې پټوي، اوس ټول لغړ شوي وو، پنجه چنار ته ورته ونه ډیره ښکلې وه، ژوندۍ وه او باد، د نورو ونو په څیر داسې ښورواله لکه اوړی چې وي. کله به چې لمر ورباندې برابر شو، وبه ځلیده او د الماس په شان وړانګې به ورنه پورته کیدې.

یوه ځوانه جوړه (هلک ـ جلۍ) بڼ ته راغلل، غلي د واورین سري په څنګ کې ودریدل او په حیرانتیا یې کنګل شوو بلورینو ونو ته کتل. جلۍ وویل:

«داسې بیسارې ښکلا، اَن په اوړي کې هم څوک نه شي لیدلای.»

هلک هم همداسې ګڼله، دوی دواړه په بڼ کې، د واورین سړي له څنګه ولاړ وو، د پنجه چنار او نورو ونو ننداره یې کوله او سترګې یې بریښیدلې.

نارینه په لاس واورین سړي ته په اشارې سره وویل:

«دی ډیر عالي دی، خو دا ښه دوست به مو په اوړي کې نه وینو!»

جلۍ وخندل او د واورو سړي ته یې سر وښوراوه، دواړه د واورو پر سر وخوځیدل، واورو یې پښو لاندې داسې سغهاری کاوه، لکه زګیروي چې کوي.

د واورو سړي له سپي نه وپوښتل:

«دا دواړه څوک وو، تا خو په دې حویلۍ کې ډیره موده تیره کړې ده، ته هغوی پیژنې؟»
ساتونکي سپي په ځواب کې ورته وویل:

«ښه یې پیژنم، هغه یوه یې زه څو ځلې نازولی یم او دا بل یې هډوکي او غوښه را راوړي دي. زه دوی نه دارم. (نه په غاښ کوم)»

د واورو سړي بیا وپوښتل:

«کیدای شي لږ یې نور هم راوپیژنې؟»

«هغوی سره دوستان دي، یو بل ته ګران دي، کیدای شي نوی ژوند سره پیل کا.»

د واورو سړي بله پوښتنه وکړه:

«هغوی داسې موجودات دي لکه ما او تا، که څنګه؟»
سپي وویل:

«نه هغوی خانان او شتمن خلک دي. څنګه چې پرون زیږیدلی یې، باید په هیڅ شي هم خبر نه اوسې. زما عمر او مالومات ډیر دی، زه په دې ښه پوهیږم او د دې کور ټول غړي پیژنم. کولای شم هغه وختونه هم راپه یاد کړم چې: داسې نه وم لکه اوس چې په زنځیر تړلی یم، او تر واورو لاندې سړو ته پروت یم.

د واورو سړي وویل:

«ساړه خو ډیر ښه شی دي.

وغږیږه!

وغږیږه!

خو د خبرو کولو په وخت کې دې ځنځیر ډیر مه ښوروه چې شرنګ و پرونګ یې ما زوروي.»
سپي په غپا سره وویل:

«لرې شئ!

لرې شئ!

هغوی به ویل چې زه یو وړوکی ښکلی موجود یم. هغه وختونه به زه د یوه زاړه کوچ د پاسه اوږد غځیدم او د خان په کور کې دننه به ویده کیدم. هغوی به لاس راباندې تیراوه او نازولم به یې او غږ به یې را ته کاوه:

اې ښایستوکیه!

اې ګرانه!

خو کله چې غټ شوم، زه یې د کور تحویلدار ته وسپارلم او ځای مې تاخانې ته ورسید. همدلته چې ولاړ یې، کولای شې سر دې ور وړاندې کړې او زما پخوانۍ کوټه ووینې.

هوکې زه په ریښتیا د تحویلدار په کوټه کې داسې وم لکه خان، خو هغه ځای له پاسنۍ کوټې نه لږ کوچنی و، خو زه په کې آرامه وم او کوچنیانو به په غیږ کې دا خوا هغه خوا نه کشولم، خوراک څښاک مې له پخوا نه هم ښه شوی و. خپل ځانګړی بالښت مې درلود، یوه وړوکې بخارۍ مې هم درلود چې په داسې ساړه فصل کې ډیر ښه شی ګڼل کیږي. زه به د بخارۍ په اړخ کې پریوتم او کرار به اوږد وغځیدم، اوه! تر اوسه مې هم هغه بخارۍ هیره شوې نه ده.

لرې شئ!

لرې شئ!»

د واورو سړي وپوښتل:

«آیا بخارۍ په ریښتیا ښکلی شی دی؟

ما ته پاتې کیږي، که څنګه؟»

سپې ورته اوږده کړه:

«نه! بیخي تا ته نه پاتې کیږي، بس یوه تور کارغه ته ورته ده. غټه تنه او اوږده غاړه یې ده، وچ لرګي یې خوراک دي او له خولې نه اور راباسي، انسان یې باید په ځنګ یا اړخ کې کیني. همدلته چې ولاړ یې، کولای شې له کړکۍ نه دننه وګورې او وې ویني.

واورین سړي هغې خواته وکتل او یو ځلیدونکی شی یې ولید چې له برنجو نه جوړ دی او له ښکتنۍ برخې نه یې اور راوزي.

واورین سړي ته عجیب حالت پیدا شو، داسې یو حالت چې نه یې شوای کولای هغه توضیح کړي؛ خو ټول هغه کسان چې واورین نه دي، کولای شي دا حالت درک کړي او وې پیژني.

واورین سړي وپښتل:

«ولې دې هغه پریښود؟

ته ځنګه له داسې ښه ځای څخه لاس په سر شوې؟»

سپې ځواب ورکړ:

«مجبور شوم، هغوی زه له کور نه وایستم او دلته یې په ځنځیر وتړلم، ما د خان د واړه زوی پښه په غاښ کړې وه. کله چې ما هډوکی زدویه، هغه زما هډوکی په لغته و واهه او یوې خوا ته یې وغورځاوه. ما هم وویل چې: هډوکی د هډوکي په مقابل کې او د هغه پښه مې وداړله!

د همدې کار په خاطر، له هغه نه وروسته زه په دې ځنځیر وتړل شوم او خپل صاف غږ مې له لاسه ورکړ، ګوره غږ مې څنګه ټپ دی:

لرې شئ!

لرې شئ!

نه شم کولای لکه نور سپي خپل غږ وباسم.

لرې شئ!

لرې شئ!

دا هم زما کیسه!»

خو واورین سړي نور د سپي خبرې نه اوریدې، هغه په تلخونه کې د تحولدار کوټې ته کتل، هغې کوټې ته چیرې چې بخارۍ په خپلو څلورو اوسپنیزو پښو باندې ولاړه وه، داسې موجود لکه د واورین سړي په څیر.

واورین سړي له ځان سره وویل:

«په وجود کې مې څه ترق و تروق روان دی!

آیا کله به هغې کوټې ته ورننوزم که نه؟

دا زما لویه هیله ده او لویې هیلې تر سره کیدونکې دي.

زه باید ځان هغې کوټې ته ورسوم او په هغې ښکلې بخارۍ یو ځل ډډه ووهم، حتی که اړ شم کړکۍ به هم ماته کړم او له هغې لارې به ورننوزم.»

سپي وویل:

«ته هیڅکله نه شې کولای چې هغې کوټې ته ننوزې، ځکه چې که ته بخارۍ ته ورنږدې شې، ویلې کیږې. لرې شئ!»

واورین سړي ځواب ورکړ:

«زه هسې هم د کرښې په ورکیدو یم، زه یې داسې انګیرم چې سره ماتیږم.»

واورین سړی ټوله ورځ همالته ودرید او له کړکۍ نه یې دننه کوټې ته کتل. لمر لویده مهال کوټې بل ډول ښکلا پیدا کړه، له بخارۍ نه یوه رڼه شان وړانګه جګیده، داسې وړانګه چې نه لمر ته پاتې کیده او نه هم سپوږمۍ ته، بلکې دا د هغې بخارۍ ځلا وه چې نس یې ډک و، دهغې بخارۍ ځلا او رڼا چې د خوراک له پاره یې یو څه درلودل. کله چې د کوټې دروازه خلاصیده او پورې کیده، د بخارۍ له خولې نه به یوه لمبه راووته او دا عادت په ټولو بخاریانو کې شته. د بخارۍ د لمبې رڼا د واورین سړي پر سپنه څیره لویده، سر او ټټر به یې سور بخون کاوه.
واورین سړي وویل:

«نور یې نه شم زغملای، زړه مې بوټ راوزي، کله چې خپله ژبه دباندې راباسي، څومره ښکلې او زړه وړونکې ښکاري!»

هغه شپه ډیره سړه او اوږده وه، خو د واورین سړي له پاره دومره اوږده ځکه نه وه چې په هغو سړو کې یې بدن ترق و تروق کاوه او دی په خپلو ښکلو خیالاتو کې ډوب و.

سهار مهال د تلخونې کړکۍ کنګل شوې وې او داسې ښکلې او زړه وړونکې منظره یې پیدا کړې وه لکه کنګلې ګلان چې واورین سړي په ټول عمر کې نه وه لیدلې، خو کنګلې پردې بخارۍ له نظره پټه کړې وه او واورین سړي نه شو کولای خپله د خوښې وړ بخارۍ ووینې. د بخارۍ د لیدلو هیله یې په ټول وجود کې ښکته پورته کیده او له ټول بدن نه یې د ترق و تروق غږونه جګیدل، دا هماغه سړه هوا وه چې هر واورین سړی یې غواړي، خو ده خوند نه شو ورنه اخستلای، هغه چې یوې تودې او سړې بخارۍ ته مایل او پرې مین شوی و، څنګه یې کولای شول چې له داسې سړې هوا نه خوند واخلي.

سپي وویل:

«دا د یو واورین سړي له پاره بده او ناآرامونکې ناروغتیا ده. زه هم ورباندې اخته شوی وم، خو بیا ورو، ورو ښه شوم.

لرې شئ!

لرې شئ!»

له غپلو وروسته یې بیا زیاته کړه:

«هوا ژر بدلیږي»

همداسې هم وشول. هوا په تودیدو شوه او واورین سړی وړوکی او پسې وړوکی کیده او په پای کې یوه ورځ سهار نور هم ویلې شو او راولوید.

په هغه ځای کې چې دی پخوا ولاړ و، اوس هلته د خځلو لوښي ته ورته یو لوړ څه لیدل کیږي چې یو سر یې په مځکه کې خښ شوی و. دا هماغه لرگی و چې کوچنیانو د هغه په شاوخوا کې د واورین سړي تنه جوړه کړې وه چې ښه کلک ونیول شي.

د دې ننداري په لیدلو سره سپي وویل:

«اوه!

زه اوس پوه شوم چې هغه ولې غوښتل بخارئ ته ورشي. هلته چې کوم څه لیدل کیږي، هغه د بخارئ د پاکولو خځللوښی دی چې هغه یې د لرگي پر سر تړلی دی. زموږ واورین سړي د بخارئ د پاکولو یو خځللوښی په خپل ټټر کې درلود او همدا دلیل و چې هغه وهڅوي او څه یې په سر کې ور وگرځي.

ښه دا دور هم تیر شو، نور به هغه و نه رنځیږي.

لرې شئ!

لرې شئ!»

سپی غپیده او وړو نجونو په انگړ کې د پسرلي د راتگ بدلې ویلې:
نور هیڅ چا د واورو د سړي په باب فکر نه کاوه!

پای

H.C.ANDERSEN, EN EVENTYRLIG DIGTER,2004, 102—107 s

د غونځې ستن

(Stoppenålen)

H. C. Andersen

وه نه وه، د غونځې یوه ستن وه، چې ځان یې له ټولو ښه ګاڼه او په ټولو یې منلې وه چې دا د ګنډلو یوه ښه ستن ده.

یوه ورځ یې هغو ګوتو ته چې دا یې نیولې وه، وویل:

«ما ټینګه ونیسه، که پر مځکه ولویدم، نوره به مې پیدا نه شئ کړای! زه ډیره نازکه، ښایسته او ارزښتمنه یمه!»

ګوتو هغه نوره هم ټینګه کړه او وې ویل:

«مغروریږه مه!»

اوږد تار یې په ستن کې واچاوه، خو هیر یې شو چې د تار وروستۍ برخه غوټه کړي. ګوتو ستن د پخلنځي په یوه پسته څپلکه کې، چې څیرې شوې وه، ننه ایسته چې وې ګنډي، خو ستن ماته شوه.



د غونځې ستن وویل:

«ومې نه ویل چې زه ډیره ظریفه او نازکه یم، ماتیږم!»

میرمن چې ستن یې په لاس کې نیولې وه، وویل:

«دا ستن هیڅ په درد نه لګیږي.»

بیا یې د پخلنځي د جامو په لمن کې وټومبله.

ستن خوشاله شوه او له ځان سره یې وویل:

«څومره ښه، اوس زه د ټټر یو سنجاق شومه! پوهیدم. پوهیدمه چې آخر به داسې یو ځای او مقام ته ورسیږم، ځکه که څوک استعداد ولري، خامخا هغه ځای ته رسیږي، چې غواړي یې.»
ستنې وخندل:

«پوهیږمه چې هیڅ چا تر اوسه د غونځې د ستنې خندا نه ده لیدلې.»

ستنې د ښځې د پخلنځې په لمن کې ځان داسې ګاڼه لکه یوه شهزادګۍ چې په زرینه ګاډۍ کې ناسته وي، او په ویاړ سره شا و خوا ته ګوري.

ستنې په لمن کې له یوه سنجاق نه چې په څنګ کې یې ټومبلی و، پوښتنه وکړه:
«کولای شم له تاسو نه یوه پوښتنه وکړم؟

آیا ستاسو زرین یاست؟ بڼه خو دې ښه ښکاري، ښه وړوکی سر او ځان! هڅه وکړئ چې سر مو لږ غټ شي. تاسو پوهیږئ چې هر څوک سر لري، خو دا نیکمرغي هر چا ته نه ور په برخه کیږي چې آشپز یې په خپل ټټر کې وټومبي.»

څنګه چې ستن ډیره مغروره شوې وه، غاړه یې تازه کړه او خپل قد یې جګ کړ، په دې کار سره له لمنې نه د لوښو مینځلو غوړو او مردارو اوبو ته ولویده او آشپز هم هغه اوبه ایسته واړولې.

مغرورې ستنې له ځان سره وویل:

«هیڅ مهمه نه ده. زه یوه سفر ته ځمه، یوازینۍ هیله مې دا ده چې ورکه نه شم.»
خو هغه له هغه څه چې ډاریده، ورباندې راغلل او د ککړو اوبو یوې ویالې ته ور ولویده، نو له ځان سره یې وویل:

«سره له دې چې زه ډیره نازکه او ښکلې یم، خو ښه استعداد لرم، او دا خپله یو لوی نعمت دی!»

همالته یې سر په غرور سره جګ ونیو، هماغسې مغروره وه او له خپلو پوچو افکارو نه یې لاس نه ایسته. رنګارنګ شیان لکه: د لرګیو پرخچې، خس خاشاک، د ورځپاڼو ټوټې او ځینې نور شیان یې له څنګه تیریدل، د غونځې ستن له ځان سره وویل:

«ګوره چې دوی څه ډول روان دي، هغوی نه پوهیږي چې څه یو قیمتي شی یې په څنګ کې دی. له دې سره هم زه دلته په عزت او شان سره دلته دریږم. وګوره! څه یو ټوټه لرګی په تیریدو دی، خامخا د ځان په باب فکر کوي، پرته له ځانه، بل څه نه ویني.
عجیبه ده!

هغو خسپلو ته وګوره! څنګه خپل ځان پورې تاویږي!

ګوره دومره مه مغروریږه!

ښایي د ویالې د غاړې په تیرو باندې ولګیږې، بیا به حرکت نه شې کولای!

دا هم یوه ورځپاڼه چې زما په مخ کې روانه ده، خو زه دلته غلې او کلکه دریږم او صبر کوم، ځکه زه په خپل ارزښت پوهیږم او په هغه باور لرم!

یوه ورځ د غونځې ستنې څنګ ته یو ځلیدونکی شی ښکاره شو، د غونځې ستنې فکر وکړ چې دا کومه ټوټه الماس دی، ځکه یې ځان ورنږدې کړ او ځان یې ور وپیژاند. هغه ځلیدونکی شی د ماتې شیشې یوه ټوټه وه او د ستنې خبرو ته یې غوږ نیولی و.

د غونځې ستنې وویل:

«آیا تاسو الماس یاست؟»

د شیشې ټوټې وویل:

«هوکې، دغسې یو شی باید اوسم!»

هغوی دواړو یو بل ګران بیه وګڼل، دواړو د زړه خواله پیل کړه او د لیدلي غرور او ځانخوښونې په باب یې یو بل ته کیسې وکړلې.

د غونځې ستنې وویل:

«ما د هغې میرمنې په صندوقچه کې ژوند کاوه چې کار یې پخلی و. د هغې په هر لاس کې پنځه ګوتې وې، ما له هغو پنځو ګوتو نه پرته له ځانخوښونې بل څه و نه لیدل، د هغوی کار دا و چې ما له صندوقچې را وباسي او بیرته مې په کې کیږدي.»

د شیشې ټوټې پوښتنه وکړه:

«آیا هغوی کومه ځلا هم درلوده؟»

د غونځې ستنې وویل:

«نه هغوی ځلا نه درلوده. هغوی ډیر مغرور وو. هغوی پنځه ورونه وو چې په ډیر تکبر سره یو د بل په څنګ کې ولاړ وو، خو قدونه یې سره په توپیر کې وو.

لومړنۍ یې ګټه ګوته وه چې لنډه او چاقه وه او د نورو ګوتو له کتار نه لږ جلا وه. هغې په څټ کې یو بند درلود چې کولای شول چې قات شي. هغه ډیره مغروره وه او تل به یې ویل:

«که مې د کوم نارینه له لاس څخه غوڅه کړي، هغه نور نه شي کولای د عسکرۍ خدمت تر سره کړي.»

دویمه ګوته د شهادت یا اشارې ګوته وه چې ځان به یې په هر خواړه او تروش پورې سولاوه او یا به یې سپوږمۍ او لمر ته اشاره کوله او هغوی به یې ښودل او یا به یې د لیکلو په وخت کې قلم ټینګ نیوه.

دریمه یې منځوۍ ګوته وه چې تر ټولو ګوته اوږده وه او له پاس نه یې ګوتو ته کتل.
څلورمه ګوته د چلې ګوته وه چې تل به یې یوه زرینه کړۍ په ملا کې وه.

او وړه یا خچې ګوته چې هیڅ یې هم نه کول او په همدې خاطر مغروره وه. هغوی دومره ځانستاینه وکړه چې زه یې د لوښو میځلو په مردارو اوبو کې واچولم او زه ورکه شوم.»
د ماتې شیشې ټوټې وویل:

«او اوس زه او ته دلته ناست یو او ځلیږو.»

په همدې شیبه کې په ویالې کې اوبه راغلې، داسې اوبه چې د هغوی مخ یې وپوښه او شیشه یې لږ له ځان سره یوړه.

د غونځې ستنې وویل:

«هغه هم له دې ځای نه ولاړه، خو زه دلته پاتې کیږم؛ ځکه چې زه ډیره نازکه او ارزښتمنه یم.»

ستن هماغسې په غرور سره په خپل ځای باندې ناسته وه او په خپلو فکرونو کې ډوبه وه او سوچ یې کاوه:

«فکر کوم چې زه به د لمر له وړانګو پیدا شوې یم. داسې ښکاري چې هره ورځ لمر تر اوبو لاندې په ما پسې ګرځي، مګر په خواشینۍ سره چې زه دومره نازکه او ظریفه یم چې حتی مور مې هم و نه شوای کړای چې ما پیدا کړي.

آه! که مې سترګه له لاسه نه وای ورکړې، کولای مې شول چې وژاړم، خو نه! زه باید ونه ژاړم، ژړا د مهمو شیانو کار نه دی.»

یوه ورځ څو کوڅه ډب هلکان راغلل. هغوی له ویالې نه څو زنګ وهلي میخونه، څه وړې پیسې او څه نور ټک و پوک راجګول چې د یوه هلک په ګوته کې ستن وخلیده او چغې یې کړې:

«آخ! څه یو ملګری!»

د غونځې ستنې وویل:

«زه ستا ملګری نه یم، زه د غونځې ستن یم!»

خو چا د هغې خبرې وانه وریدې.

د ستنې رنګ تک تور اوښتی و او په دې توروالې کې دا ډیره ډنګره ښکاریده، په همدې دلیل هغې داسې فکر کاوه چې دا له پخوا نه ډیره نازکه او ظریفه شوې ده.

د هلکانو ور پام شو او وې ویل:

«ګورئ! د اوبو پر سر د هګیو پوستکی را روان دی.»
بیا یې د هګیو پوستکی راونیو او ستن یې په پوستکي کې ورننه ایسته.
ستنې وویل:

«په زړه پورې ده! سپین پوستکی له تورې ستنې سره څومره جالب ښکاري، اوس نو ټول ما وینې، هیله لرم چې نوره په اوبو کې ډوبه نه شم.»

او نور په اوبو کې کومه ستونځه ورته پیدا نه شوه. ستنې له ځان سره وویل:

«څوک چې په کښتۍ کې سپریږي، باید لوی زړه ولري، تر څو د سمندر له ستونزو او زړه بدوالي نه په امن کې پاتې شي. په دغسې حال کې بیا کولای شي ځان یو څه تر نورو ښه وګڼي.»
او بیا یې پسې وغځوله:

«زه له داسې یو فکر سره، هیڅکله په اوبو کې له ستونزو سره نه مخ کیږم، ځکه چې:
هر څومره چې یو څوک نازک او ظریف وي، هغومره کولای شي د سمندري سفر ستونزې وزغمي.»

په همدې شیبه کې یې پر سر یوه عرابه تیره شوه او تق شو د هګۍ پوستکی مات شو. ستنې وویل:

«آخ! څومره دروند و، وګوره څنګه یې زما کشتۍ ماته، ماته کړه. اوس به بیا په اوبو کې ستونزه راته پیدا شي، دا دی ماتیږم او له منځه ځم.»

خو سره له دې چې یو دروند ټیر یې پر سر تیر شوی و، هغه ماته نه شوه او په اوبو کې هم کومه ستونزه ورته پیښه نه شوه، یوازې پر مځکه اوږده وغځیده، البته د تل له پاره.

پای

منبع:

H.C.Andersen Eventyr, 2, 305 –312 s, 1994, Odnsa, Denmark

سیوری

(SKYGGEN)

H. C. Andersen

په ګرمسیرو(تودو) هیوادونو کې هوا دومره توده او لمر دومر سوزنده دی چې د خلکو پوستکی یې، غنم رنګی یا قهوې ته ورته وي او تر دې نه هم په تودو هیوادونو کې لمر داسې سوزنده وي چې د خلکو پوستکی د تورپوستو په څیر تک تور اړوي.

کله له کوم ساړه هیواد نه کوم څیړونکی دانشمند یوې تودې سیمې ته لاړ. هغه داسې انګیرلې وه چې لکه خپل هیواد غوندې هر کله دی کولای شي له کوره په چکر ووزي، خو کله چې هلته ورسید، پوه شو چې د ده انګیرنه سمه نه ده او اړ شو چې لکه نور هوښیار خلک د ورځې له خوا د باندې ونه وزي او په کور کې پاتې شي.

هلته به ورځ دومره توده وه چې خلک اړ وو چې تر مځکې لاندې یو پناځې ته ننوزي. ټوله ورځ به کړکۍ او دروازې تړلې وې، داسې چې فکر کیده دا کورونه ټول ویده دي یا دا چې دلته هیڅ کورونه نه شته.

په هغې کوڅې کې چې ځیړونکی اوسیده، هغه کوڅه ډیره سوروره وه او لمر به د هغې کوڅې مځکه او دیوالونه داسې سوزنده تودول، چې ده فکر کاوه چې په کوم داش کې ناست دی.
څنګه چې دانشمند سړی له یوه ساړه وطن نه راغلی و، نو د ده له پاره د هغه ځای تودوخه د زغملو وړ نه وه، دانشمند ناروغه شو، داسې ډنګر شو چې سیوری یې هم لا وړوکی او ډنګر شو.

د لمر په جګیدو سره به، د ده سیوری وړوکی کیده او د لمر په کیناستو په سیوری پسې اوږدیده.

دې جریان ته به چې دانشمند کتل، خوند به یې ورکاوه چې سیوری څنګه وړوکی او غټیږي. کله به چې سالون کې رڼا راولویده، سیوری به دیوال ته وخوت ځان به یې اوږداوه او بیا به پاس چت ته جګ شو.

کله به دانشمند برنډې ته ووت، د ځان شخې به یې ایستله، پاس په اسمان کې ستوري ځلیدل، ده به ښه هوا واخیسته او داسې به تازه شو لکه بیرته چې راژوندی شوی وي. په دې کوڅه کې د نورو خلکو هم د ده غوندې برنډې وې او په برنډو کې به یې تازه هوا اخیسته، خو هغوی ځایې اوسیدونکي وو، له دې هوا سره بلد وو او د بدن پوستکو یې قهویي رنګ درلود. دې کارونو داسې ښودله چې دلته حرکت او ژوند شته.

له لمر لیدو نه وروسته هره ورځ په ښار کې د خلکو ګڼه ګوڼه ډیریده. موچیانو، ګنډونکیو، بقالانو خپل دوکانونه پرانستل او خلک به هم د خپلو اړتیا وړ توکو د اخیستو له پاره د باندې راوتل. چا به له خپلو دوستانو سره خبرې کولې، جا به بدلې ویلې، چا به خپله سودا کوله. ګاډۍ به خوځیدې، اوښان به د ښار له کوڅو تیریدل او ګړینګیو به یې غږونه کول. خلاصه ښار به را ویښیده او ژوندی کیده، خوځیدل او هڅې به پیل کیدلې.

د ځیرونکي دانشمند کور ته مخامخ کور سره له دې چې تش نه و، خو له لمر لویدو نه وروسته هم کوم حرکت او خوښي نه پکې لیدل کیده او تل به چوپتیا په کې حاکمه وه.

په برنده کې یې ښایسته ګلان ایښودل شوي وو. دا په دې مانا چې دلته څوک شته چې دې ګلانو ته اوبه ورکوي او پالي یې، که نه ګلان وچیدل.د انګړ ځواته کړکۍ به د شپې له خوا پرانستل کیده، خو کوټه به تل تیاره وه او یوازې د موسیقي زړه وړونکی غږ ورنه اوریدل کیده. د ځیرونکي دانشمند له نظره دا موسیقي ډیره ښه او پرته له نیمګړتیا وه. هغه به ویل:

«د دې هیواد ټول شیان حیرانونکي، عجیب او د ستایلو وړ وو، نه ویل کیږي چې دا موزیک هم د کوم فکر او خیال زیږنده وي»

هلته هر څه ښه و، خو یوازې لمر یې سوزنده او زورونکی و. دانشمند سره ډیرې پوښتنې پیدا شوې وې او کنجکاو شوی و. یوه ورځ یې د کور له خاوند څخه، د هغه مرموز کور په باب ځینې پوښتنې وکړې، خو د کور خاوند هم له ده زیات په څه شي نه پوهیده. نه د هغه کور د اوسیدونکو نومونه ورمالوم وو او نه یې څوک هلته لیدلي وو. حتی د موسیقي هغه غږ چې له هغه کور نه اوریدل کیده، ده ډیر ستړی کونکی ګاڼه او ویل به یې داسې بریښي چې څوک د زدکړې له پاره کومه ټوټه موسیقي غږوي او پر له پسې یې بیا، بیا تکراروي، خو نه شي کولای چې زده یې کړي، عجیبه لویه حوصله لري!

یوه شپه دانشمند له خوبه اوچته راجګ شو، یوه عجیبه رڼا یې ولیده چې له مخامخ کور نه د ده په لوري ځلیده. د هغوی په برنده کې چې کوم ګلان ایښي وو، د اور لمبو غوندې یې رڼا کوله او د ګلانو په منځ کې یوه ښکلې جلۍ ولاړه وه.

ځیرونکي د خوب له تخت نه را ښکته شو او د کړکۍ په لوري ولاړ. پرده یې یوې خوا ته کش کړه، څو مخامخ کور ښه ولیدلای شي؛ خو کله چې کړکۍ ته را ورسید، ناڅاپه یې هغه لیدلې منظره له سترګو ورکه شوه. د هغه کور کړکۍ چې د برندې په لوري وه، هماغسې خلاصه وه او د موسیقي غږ اوریدل کیده.

ځیرونکي فکر وکړ چې ښایي کوم سحر او جادو به وي، په دې کور کې څوک اوسیدل؟ له کومې لارې کور ته ننوتل؟ د کور په لاندنې پوړ کې څو دکانونه و او داسې لار یا زینه نه لیدل کیده چې پاس دې ختلې وي.

بله شپه دانشمند د خپل کور په برنده کې ناست و چې، شاتنۍ کوټه کې یې یوه شمعه بله وه، د ده سیوری د ګاونډي پر دیواله ور لویدلی و. سیوری د مخامخ کور د ګلانو په منځ کې ور برابر شوی و او د ځیرونکي د هرې خوځیدا پیښې یې کولې.
دانشمند له ځان سره وویل:

«فکر کوم چې پرته زما له سیوري نه بل څوک نه شي کولای هغه کور ته ورننوزي، ګوره څومره په ډاډ او درناوي سره د ګلانو په منځ او کړکۍ کې ناست دی! یوازې دی کولای شي

یوه شي چې په هغه کور کې څه خبرې دي.»

بیا یې مخ سیوري ته ورواړاوه او په ټوکو یې ورته وویل:

«اوس دې کمال وښیه چې څه دې له لاسه کیږي، هغه کور ته ورننوزه او وګوره چې هلته څه روان دي!»

بیا یې په سر سیورې ته اشاره وکړه او سیوري هم ده غوندې سر وښوراوه. دانشمند وویل:

«ورشه، خو ډیر ځنډ و نه کړې!»

له دې خبرو وروسته، دانشمند له خپل ځای نه جګ شو، سیوری هم په مخامخ برنډه کې له خپل ځای څخه جګ شو. دانشمند سیوري ته شا واړوله او سیوري هم ده ته خپله شا واړوله. که څوک هلته وای، لیدلي به یې وو چې کله څ دانشمند خپلې کوټې ته ننوت او کړکۍ یې وتړله، سیوری هم د ودانۍ له نیمکښې کړکۍ نه کور ته ورننوت.

سبا ورځ دانشمند د ورځپاڼې د لوستلو او کافي چیکلو له پاره له کوره ووت، خو ناڅاپه یې غږ کړ او له ځان سره یې وویل:

«زما سیوری چیرې؟ نه ویل کیږي زما سیوری په مخامخ کور کې نه وي پاتې، یا پاکه ربه، دا خو ډیره خواشینونکې ده!»

دانشمند د دې پیښې په خاطر ډیر په قهر او نا ارامه شو، نه د دې له پاره چې سیوری یې ورک دی، بلکې په دې خاطر چې دی هم لکه د سړو سیمو ټول خلک، له هغه داستان نه خبر و چې یو سړي خپل سیوری ورک کړی و. دی پوهیده کله چې بیرته وطن ته ستون شي، او د خپل سیوري د ورکیدو کیسه خلکو ته ووایي، خلک به یې په ادبي غلا تورن کړي او د ده پر ځان نه لوریده چې داسې سپک شي؛ بیا یې هوډ وکړ چې په دې هکله به چا ته څه نه وایي او همداسې یې وکړل، هغه هیڅ چا ته ونه ویل چې خپل سیوری یې ورک کړی دی.

کله چې بیا شپه شوه، دانشمند د خپل کور برنډې ته لاړ، شمعه یې چې لا مخکې لګولې وه، شا ته یې کېښوده، چې خپل سیوری په مخامخ برنډه کې وګوري؛ خو چې هر څومر، ښورید ټیټ او پاس شو او لاس پښې یې وښورول، سیوری یې تر سترګو نه شو.

دانشمند د خپل سیوري له ورکیدو او بیلتونه نه ډیر په قهر او خواشینی و، خو د تودو سیمو ښیګڼه دا ده چې هر شی چې هلته مړاوي یا وچ شي، بیا له ریښې او بیخ نه بیرته راشنه کیږي او په لنډ وخت کې وده کوي.

له دې پېښې نه اته ورځې نه وې تیرې چې په خوښۍ سره یې پام شو چې کله تر لمر لاندې روان وي، تر پښو لاندې یې یو نوی وړکی سیوری منډې وهي.

مالومداره وه چې د سیوري ریښه نه وه وچه شوې. درې اونۍ وروسته دانشمند یو بشپړ سیوری درلود او کله چې خپل هېواد ته ستون شو، سیوري دومره وده کړې وه چې دانشمند باور نه شو کولای، هغه خو یې په نیمایي باندې هم قناعت درلود.

وروسته له هغه چې دانشمند خپل هېواد ته ستون شو، د نړۍ د ښکلا او حقیقت په باب یې ډېر کتابونه ولیکل او د چاپ او خپریدو له پاره یې کلونه، کلونه خوارۍ وکړې.

یوه شپه یوازې په خپله کوټه کې ناست و او مطالعه یې کوله چې ناڅاپه ور وټکید. دانشمند وویل:

«راځئ، دننه راشئ!»

خو څوک رانغلل. دانشمند پاڅیده، د وره خواته ولاړ او هغه یې خلاص کړ. د دروازې شا ته یو جګ قدی، ډنګر سړی ولاړ و چې ښکلې او قیمتي جامې یې په تن وې. نا اشنا سړی ډېر استواره او دروند ښکاریده.

دانشمند پوښتنه ورنه وکړه:

«له چا سره د مخامخ کیدو ویاړ لرم؟»

راغلي سړي په ځواب کې وویل:

«ما انګیرله چې تاسو به مې پیژنئ. زه اوس خپله ځان ته یو شی یم، ما کالبد، غوښه او پوستکی پیدا کړی او جامې مې اغوستې دي. تاسو خپل پخوانی سیوری نه پیژنئ؟

تاسو فکر کاوه چې یوه ورځ به بیرته تاسو ته راوګرځم؟

کله چې له تاسو نه بیل شوم، د ښه چانس له مخې د شتمنۍ، کور او ژوند خاوند شوم او اوس کولای شم خپله آزادي له تاسو نه په بیه واخلم.»

سیوري د غږیدا په ترڅ کې، په خپلو نازکو ګوتو سره د خپل جیبي ساعت له زرین ځنځیر سره ـ چې د جامو له جیب نه یې را ځړیدلی وـ لوبې کولې او هغه یې شرنګاوه. په لاس کې یې قیمتي ګوتې ځلیدلې.

دانشمند وویل:

«هیڅ پوه نه شوم! یعنې څه؟»

سیوري وویل:

«څه شی چې ګورئ، ډیر عجیب او غیر عادي دي او تاسو پوهیږئ چې تاسو په خپله هم یو غیر عادي انسان یاست. تاسو پوهیږئ چې زه د زیږیدو له ورځې، قدم په قدم له تاسو سره، په تاسو پسې وم او په ځیر سره مې ستاسو د ټولو حرکاتو او ځوځیدا تقلید کړی دی، څنګه چې اوس ګورئ، کولای شم په یوازیتوب سره ځان اداره کړم او په ژوند کې خپله لار پیدا کړم او وړاندې ولاړ شم. ښایي همدا دلیل به و چې تاسو زه ازاد کړم.

اوس زه یو بریالی سړی یم او یو شخصیت مې تر لاسه کړی دی. په دې وروستیو کې مې ډیر زړه غوښتل چې بیا تاسو ووینم، ځکه مې هوډ وکړ چې:

مخکې تر دې چې تاسو له دې نړۍ څخه ولاړ شئ، ستاسو لیدلو ته راشم؛ هم تاسو ووینم او هم مې وطن او د زیږیدو ځای.

تاسو پوهیږئ چې وطن پر انسان ډیر ګران وي، هر چیرې چې وي، حتی که ډیر ښه او آرامه ژوند هم ولري، بیا یې هم د وطن د لیدلو شوق ور سره وي او نه یې هیریږي.

خبر شوی یم چې تاسو بل سیوری پیدا کړی دی او ما ته نوره اړتیا نه لرئ، له دې ټولو سره زه هیله کوم را ته ووایاست چې زه د خپلې ازادۍ له پاره باید څومره مبلغ ورکړم؟»

دانشمند وویل:

«په ریښتیا دا ته یې؟

ډیره عجیبه ده! ه

هیڅ مې فکر نه کاوه چې یوه ورځ به مې پخوانی سیوری غوښې، هډوکې او پوستکی پیدا کوي او بیا به د یو بشپړ انسان په بڼه بیرته ما ته را راځي.»

سیوري وویل:

«بیا هم هیله کوم ووایاست: په څومره قیمت سره ما ازادولای شئ؟

نه غواړم په دې نړۍ کې د چا پوروړی واوسم!»

دانشمند وویل:

«پوروړی یعنې څه؟

زه ستاسو په بریالیتوب او روغتیا باندې خوشاله یم. پخوانیه ملګریه، راځه کینه، را ته ووایه چې په هغه تاوده ملک کې دې، هغه شپه په هغې کوټې کې څه ولیدل؟»

سیوري وویل:

«ډیر ښه، اوس به یې درته ووایم، خو په دې شرط چې په دې ښار کې به یې چا ته نه وایې چې زه پخوا ستا سیوری وم، ځکه چې ما پریکړه کړیده چې واده وکړم، زه دومره شته لرم چې اوس کولای شم ځانته کورنۍ جوړه کړم!»

دانشمند وویل:

«ډاډه اوسه، ژبه کوم چې چا ته به نه وایم.»

وروسته له دې خبرو سیوری په غرور او ځانښودنې سره کېناست، د دې له پاره چې دانشمند ته خپل قیمتي چرمي بوټان وښیي، خپلې پښې یې د دانشمند پر نوې سیوري ور کیښودې او نوی سیوری چې د هغه په مخ کې د سپې غوندې د پښو پر سر غلی ناست و او په ډیر ځیر سره یې غوښتل پوه شي چې د دوی له خبرو نه څه ډول پایله راوزي او پخوانی سیوری غواړي څه ډول ځان ازاد کړي.

سیوري وویل:

«کولای شې اټکل وکړې چې په هغه کور کې څوک و؟
هلته د یوې ښکلې او با عزته نجلۍ کور و چې شعر نومیده او زه درې اونۍ هلته پاتې شوم. دا درې اونۍ ما ته داسې وې لکه درې زره کلونه مې چې ژوند کړی وي. هلته مې ډیر شعرونه ولوستل او له یاده مې کړل او وتوانیدم هر څه ووینم او ورباندې پوه شم.

دانشمند چغې کړې:

«شعر!

هوکې ته رېښتیا وایې. هغه په ښارونو کې د یوه څنګ ناستې (ګوشه نشین) په ډول ځان را څرګندوي. ما یوازې یو ځل، د یوې شیبې له پاره لیدلې، هغه هم هغه مهال چې خوب مې سترګې راپټولې، هغه د خپل کور په انګړ کې د سپیده داغ په شان ځلیدله! ښه اوس به یې پاتې کیسه ته وکړې، کله چې له دروازې نه هغې کوټې ته ور ننوتې، څه دې وکړل؟»

سیوري وویل:

«کله چې کور ته ورننوتم، ځان مې په یو سر پټې ځای کې احساس کړ، هیڅ ډول رڼا نه وه، هلته لکه ماښام نیمه تیاره وه، خو ډیر ژر مې سترګې د سر پټې ځای په دوو خواوو کې، په هغو کوټو ولګیدې چې دروازې یې خلاصې وې او په څنګ کې یې یوه سالون ډوله کوټه وه چې لږ روښانه وه»

دانشمند د سیوري د خبرو په منځ کې ور ولوید او وې ویل:

«ښه ودې نه ویل چې هلته دې څه ولیدل؟»

سیوري وویل:

«ومې ویل هلته هر څه چې وو، ټول مې ولیدل، خو تاسو نه یوه هیله کوم، هغه دا چې نور ما ته د «ته» خطاب مه کوئ!»

دانشمند وویل:

«زه له تاسو نه ښښنه غواړم، د پخواني دود له مخې مې تاسو ته د «ته» خطاب وکړ، نه د بې پروایئ او ټیټ شمیرنې له مخې! تاسو حق په جانب یاست. اوس وواياست چې هلته مو څه ولیدل!»

سیوري وویل:

«ومې ویل چې ټول شیان، هوکې ما هلته ټول شیان ولیدل او ومې پیژندل!»
دانشمند وویل:

«د هغه کور تالارونه څنګه وو؟ هغه کوم شنه او تاند ځنګله ته یا کومې سپیڅلې کلیسا ته او یا له ستورو ډک کومه شنه اسمان ته نه پاتې کیدل؟»

سیوري وویل:

«سره له دې چې زه تالارونو ته ور دننه نه شوم، خو له سر پټې ځای نه مې ولیدل، ټول دغه شیان چې تاسو یاد کړل، هغوی ته پاتې کیدل. که تاسو هغه کور ته ورننوتې وای، نه مو شوای کولای چې ما غوندې غټ سړی شئ، خو زه غټ سړی شوم. ما هلته وکولای شول چې خپل پټ استعداد کشف کړم او ومې شول کولای چې په دې پوه شم چې څومره له شعر سره مینه لرم، مګر هغه وخت چې په تاسو پسې وم، په دې هکله په هیڅ هم نه پوهیدم.

زه به د لمر ختو او لمر پریوتو په وخت کې له تاسو نه ډیر غټیدلم او کله به چې سپوږمۍ وه، هم به له تاسو نه غټ ښکاریدم؛ خو هغه وخت ما ځان نه پیژانده. هغه ورځ چې تاسو له ځان نه لرې کړم، بیخي غټ شوم. زه مو په ناڅاپي ډول لوڅ لپړ پریښودم او ما ته مو شا کړه او په خپله مخه ولاړئ؛ کله مې چې ځان په هغه حالت ولید، په رښتیا ډیر وشرمیدم.

زه جامو، بوټانو، خولۍ او نورو ټولو هغو شیانو ته چې یو انسان اړتیا لري، اړ وم. ډیر ځلې به مې ځان له خلکو پټاوه. البته تاسو ژمنه کړیده چې دا خبرې چې تاسو اورئ، نه به یې چا ته وایئ او نه به یې چیرې لیکئ او نه به یې چاپوئ.

ډیر ځلې به د ورځې له خوا پټیدلم او د شپې له خوا به د سپوږمۍ رڼا ته په کوڅو کې ګرځیدلم، پر دیوالونو به ختلم او بیرته به راښکته کیدلم او له کړکیو نه به مې کورونو ته ورکتل. ما داسې څه ولیدل چې هغه چا نه شوای لیدلی. ما په نارینه وو کې، په ښځو او ګلالیو ماشومانو کې داسې شیان ولیدل چې اټکل یې هم نه شې کیدلای، ما کولای شول چې راتلونکې هم ووینم.

هر ښار ته به چې رسیدم، خلک به له ما نه تښتیدل، البته هغوی به هم له مانه ډاریدل او هم یې خوښیوم. د خپلو ډیرو زدکړو تجربې په پار به استادانو او پوهانو د خپل استاد په توګه ومنلم، خیاطانو به جامې را ته ګنډلې، اوس څو جوړې ډیر ښه کالي لرم. د بانک رئیس، د سرو زرو ډیرې سکې راته راوړې. هوکې، په دې ډول و چې زه دې بڼې ته را واوښتم.

له دې ټولو سره، سره، زه ستاسو منندوی یم. دا هم زما پته! لمر ته نږدې زما کور دی، د اوریها په ورځو کولای شئ ما په کور کې وګورئ!»

د دې خبرو له ویلو نه وروسته سیوری جګ شو او له دانشمند څخه رخصت شو.
سیوری یو کال وروسته بیا د دانشمند پوښتنې ته راغی.

دانشمند په قهر سره وویل:

«هر څه چې د ښیګڼو او ښکلاوو په باب لیکم، لږ پاتې دی چې نا هیلی شم.»

سیوري وویل:

«تاسو تیروتنه کوئ! وګورئ زه څومره چاق او تندرسته شوی یم. زه تاسو ته وړاندیز کوم چې یو بل سفر وکړئ. زه هم غواړم په اوړي کې په سفر ولاړ شم. که مو خوښه وي، کولای شئ زما د سیوري په ډول له ما سره ولاړ شئ، زه به ډیر خوشاله شم چې د سفر یو ملګری ولرم،! حتی کولای شم ستاسو د سفر مصارف هم پریکړم.

دانشمند وویل:

«ورو! تاسو ډیره لویه نیولې ده.»

سیوری له خپل ځای نه جګ شو او وې ویل:

«هو! ژوند همداسې دی!

تل همداسې و او تل به همدا شان وي. تاسو سره ژمنه کوم چې دا سفر به تاسو ته ډیر ګټور وي. که مو خوښه وه چې زما سیوری شئ، ما خبر کړئ!

سیوري دانشمند پریښود او د باندې ووت. دانشمند ورځ تر بلې ستړی او مړاوی کیده. حال یې ورځ په ورځ خرابیده. خبرو او لیکنو ته یې چا پام نه کاوه، خلکو به ورته ویل:

«تاسو داسې شوي یاست لکه سیوری!»

او دی به د دې خبرو په اوریدو سره ریږدیده.

سیوری یو ځل بیا د دانشمند لیدلو ته راغی او وې ویل:

«ستاسو د ستړیا او ناروغی چاره، د سمندر په څنډه کې د تودو اوبو چینې دي. زما هم ویښتان تویږي، دا زما ستونزه ده او غواړم هلته ولاړ شم! راشئ چې زه مو د سفر خرڅ درکړم او تاسو زموږ د سفر څرنګوالی ولیکئ. دا به زموږ دواړو له پاره یوه ښه بوختتیا وي. راځئ د تیر په شان لکه دوه یو زړي دوستان په سفر ولاړ شو.»

بالاخره دانشمند راضي شو، د سفر وسایل یې سره برابر کړل او تودو اوبو او د سمندر څنډې پر لوري وخوځیدل، خو دا ځل سیوری مشر لاربښود او دانشمند سیوری و.

هر چیرې سره یو ځای وو، د لمر تر رڼا لاندې، یو مخکې او بل ورپسې روان وو، خو هیڅکله نه سره بیلیدل. سیوری ډیر ښه پوهیده چې څنګه د خپل پخواني خاوند ځای خپل کړي. څنګه چې دانشمند د یو مهربانه زړه خاوند و، ځکه راضی و او د خپل پخواني سیوري له غوښتنو څخه نه خوابدی کیده.

یوه ورځ دانشمند سیوري ته وویل:

«موږ تل سره یو ځای وو او یو ځای سره لوی شوو، اوس بیا له کلونو، کلونو وروسته سره یو ځای او دوستان شولو او همسفره هم یو؛ تاسو خو به مخالفت نه لرئ چې وروسته له دې تشریفات یوې خواته کړو او په دوستانه فضا کې یو بل ته د «ته» خطاب وکړو؟»

سیوري چې اوس د دانشمند د بادار حیثیت درلود، وویل:

«تاسو ډیر ساده او بې ریا خبرې کوئ، زه هم غواړم خپل نظر په ډاګه ووایم:

تاسو یو پوه سړی یاست او پوهیږئ چې نړۍ له عجایبو ډکه ده. داسې خلک شته چې که په یوه خړه پاڼه لاس ووهي، ناروغه کیږي او داسې کسان هم شته دي چې که یوه کوکه په یوې شیشې او یا تیږې وټکول شي، نارامه کیږي؛ زه هم په دې نه خوابدی کیږم چې څوک د«ته» خطاب را ته وکړي. دا توری ما وړوکی او ذلیلوي او هغه ورځې را په یادوي چې له تا سره وم.

له دې سره بیا هم زه حاضر یم چې وروسته له دې ستاسو د خوښۍ له پاره، تاسو ته د «ته» خطاب وکړم، په دې ډول به ستاسو نیمې غوښتنې ترسره کړم.

له هغې ورځې نه وروسته سیوري خپل پخواني څښتن ته «ته» غږ کاوه، خو دانشمند اړ و چې سیوري ته د «تاسو» توری وکاروي.

کله چې هغوی دواړه د تودو اوبو چینو ته ورسیدل، له نورو خلکو سره مخامخ شول چې له نورو هېوادونو څخه راغلي وو. د هغوی په ډله کې یوه شهزادګۍ هم وه چې له یو ډول ناروغۍ څخه رنځیدله. هغې کولای شول هر څه وګوري، کله چې شهزادګۍ سیوری ولید، په خپل درد پوه شوه او خپلو ملګرو ته یې وویل:

«دا سړی وایي چې د ویښتانو د تویدو د مخنیوي له پاره دلته راغلی دی، خو دی دروغ وایي، د ده نیمګړتیا د سیوري نه درلودل دي، غواړي خپل سیوری پیدا کړي!»

یوه ورځ شهزادګۍ د قدم وهلو په ترڅ کې له سیوري سره مخامخ شوه.

د ځیرتیا (کنجکاوي) له مخې یې له سیوري سره خبرې پیل کړې. څنګه چې تعارف یې نه خوښیده، پرته له مقدمې یې سیوري ته وویل:

«ستاسو اصلي ستونزه دا ده چې نه شئ کولای ځانته سیوری پیدا کړئ!»

سیوري یې په ځواب کې وویل:

«ډیر خوشاله یم چې شهزادګۍ خپله روغتیا بیا موندلې ده. فکر کوم چې ستاسو ناروغي د هر څه او هر چا د واقعیتونو لیدل وو، له خدا نه منندوی یم چې تاسو روغه شوې یاست. ستاسو پام نه دی شوی چې زه سیوری لرم، هغه هم یو ډیر عالي او بې نظیره سیوری! دا سړی چې وینئ، تل په ما پسې وي، همدا مې سیوری دی. البته زما غوندې د یو چا سیوری نه شي کیدای چې عادي او بې ارزښتنه سیوری وي، د همدې دلیل له مخې مې هغه ته ځانګړي او ګرانبیه کالي ور اغوستي، شخصیت مې ورکړی او د نورو خلکو په څیر مې سمبال کړی دی، حتی یو سیوری مې هم ورته برابر کړی دی. زما خوښیږی، هغه څه چې نور یې نه لري، زه یې ولرم او د دې کار د تر سره کیدو له پاره هر مبلغ چې وي، لګولی یې شم!»

شهزادګۍ له ځان سره وویل:

«څنګه؟ یعنې زه ښه شوې یم؟

چې داسې ده، نو ریښتیا د دې ځای تودې اوبه روغتیا ښښونکې دي. بې ځایه نه ده چې د دې ځای حمامونه دومره مشهور شوي دي. که زما صحت ښه شوی هم وي، له دې ځای نه چیرې نه ځم. دلته زه خوشاله یم، زړه مې خلاص او خوشاله کیږی او غمونه مې هیروم.

دلته هر څه شته دي او ښه هم دي، که زه روغه شوي واوسم، بیا نو ما د دې سړي په برخه کې تیروتنه کړې ده چې د هغه اصلي ستونزه د ویښتانو تویدل دي!»

د همدې ورځې په ماخوستن کې د ګډا په لوی سالون کې سیوري او شاهزادګۍ سره ګډیدل.

شهزادګۍ سپکه (کم وزنه) وه، خو سیوری تر شهزادګۍ هم سپک (کم وزنه) و. شهزادګۍ هیڅکله داسې ګډا نه وه لیدلې.

شهزادګۍ سیوري ته وویل چې له کوم ځای نه دلته راغلی دی، خو سیوری په ټولو شیانو پوهیده او شهزادګۍ یې پیژندله، ځکه چې هغه یې د کور د کړکۍ له شانه لیدلې وه. سیوری د هغو شیانو په باب غږیده چې په اوریدلو سره یې شهزادګۍ هکه پکه پاتې کیده.

په لږ وخت کې شهزادګۍ پوه شوه چې سیوری په ریښتیا سره د درناوي وړ سړی دی، هغې سیوري سره علاقه پیدا کړې وه؛ خو څنګه چې دا ډیره هوښیاره او ځیرکه جلۍ وه، په دې هکله یې خبرې نه کولې.

شهزادګۍ له ځان سره وویل:

«هغه د درناوي وړ سړی دی، خو زه باید وګورم چې د سواد او معلوماتو کچه یې څومره ده. دا ډیره مهمه ده او د پوهیدو له پاره باید هغه وآزمیم.»

شهزادګۍ له سیوري نه داسې پوښتنې کولې چې د هغو په ځواب خپله هم نه پوهیده. سیوری به د دې پوښتنو په اوریدلو سره نارامه کیده. شهزادګۍ څو ځلې وویل:

«اوه، آیا نه شئ کولای زما د پوښتنو ځوابونه ووایئ؟»

سیوري وویل:

«دا څه وایې، البته چې کولای شم. زه له کوچنیوالي څخه د دې پوښتنو په ځواب پوهیدم. د دې په ځوابونو حتی زما سیوری هم پوهیږي!»

شهزادګۍ وویل:

«تاسو څه وایئ؟ سیوری خو نه شي کولای زما د پوښتنو ځوابونه ووایي. ریښتیا هم چې ډیره عجیبه او د نه باور وړ خبره ده!»

سیوري وویل:

«زه هم ډیر ډاډه نه یم، خو فکر کوم وبه شي کړای. ډیر کلونه کیږي چې په ماپسې راغلی دی او هر کله راسره وي، البته همدا اوس باید عرض وکړم چې تاسو باید له هغه سره د انسانانو په څیر چلن وکړئ، پرته له هغه د تاسو پوښتنو ته ځواب نه درکوي.»

شهزادګۍ وویل:

«ډیره ښه ده. هر ډول چې تاسو غواړئ، زه له هغه سره هماغسې چلن وکړم.»

سیوري شهزادګۍ دانشمند ته وروسته او هغې له دانشمند څخه د سپوږمۍ، لمر، طبیعت او انسانانو په باره کې پوښتنې وکړې. څنګه چې مناسب او وړ ځوابونه یې واوریدل، نو له ځان سره یې وویل:

«د چا چې سیوري دومره باسواده وي، نو خپله به خامخا لوی او بې جوړې پوهاند وي! دا به زما د هیواد او خلکو له پاره څومره لوی خیر او برکت وي!»
په دې ډول شهزادګۍ او سیوري پریکړه وکړه چې واده سره وکړي او تر څو چې د شهزادګۍ وطن ته نه وي تللي، له دې پریکړې نه به څوک نه خبروي.

سیوري وویل:

«هیڅ څوک باید له دې موضوع نه خبر نه شي، حتی زما سیوری هم.»

کله چې هغوی د شهزادګۍ وطن ته ستانه شول، سیوري دانشمند ته وویل:

«انډیواله غوږ ونیسه:

اوس زه د ځواک او نیکمرغۍ لوړو پوړیو ته رسیدلی یمه. غواړم درته وښیمه چې زه له تا سره څومره علاقه او مینه لرمه، وروسته له دې به ته زما په مانۍ کې ژوند کوې. هلته به په بشپړه خوشالتیا کې ژوند کوې، په سلطنتي ګاډۍ کې به زما تر څنګه کښیني او هر کال به په سلګونو زره معاش تر لاسه کوې؛ خو شرط به یې دا وي چې تل داسې وښیي چې ته زما سیوری یې! هیڅکله باید چا ته ونه وایي چې ته انسان یې. زه هر کال یو ځل هغه وخت چې د لمر وړانګې ځلیږي، د مانۍ برندې راځم او ځان خلکو ته وربښیم؛ په هغې ورځ ته باید د یو سیوري په شان زما تر پښو لاندې اوږد وغځیږي!

ته پوهیږې چې زه او شهزادګۍ واده سره کوو او نن شپه په همدې مناسبت په مانۍ کې ستر جشن جوړیږي.»

دانشمند وویل:

«دا سم لیونتوب دی، زه په دې نه پوهیږم، زه دا نه شم کولای! دا یوه تیرایستنه ده دا له ټول هیواد سره جفا ده، دا له شهزادګۍ سره جفا ده. زه ټول شیان وایم:

زه حقیقت وایم چې زه یو انسان یم او ته زما سیوری یې هسې کالي دې اغوستي دي.»

سیوري وویل:

«تا خپل عقل له لاسه ورکړی دی، که څنګه!

هیڅ څوک ستا خبره نه مني. که غلی نه شې، زه ساتونکو ته غږ کوم او په لاس دې ورکوم.»
دانشمند وویل:

«زه همدا اوس شهزادګۍ ته ورځم!»

سیوري وویل:

«زه به تر تا مخکې ورشم! او هغې ته به ووایم چې ستا د نیولو امر وکړي.»
له دې خبرو نه وروسته سیوري، ساتونکو ته وویل چې دا سړی ونیسئ او په بندیخانه کې یې واچوئ!

بیا سیوری د شهزادګۍ لیدلو ته ورغی او شهزادګۍ داسې وویل:

«تاسو ته څه درپیښ دي؟ ولې ریږدې؟ ځان ته مو پام وکړئ! باید د واده په شپه ناروغه نه شئ!»

سیوري وویل:

«تاسو یې فکر هم نه شئ کولای!

ډیر عجیبه او وحشتناکه پیښه شوې ده:

سیوری مې لیونی شوی دی، پرله پسې وایي چې دی انسان دی او زه سیوری یم!»
شهزادګۍ وویل:

«عجیبه، ده!

په ریښتیا چې ډیره عجیبه ده. کاشکې دې امر کړی وای چې په جیل کې یې واچوي!»

سیوري وویل:

«همدا کار مې وکړ، خو زه ډاریږم چې حال به یې را ښه نه شي.»

شهزادګۍ وویل:

«خوارکوټی!

زړه مې ډیر ورته خوږیږي. زما په نظر تر ټولو ښه کار به دا وي چې:

مخکې له دې چې نور رنځ وګالي او یا په دې موضوع نور خلک خبر شي، ښه دا ده چې ځان ورنه بیغمه کړو.»

سیوري داسې وښوده چې د دې خبرو په اورید خواشینی دی، نو وې ویل:

«څه غملړلی او وحشتناکه پای! زه په دې پیښه کې خپل ریښتینی خدمتګار له لاسه ورکوم!»
شهزادګۍ له ځانه سره وویل:

«څومره ښه سړی دی! حتی نه غواړي چې خپل سیوري ته هم ضرر ورسوي!»

هغه شپه یې ښار په څراغونو سینګار کړی و، د واده د خوښۍ په پار د ټوپونو څو ډزې هم وشوې، له هر لوري د سندرو او خوښۍ غږونه اوریدل کیدل. شهزادګۍ او سیورۍ د سلطنتي مانۍ برنډې ته راغلل، هغه خلک چې تر برنډې لاندې راټول شوي وو، د ناوې او زوم په لیدلو سره خوښ شول او د خوښۍ نارې یې وهلې.

دانشمند خوارکوټي ونه شول کړای چې د واده دا پرتمین جشن ووینې یا څه واوري، ځکه چې هغه په زندان کې هر څه له لاسه ورکړي وو.

پای

منبع:

H.C.ANDERSEN, EN EVENTYRLIG DIGTER,2004, 182—193 s

الوتونکی صندوق

(Den flyvende kuffert)

H.C. Andersen



و، نه و یو دوکاندار و؛ هغه ډیر شتمن و، دومره شتمن چې کولای یې شول ټوله کوڅه په سپینو زرو فرش کړي، خو ده دا کار نه کاوه. ده خپلې پیسې هغه وخت کارولې چې ګټه به یې وه، هلته به یې کارولې چې د یوې سکې په مقابل کې پنځه سکې ترلاسه کړي. په هر صورت، دی یو دوکاندار و، تر څو چې مړ شو.

کله چې مړ شو، ټول شته یې یوازینې زوی ته ورپاتې شول. زوی یې د پلار په څیر نه و، دی یو لاس خلاصی سړی و او څومره یې چې زړه کیده، هغومره پیسې یې مصرفولې. هره شپه

به د ګډا هغو محفلونو ته ورته چې خلک به له ماسک سره ګډیدل او د ورځې له خوا به یې هم له پیسو سره لوبې کولې.

د سرو زرو سکې به یې موټی، موټی سیند ته غورځولې او له دې کار نه به یې خوند اخیست. دا کارونه یې دومره وغځول چې په پای کې یې ټول شته له لاسه ووتل او له بې شمیره شتو نه یوازې د سرو زرو څلور سکې، یو جوړه څپلکې او یو هم د خوب اوږد کمیس ورته پاتې شول. پر هلک باندې راټول شویو ملګرو چې دا حالت ولید، ټول ورنه ولاړل، یوازې یو تن چې یو څه زړه سواندی او مهربانه و، یو زوړ صندوق یې ورته راولیږه او ورته ووې ویل چې:
په دې کې کینه.

هلک بل څه نه درلودل چې ورسره وایخلي، نو خپله، په ډار سره په صندوق کې کیناست. دا صندوق کوډګر صندوق و، داسې چې که یې کولپ مخکته کیښکودل شوی وای، نو صندوق هوا ته الوت او د مرغانو په څیر الوته.

کله چې د دوکاندار زوی په دې راز باندې پوه شو، نو د صندوق کولپ یې مخکته کیښکود او پرته له دې چې هلک پوه شي چې صندوق چیرې ځي، په هوا شو. صندوق پاس لاړ او ډیر پاس، دومر جګ شو چې له وریځو نه هم پسې ورجګ شو، دومره جګ شو چې لاندې مځکه هم وړه ورته ښکاریده. الوتونکی صندوق لاړ پسې لاړ تر څو چې د ترکانو وطن کې ښکته شو.

د دوکاندار زوی صندوق په ځنګله کې تر وچو پاڼو لاندې پټ کړ او د ښار په لورې وخوځید. په ښار کې خلکو د ده په لیدلو، هغه ته ځکه پام ونه کړ چې خلکو هم د ده غوندې اوږدې جامې اغوستې وې. د دوکاندار زوی په ښار کې ګرځیده چې یوې پرتمینې مانۍ ته ورسید. د مانۍ کړکۍ ګانې ډیرې لوړې ایښودل شوې وې، دی هم په مینې او حیرانتیا مانۍ ته ورنږدې شو. هلته مانۍ ته نږدې له یوې ښځې سره مخ شو چې خپل کوچنی یې تر لاس نیولی و او له هغه ځایه تیریدله. هغه یې وپوښتله:

«دا مانۍ د چا ده؟»

ښځې په ځواب کې وویل:

«دا د بادشاه د لور مانۍ ده.»

پرته له دې چې د دوکاندار زوی بله پوښتنه وکړي، ښځې خبره داسې وغځوله:

«څه موده مخکې کوم فال لیدونکي، د بادشاه د لور فال لیدلی و او ورته ویلي یې وو چې کوم نارینه به ستا ریبارۍ ته راشي او تا به وغواړي، خو هغه سړی به نه یوازې دا چې دا نیکمرغه نه کړي، بلکې د هغې د نارامتیا سبب به شي، ستونزې او ویرونه به هم ورته پیښ کړي.
له هغې ورځې وروسته د بادشاه لور ځان په دې مانۍ کې زنداني کړی دی او نه غواړي چې له هیڅ نارینه سره مخ شي.»

د دوکاندار زوی له ښځې نه مننه وکړه او بیرته ځنګله ته ستون شو. خپل صندوق یې پیدا کړ، ژر یې په منځ کې کیناست، صندوق والوت، مانۍ ته یې ځان ورساوه او مخامخ د شهزادګۍ پر کوټه باندې ورښکته شو.

د دوکاندار زوي د کړکۍ له لارې د بادشاه د لور کوټې ته ورننوت. د بادشاه لور پر کوچ باندې غځیدلې او ویده وه. هغه دومره ښکلې او زړه وړونکې وه چې د دوکاندار زوی غوښتل ښکل یې کړي.

هلک چې ورنږدې شو، جلۍ راویښه شوه او د هلک په لیدلو سره سخته وډاره شوه، خو د دوکاندار زوی ورته وویل: زه په هوا کې تا ته راغلی یم، تشویش مه کوه، زه د کیسو له وطن نه راغلی یم، څو تاسو ته ښکلې کیسې وکړم.

جلۍ د هلک خبره ومنله او یو د بل په څنګ کې سره کیناستل او په خبرو یې پیل وکړ. د دوکاندار زوی شهزادګۍ ته د تیارو سمندرونو، د سمندر ښاپیریو د لمبلو، په سپینو واورو پټو غرونو، قانسانو او د هغوی د ښکلو بچیانو په باب ښایسته او زړه وړونکې کیسې وکړې.
د شهزادګۍ کیسې ډیرې خوښې شوې، سمدلاسه یې هلک ته وویل:

«هوکې! د شنبې په ورځ، بادشاه او ملکه دلته زما لیدلو ته او د یو چای څکلو په پار راځي، هغوی به ډیر خوشاله شي چې پوه شي چې زه داسې یو ښه شخص سره مخ شوې یم.

موږ به چای سره وڅکوو او زه به له هغوی نه وغواړم چې تاسو سره وګورې، ته به هم هغوی ته همداسې خوږې او په زړه پورې کیسې وکړې، خو پام دې وي چې د مور مې روزنیزې کیسې خوښیږي او پلار مې خندونکو کیسو سره مینه لري.»

د دوکاندار زوی وویل:

«تاسو ډاډه اوسئ!

زه به یې ښه بوخت وساتم او د یوې ښکلې ناوې په څیر ښایسته کیسې به ورته وکړم.»

کله چې دوی سره جلا کیدل، شهزادګۍ په زرینو غمیو سینګار یوه توره ورکړه، هغه څه چې هلک اړتیا ورته درلوده، اوس کولای شي هغه وکاروي.

هلک له خپل صندوق سره والوت او بیرته ځنګله ته ولاړ. ځانته یې نوي کالي واخیستل او په دې یې سوچ کول پیل کړل چې تر شنبې ورځې پورې یوه نوې داسې په زړه پورې کیسه برابره او ولیکي چې هم د بادشاه خوښه شي او هم د ملکې او دا کار څه آسانه کار نه و، خو بیا هم ده خپل کار پای ته ورساوه.

په ټاکلې ورځ ، شاه، ملکه او درباریان د چای څکلو له پاره شهزاد ته ورغلي وو. کله چې د دوکاندار زوی راغی، ښه تود هرکلی یې وشو.

ملکې هلک ته وویل:

«تاسو لکه چې موږ ته کومه کیسه کوئ، نو پیل یې کړئ، خو پام مو وي چې انتباهي او روزنیزه ښه ولري.»

بادشاه هم ورغبرګه کړه:

«البته چې لږ خندونکې او په زړه پورې هم وي!»

هلک وویل:

«زه به داسې کیسه تاسو ته ووایم، چې ستاسو ټولو خوښه شي؛ نو غوږ شئ!»
بیا هلک خپله کیسه داسې پیل کړه:

«و، نه و کلونه پخوا د گوگړو یو کوتی و چې ډیر مغروره او ځانغوښتونکی و. گوگړ په خپلو پلرونو او نیکونو باندې ویاړ کاوه او دعوا یې کوله چې د ده پلار د ځنگله د یو ستر صنوبر څخه و. د گوگړو کوتۍ به تل د پخلنځي په تاخچه کې د یوه بل اور لگونکي په څنگ کې له یوه زاړه دیگي سره ایښې وه. د گوگړو کوتۍ به ویل:

موږ په یوه شنه ځنگله کې وو او په خوښۍ او ښه ښه مو ژوند کاوه. هره ورځ به مو چای، د الماسو په څیر له رڼو څاڅکو نه ـ چې انسانان پرخه ورته وایي ـ برابراوه او څکه به مو او لمر به خپلې زرینې وړانگې پر موږ ځلولې، الوتونکو به تر ټولو ښکلې سندرې راته غږولې، موږ به غوږ ورته نیوه او په ریښتیا چې ډیر خوشاله وو. موږ دومره شتمن وو، چې تل به مو غوره او ښکلې جامې اغوستلې او هیڅکله به د نورو ونو په څیر لغړې نه پاتې کیدلو. زموږ به ان په ژمي کې هم شنې جامې په تن وې؛ خو له بده شامته چې یوه ورځ لرگی ماتونکی موږ پسې راغی او زموږ کورنۍ یې له منځه یوړله او موږه یې سره جلا کړو.

هغه ونه چې زما پلار و، تنه یې د یوې لویې کښتۍ د شاه تیر په ډول وکارول شوه او اوس دا کښتۍ، له نړۍ څخه د راتاویدو په سفر بوخته ده. زموږ د کورنۍ نورو څانگو ته هم درنې دندې ور له غاړې شوې دي، خو زه بد مرغه گوگړ شوم او اوس باید خلکو ته رڼا او تودوخه رامنځ ته کړم. او همداسې چې مو واوریدل، زه له دومره لوی او لوړ اصل او نسب سره، سره باید د پخلنځي په دې څنډه کې ژوند وکړم.

نا څاپه دیگي هم خوله پرانسته، په خبرو راغی او وې ویل چې زما برخلیک، ستاسو له برخلیک سره ډیر توپیر لري. له هغې ورځې چې زه زیږیدلی یم، کارول مې پیل شوي دي. څو، څو ځلې د پخلي له پاره کارول شوی یم، زه د دې کورنۍ د غړو له پاره ډیر مهم یمه. زما تر ټولو ښه او لویه تفریح دا ده چې د کار له خلاصیدو نه وروسته بیرته پخلنځي ته راشم او له دوستانو سره مې خبرې وکړم.

له بده شامته چې زموږ خبرې، هماغه زړې او بیخونده تکراري خبرې دي، ځکه چې موږ په دې څلورو دیوالونو کې بندیان یو، د پخلنځي له وره نه د باندې نه وزو، ځکه د ویلو له پاره کومه نوې خبره نه لرو. کله، کله د اوبو سطل له پخلنځي نه د باندې وزي او د سودا ټوکرۍ تل تشه بازار ته ځي او ډکه بیرته راځي، خو زما له نظره، هغه خبرونه چې ټوکرۍ د خلکو او حکومت په باب راوړي، چندان د ډاډ وړ نه دي، هغه هم په دې دلیل چې ټوکرۍ د یوه زاړه، لویدلې او مات شوې دیگ په باب نه غږیږي، ځکه یې خبرې چندان د حساب وړ نه دي.
د گوگړ په څنگ کې بل اور لگونکي وویل:

«ته ډیر غږیږې!»

بیا یې خپله خوله خلاصه کړه او پړق یې وهل، شنه ښکلې لمبه یې راویستله او د خپلو خبرو په ترڅ کې یې وویل:

«پریږدئ چې نن شپه لږ دمه شو!»

گوگړ وویل:

«ښه به دا وي چې د ټولو نظر وغواړو چې د چا کیسه ډیره جالبه ده.»

نا څاپه گلدان د دوی په خبرو کې ورولوید او وې ویل:

«نه، داسې نه شي کیدای!

تاسو یوازې خپل صفتونه کوئ او بل څوک نه پرېږدئ چې وغږېږي، ښه به دا وي چې هر څوک په خپل وار سره وغږېږي او خپلې تیرې کیسې بیا ووایي، تر څو مالومه شي چې څوک تر ټولو مهم او ښه دی.»

بیا ګلدان خبره داسې وغځوله:

«ما د بالتیک سمندر پر څنډه ژوند کاوه، زموږ د اوسیدو ځای د ډنمارک د غنموله کروندو نه دومره لرې نه و.»

په همدې شیبه کې ټولو قابونو په یوه غږ سره وویل:

«دا څومره ښه پیل دی! دا هماغه کیسې دي چې زموږ غوښېږي.»

ګلدان خبره داسې پسې وغځوله:

«زموږ کورنۍ د سمندر په هغو ښکلو او آرامه سیمو کې، ښه ژوند درلود، موږ په سوله او صمیمت سره خپل ژوند کاوه، هلته به خلکو د کور د اړتیا وړ شیان جوړول، د کور غولی او پردې به هرو څوارلسو ورځو کې یو ځل پاکیدلې.»

ناڅاپه جارو غږ کړ او وې ویل:

«څه خوږه او جالبه کیسه ده! هر څه وللي دی او له هغوی نه د پاکۍ بوی راځي.»

په همدې شیبه کې د اوبو سطل له خوښۍ نه وښورید، را وړاندې شو، لږې اوبه یې د پخلنځي پر غولي وشیندلې او وې ویل:

«سمه ده چې ستاسو ژوند ډېر خوندور و.»

ګلدان خپله کیسه پسې ویله، تر څو چې پای ته ورسیده او د کیسې پای یې هم د کیسې د پیل په څیر په زړه پورې او د اوریدلو وړ و.

قابونه له خوشالۍ نه سره وښوریدل، جارو او شنیلي ګلدان ته مزاحمت کاوه. نن چې دوی ته مزاحمت کوي، ښایي سبا به موږ ته هم مزاحمت پیښ کړي.

یو بل چا هم په ګډیدلو سره خپل غږ وایسته او وې ویل:

«زموږ وار به کله ورسیږي.»

د زړې چوکۍ پوښ هم چې په یوه څنډه کې ناست و او نورو ته یې کتل، تر شونډو لاندې یې ویل:

«دا ځینې څه بلا اخلاق لري.»

آ بل اور لګونکي له ځانسره وویل:

«آیا د ګلانو تاج به زما په برخه شي او زما پر سر به کیښودل شي؟»

د ګوګړو د کوتۍ له نظره دا یو ساده او احمقانه فکر و چې آ بل اور لګونکي داسې هیله درلوده. د سودا ټوکرۍ د کرم له پاڼو نه یو تاج جوړ کړ او د ګلدان پر سر یې کېښود، دا نور لږ خوابدي غوندې شول، خو وروسته یې له ځان سره فکر وکړ چې په بله لوبه کې به خپله ګټونکی وي. کاشوغو په شور و ځوږ سره وویل:

«اوس باید ولاړې شو او وګډیږو!»

او دومره وګډیدې او سره وې خندل چې په نسونو کې یې درد پیدا شو او د زړې چوکۍ پوښ هم له خندا نه دوه پلې شو.

بل اورلګونکي وویل:

«اوس د سماوار د سندرو ویلو وخت دی.»

خو د سماوار ساړه شوي وو او نه یې شوای کولای چې سندرې ووایي.

د کړکۍ خوا ته یې د زانې یوه غټه ښکه ایښې وه، دا د چوپړې نجلۍ قلم و، چې له لیکلو وروسته یې له قیمتي کاڼو سره یو ځای کیښوده. دا قلم ډوله ښکه ډیره مغروره وه او ځان یې له ټولو نه ښه او لوړ ګاڼه.

ښکې وویل:

«که سمار نه غواړي سندرې ووایي، ښه به دا وي چې له جشن څخه پښه وباسي.»

په همدې شیبه کې چوپړ کونکې نجلۍ پخلنځي ته راننوته او د هغې په راتګ سره ټول غلي شول. نجلۍ ګوګړ را واخیست او د اور بلولو په پار یې ولګاوه.

ګوګړ لمبه وکړه او له ځان سره یې سوچ وکړ چې ټول به اوس د ده صفت وکړي، خو مخکې له دې چې خپل سوچ کول پایته ورسوي، په ایرو بدل شو، د هغه ټول غرور او دعواوې په لوګو بدلې او هوا کې ورکې شوې.»

بادشاه او ملکې له کیسې نه ډیر خوند واخیست، د دوکاندار زوی یې هم ډیر خوښ شو او ژر یې د هلک او شهزادګۍ د واده پریکړه وکړه او د واده ورځ یې ورته وټاکله.

د هغوی د واده په شپه ټول ښار روښانه کړی شوی و، خلکو په واټونو کې ګډا او خوشالي کوله. د دوکاندار زوی د اور لوبې توکي برابر کړل، په خپل صندوق کې یې کېښودل، له صندوق سره والوت او د ښار د پاسه یې رنګه فشنګونه ولګول او په دې ډول یې د ښار ټول آسمان رڼا کړ. خلکو په حیرانتیا سره پاس کتل او د دې منظرې له لیدلو څخه یې خوند اخیست او له خوشالۍ نه پورته، پورته الوتل.

هلک له صندوق سره بیرته راښکته شو، صندوق یې په ځنګله کې پرېښود او خپله ښار ته راغی. ښاریان ورباندې راټول شول او داسې برېښیده چې خلک په دې خوشاله دي چې د دوی بادشاه داسې هوښیار زوم لري.

بله ورځ د دوکاندار زوی ځنګله ته لاړ چې خپل بکس سره بیرته د شهزادګۍ مانۍ ته راستون شي، خو وې نه شوای کولای خپل بکس پیدا کړي. وروسته له ډېر فکر نه پوه شو چې د بکس په یوه څنډه کې یوه نا چاودلې پټاقۍ نښتې وه او د هغې په چاودیدو سره بکس اور اخیستی او په ایرو بدل شوی دی. هلک له غمه ډک زړه په خپل مخه ولاړ.

شهزادګۍ تل د هغه راتګ ته سترګې په لاره وه، خو له ډېر انتظار سره، سره د هغه درک ونه لګید.

څوک څه پوهیږي!

ښایي شهزادګۍ تر اوسه هم سترګې په لاره وي، خو د دوکاندار زوی ښار په ښار ګرځي او خلکو ته خوږې او په زړه پورې کیسې کوي، خو یوه کیسه یې هم د ګوګړو د کوتۍ د کیسې په اندازه خوږه او په زړه پورې نه ده.

پای

منبع:

H.C.Andersen Eventyr, 2, 7 – 19 s, 1994, Odnsa, Denmark

د سفر ملګری

(Rejsekammeraten)

H.C. Andersen



خوارکوټی یوهانس د خپل پلار د ناروغتیا له امله ډیر پریښانه و. د یوهانس پلار ناروغ په بستر کې پروت و او ورځ تر بلې یې حال په خرابیدو و. د هغوی په وړه کوټه کې پرته له پلار او زوی نه، بل څوک نه و. نور نو نا وخته و، ماخوستن په تیریدو و، پر میز باندې ایښې ډیوه په غلې کیدو وه.

ناروغه پلار وویل:

«ته یو ډیر ښه او مهربانه زوی وې. زه له تا نه ډیر خوشاله یم، خدای دې له تا نه خوشاله اوسي او په ژوند کې دې مرسته درسره وکړي.»

پلار په جدي، خو مهربانه نظر ور وکتل، بیا یې ژوره ساه واخیسته او مړ شو او داسې پروت و، ته وا په خواږه خوب ویده دی.

یوهانس ژړل او پرته له ژړا نه په دې دنیا کې هیڅوک او هیڅ شی نه و ورته پاتې، نه مور، نه خور، نه ورور او نه هم پلار، خوارکوټی یوهانس!

هغه د مړه پلار د تخت خوا ته ګونډه ووهله او د پلار لاس یې ښکل کړ، ډیر یې وژړل او ډیرې ترمې اوښکې یې تویې کړې.

سر یې د پلار د تخت پر کلکه څنډه ایښی و، چې څنګه یې سترګې سره ورغلې، یو عجیب خوب یې ولید.

هغه په خوب کې ولیدل چې لمر او سپوږمۍ د درناوي په څیر سر ورته ټیټوي، بیا یې پلار ولید چې جوړ او خوشاله دی او لکه تیر وختونه، په خوښۍ سره خاندي، په څنګ کې یې یوه جلۍ وه چې پر سر یې د اوږدو ویښتانو د پاسه زرین تاج ایښودل شوی و، مهربانه او اصیله ښکاریده. پلار یې وویل:

«وګوره څه یوه ښکلې ناوې مې درته پیدا کړې ده، په ټوله نړۍ کې داسې ښکلې او مهربانه نجلې نه پیدا کیږي.»

ناڅاپه یوهانس له خوبه را ویښ شو، له راویښیدو سره سم، په خوب کې ورته راغلې هر څه ورک شول، په تخت کې د پلار کرخته او سوړ مړی او یوازې خوارکوټی یوهانس، نور هیڅ څوک هم ورسره نه و.

مړی باید خاورو ته سپارل شوی وای. یوهانس د تدفین په لټه شو او د تابوت او د تدفین د نورو اړتیا وړ شیانو د بیې پوښتنه یې وکړه.

دی ډیر نا امیده شوی و، دومره نا امیده چې فکر یې کاوه چې زړه به یې وچوي. مذهبي سرود وویل شو، مړی خښ شو او یوهانس دومره وژړل چې ښه یې خپل زړه تش کړ.

لمر د ونو پر شنو پاڼو ځلیده او ځانګړې صافه هوا وه، داسې بریښیده چې لمر یوهانس ته وایي: «ته باید نور خواشینی نه اوسې!

وګوره اسمان تک شین او ښکلی دی،
پلار دې هلته پاس دی او تا ته دعا کوي او له خدای نه غواړي چې ته په ژوند کې نیکمرغه اوسې او هر څه دې په خوښه وي.»

یوهانس له ځانسره وویل:

«زه به هرکله ښه اوسم او په پاکۍ او ښیګڼه به ژوند وکړم، څو لکه خپل پلار جنت ته لاړ شم، هلته به بیا یو بل سره وګورو، بیا به زه د ویلو له پاره ډیر څه ولرم او هغه به هم ما ته ډیر شیان راوښیي او د جنت د پرتم او عظمت په باب به خبرې وکړي.

هماغسې یې چې په خپل ژوند کې ډیر څه رازده کړل، په جنت کې به هم ډیر څه رازده کړي، اوه، بیا به څه ښه خوشالتیا او نیکمرغي وي!»

د دې فکرونو په لړ کې، په داسې حال کې چې د یوهانس پر مخ ترمې اوښکې را روانې وې، نا څاپه موسکی شو، وې لیدل چې پاس په ونه کې یوه مرغۍ خوږې غاړې کوي، د مرغۍ غږ ډیر ښه لګیده. یوهانس فکر وکړ چې ښایی مرغۍ به هم پوهیږي چې دې مړه شوي سړي په دنیا کې ډیر ښه عملونه کړي چې اوس پاس اسمان ته تللی او هلته نیکمرغه دی.

یوهانس ولیدل چې مرغان له شنو ونو نه والوتل او د ده هم زړه وشو چې له هغوی سره والوزي، خو بیا فکر ورته پیدا شو چې له هر څه نه مخکې باید د پلار د قبر پر سر له لرګو نه یوه جوړه نښه (صلیب) کیږدي.

د همدې کار د تر سره کولو په موخه له هدیرې نه ووت، خو کله چې ماښام مهال بیرته راستون شو، وې لیدل چې پر قبر باندې ګلان ایښودل شوي او ټول قبر په ګلانو پوښل شوی دی. دا ګلان هغو خلکو راوړي وو چې د یوهانس پلار ورباندې ګران و، هغه پلار چې نور په دې دنیا کې نه و.

سبا سهار وختي یوهانس خپل پنډکی وتاړه او او خپل ټول شته یې چې پنځوس روپۍ (د هغه وخت پیسې) او د سپینو زرو دوې سکې وې، له ځانسره واخیستې او وخوځید چې تر نړۍ ګرد چاپیره د راتاویدو سفر پیل کړي.

لومړی د پلار هدیرې ته لاړ چې له پلار سره وروستۍ مخه ښه وکړي. په هدیره کې یې پلار ته د دعا په ترڅ کې وویل:

«خدای په امان ګرانه پلاره!

زه به تل هڅه وکړم چې یو ښه سړی اوسم،

ته هم په زړورتیا سره لوی خدای ته دعا وکړه چې زه هم ښه او پر سمه لار روان شم.»

یوهانس وخوځید، په کومه شنه کرونده کې چې روان و، هلته لمر روښانه او تود ځلیده، ورسره پوست باد هم چلیده، ګلانو سرونه جګ نیولي وو او ښوریدل او داسې بریښیدل چې یوهانس ته وایي:

«دې شنیلیو ته ښه راغلاست!

آیا دا ځای ډیر ښکلی او په زړه پورې نه دی؟»

خو یوهانس مخ را واړاوه څو یو ځل بیا زړې کلیسا ته وګوري، هغه ځای ته چې په ماشومواليکې ده باندې د تمعید لمبل تر سره شوي وو او ده به هره یکشنبه هلته له پلار سره یو ځای مذهبي سندره ویله او دعا به یې کوله.

ناڅاپه یې د کلیسا په برج کې پرانستې کړکۍ باندې سترګې ولګیدې. د کلیسا زنګ وهونکی هلته داسې ولاړ چې، د تیرې څوکې لرونکې سره خولۍ یې پر سر ایښې وه او خپل ښي لاس یې، پر مخ باندې، لکه د سترګو سایوان داسې نیولی و. یوهانس د مخه ښې په دود لاس ورته

وښوراوه، زنګ وهونکی هم لکه خطرناکو خلکو غوندې راتاو شو او خپله سره خولۍ یې د درناوي او بریا په دود له سر نه لږ جګه کړه، یو لاس یې پر زړه ایښی و او د بل لاس ګوتې یې پر له پسې په دې خاطر ښکلولې چې هغه ته وښیي چې دی هیله لري چې یوهانس یوه ښه او بریالی سفر ولري.

یوهانس چُرت واهه چې په دې لویې او پرتمینې نړۍ کې به څومره ښکلي او په زړه پورې شیان وګوري. په همدې سوچونو کې روان و او د ښار شا و خوا ته یې کتل. دی روان و، دومره ولاړ چې له خپل ښار نه ښه لرې شو.

یوهانس هیڅکله له کور نه دومره لرې نه و تللی. هر څه یې چې په لاره کې لیدل، ورته نوي وو. هغه د خوب کولو له پاره کوم کټ نه درلود، دی اړ و چې لومړۍ شپه پر وچو وښو تیره کړي.

ده له ځان سره وویل:

«ډیره ښه ده، ښایي بادشاه هم داسې ارامه بستره ونلري.

یوه لویه او سوروره کرونده،

د مځکې فرش یې شین چمن او شا و خوا ته یې سپین او سره واړه ګلان،

له بوټو او ګلانو نه جوړ دیوالونه،

په هر لوري د ګلو دستې،

د اوبو شرشرې او تازه اوبه،

له هر لوري نه په درناوي سره ویل کیدل: ماخوستن او سهار مو دواړه په خیر،

سپوږمۍ پاس په شنه چت کې د شپې د یو ریښتینې څراغ په څیر ځلیده،

یوه وړه رڼه چینه،

د وښو لوی او واړه درمندونه،

له ستورو ډک آسمان؛

دا ټول شیان څومره ښکلي او پرتمین دي.»

یوهانس په داسې یوه فضا کې تر سهاره پورې ښکلی او ارامه خوب وکړ. سهار مهال، لمر خاته کې په داسې حالت کې راویښ شو چې د ده چار چاپیره وړو مرغانو ښکلې د:

«سهار په خیر، سهار په خیر، ته لا نه یې ویښ؟»

سندرې غږولې.

دا د یکشنبې ورځ وه او د کلیسا زنګ کړنګیده، خلک د کلیسا په لوري روان وو چې د کشیش خبرو ته غوږ ونیسي او یوهانس هم ور پسې شو چې د خدای نوم او مذهبي سندره (نعت) واوري. دا مراسم داسې وو لکه د دوی د خپلې کلیسا، چیرې چې دی لمبول شوی و او همدا مذهبي مراسم یې له خپل مور پلار سره تر سره کړي وو.

د کلیسا په انګړ کې ډیر قبرونه وو، پر ځینو قبرونو باندې وابښه راشنه شوي وو او قبرونه یې پوښلي وو، د دې په لیدلو سره د خپل پلار قبر ور په یاد شو او په زړه کې ور تیر شول چې د پلار قبر به یې هم یوه ورځ همداسې شي، لکه دا قبرونه، ځکه دی هلته نه شته چې د هرزه وابښه ورنه لرې کړي او د قبر شا و خوا پاکه کړي.

همالته د قبرونو خوا ته کیناست او د هرزه وښو په شکولو یې پیل وکړ، د قبرونو لرګین صلیبونه چې پر مځکه لویدلي وو، بیرته جګ کړل او په خپلو ځایونو یې ودرول او د ګلانو ګیډۍ چې باد غورځولې وې، بیرته یې په خپلو ځایونو کیښودې، بیا یې په زړه کې ورتیر شول:
«د پلار د قبر له پاره مې هغه څه چې زه نه شم کولای، ښایي کوم بل څوک یې وکړي!»
له کلیسا د باندې یو بوډا سوالګر د پاړو په مرسته ولاړ و،

یوهانس خپلې ټولې د سپینو زرو سکې چې ورسره وې، هغه ته ورکړې او په خوشالتیا او رضایت سره یې خپله لاره ونیوله.

لمر پریواته مهال هوا سخته خرابه او توفاني شوه، یوهانس بیړه کوله چې ځان کومې سرپناه ته ورسوي، ځکه چې د شپې تیاره په غوړیدو وه. په پای کې یوې وړې کلیسا ته ورسید چې په یوه لوړ ځای کې پرته وه.

دروازه یې کیښکوده او د ننه یې ور وکتل چې دی باید د خرابې هوا په سبب دلته پاتې شي.
یوهانس وویل:

«زه باید دلته په یوه څنډه کې کینم، زه ډیر ستړی یم، زه اړتیا لرم چې لږ دمه وکړم. کیناست، لاسونه یې زوړند ونیول او ماخوستنی دعا یې وکړه، په چُرتونو کې ویده شو، خو د باندې تالنده او بریښنا روانه وه.

نیمه شپه وه چې راویښ شو. له کړکۍ نه پر ده باندې د سپوږمۍ رڼا راځلیدله، د کلیسا په منځ کې د یو نارینه مړی په تابوت کې ایښی و، د دې له پاره چې سبا ته یې خاورو ته وسپاري. یوهانس نه ډاریده، په دې چې ده پاک زړه او ارامه وجدان درلود او په دې خبره ښه پوهیده چې له مړو نه څوک باید ونه ډار شي، له ژوندیو نه ځکه وډار شي چې ځینې یې بد او خطرناکه دي. د تصادف له مخې د تابوت تر څنګه دوه همداسې بد خلک ولاړ وو.

هغوی غوښتل چې تابوت د کلیسا له دروازې نه د باندې وغورځوي، یوهانس له هغوی نه پوښتنه وکړه:

«دا کار ولې کوئ، هغه بیچاره آرامه پریږدئ!»

هغو دوو بدو خلکو وویل:

«ته خوشې خبرې مه کوه! هغه موږ غولولي یو، دی زموږ پوروړی و، وې نه شول کړای چې زموږ پور راکړي، اوس هم پرته له دې چې خپل پور ادا کړي، له دې نړۍ څخه ولاړ، اوس موږ نه شو کولای څه شی ورنه بود کړو، موږ هم د غچ اخستو له پاره د ده مړی له کلیسا نه دباندې غورځوو.»

یوهانس هغوی ته وویل:

«زه له پنځوس روپیو (د هغه وخت پیسې) نه زیات څه نه لرم، هغه هم په میراث کې راته پاتې دي. که تاسو دا سړی په خپل حال پریږدئ او له ما سره وعده وکړئ چې دې بیچاره ته څه نه وایئ، زه به دا پنځوس روپۍ تاسو ته درکړم. ما ته خدای روغ اندام راکړی، زه بې پیسو هم ګوزاره کولای شم، خدای مهربانه دی، له ما سره هرکله مرسته کوي.»

هغو دوو بدو خلکو وویل:

«سمه ده! ته چې د دې پور ادا کوې، ته ډاډه اوسه چې موږ هم نور څه نه ورته وایو.»
بدو خلکو له یوهانس نه پیسې واخیستې، د ده پر دې کار یې په لوړ غږ سره خندل او په خپله مخه ولاړل.

یوهانس مړی بیرته په تابوت کې کېښود، لاسونه یې پر سینه ورته برابر کړل او ورته وې ویل: خدای په امان، له خپل کار نه یې په رضایت سره په ګڼ ځنګله کې، خپله مخه ونیوله.

د ځنګله د ونو له منځ نه د سپوږمۍ رنا ځلیدله او ځنګل یې یو څه روښانه کړی و. په ځنګله کې هم خزندې او نور واړه الوتونکي وو، هغوی یوهانس ته ځانونه ښودل په دې چې یوهانس بیګناه و او ښه سړی و، دا یوازې زشت او بد خلک دي چې دغه د ځنګله د منځ خزندې، نور واړه الوتونکي او عجیب مخلوقات نه شي لیدلای. د ځنګله دا مخلوقات ډیر واړه و او ځینې یې دومره وو لکه د یوې ګوتې په اندازه، زرین اوږده ویښتان یې درلودل او د سرو زرو شیان په کې ټومبلي وو، د پرخو په څاڅکو کې به سره تاو شول. د زمرین څاڅکي پر پاڼو او جلګو باندې پراته وو او کله، کله به له پاڼو او لوړو ځایونو نه پر اوږدو جلګو باندې ورڅڅیدل او عجیبه خندونکې منظره یې جوړه کړې وه. هغوی به سندرې ویلې او یوهانس دا سندرې ځکه پیژندلې چې په ماشومتوب کې یې زده کړې وې.

جولا د سپینو زرو تاج پر سر له خپل بوټې تر بل بوټې پورې خیز اچاوه، تارونه به یې زغلول او زوړند پُل به یې ورنه جوړاوه او د مانیو په څیر ځالې به یې اوبدلې. کله به چې پر دې تارونو زمرین ولوید، او بیا به چې د سپوږمۍ وړانګې ورباندې ولویدې، داسې بریښیدل لکه ځلیدونکې شیشې.

دا کیسه تر لمر خاته پورې روانه وه، کله چې لمر راوخوت، خزندې او نور واړه الوتونکي د ګلانو په غوټیو کې ننوتلې او باد هم د جولا جوړ کړي پلونه او له تارونو جوړې کړې مانۍ سره ګډوډ کړل.

یوهانس له ځنګله څخه نور راوتلی و چې ناڅاپه یې د شا له خوا د یو نارینه غږ واورید. نا اشنا سړي ویل:

«انډیواله په کومې خوا روان یې؟»

یوهانس په ځواب کې ورته وویل:

«غواړم له نړۍ نه ګرد چاپیره راوګرزم.»

نا اشنا سړي وویل:

«زه هم غواړم دغسې یو سفر وکړم، څنګه به وي چې ګډ سره ولاړ شو!»

یوهانس وویل:

«هوکې، دا ښه خبره ده.»

په دې ډول دوی خپل سفر پیل کړ. په لږ وخت کې سره صمیمي او ملګري شول. دوی دواړه ښه خلک وو او یوهانس ډیر ژر پوه شو چې ملګری یې تر ده ډیر هوښیار دی. هغه تقریباً نیمه نړۍ لیدلې وه، په دې خاطر د نړۍ په باب، په ډیرو شیانو پوهیده او کولای یې شول د هغو په هکله وغږیږي.

لمر خاته مهال تر یوې لویې ونې لاندې کیناستل چې دلداغی (سهارنۍ) وکړي. په همدې وخت کې یوه زړه ښځه راغله چې شا یې کړوپه شوې وه او د لکړې په مرسته روانه وه. یو څه خس یې چې په ځنګله کې ټول کړي او په شا کړي وو. د بوډۍ په لمن کې څو شنیلي او د ولې څو اوږدې لښتې له درې درملو ته ورته شنو څانګو سره ایښې وې. دوی ته چې نږدې شوه، ناڅاپه د یې پښه ونښته او ولویده، چیغې یې پورته شوې، د خوارکوټې پښه ماته شوې وه.
یوهانس غوښتل چې بوډۍ ډیر ژر د هغې کور ته ورسوي، خو ملګري یې وروسته له ښه دقت نه وویل:

«بیړه مه کوه!»

د سفر ملګري یې په خپله توبره کې یو مرهم درلود، هغه یې راویسته او وې ویل:

«اوس به یې زه پښه په دې مرهم غوړه کړم او داسې به ښه شي، لکه هیڅ چې پښه ماته شوې نه وي، داسې چې بیا په خپله کولای شي کور ته ولاړه شي، خو دا به هم په مقابل کې ما ته هغه درې دارو ته ورته شنې څانګې ما ته راکوي چې په لمن کې یې ټومبلي دي.»

زړې ښځې وویل:

«سمه ده!»

او هغه درې دارو ته ورته څانګې یې ورکړې. هغه سړي هم د بوډۍ پر پښه مرهم وسولاوه. زړه ښځه داسې روانه شوه چې له پخوا نه یې پښه لا ښه احساسوله. خو دا مرهم په درملتونه کې نه شو تر لاسه کیدای.

یوهانس خپل ملګری وپوښته:

«ته اوس په دې څانګو څه کوې؟»

ملګري یې وویل:

«دا درې ښایسته شنې دارو ته ورته څانګې دي، یوه ورځ به مو په کار شي، زه هم یو عجیب سړی یم!»

بیا دوی مخ پر وړاندې ولاړل. یوهانس مخامخ کتل او وې ویل:
«هوا مخ په خرابیدو ده، وګوره څه توره پنډه وریځ را روانه ده، کیدای شي دروند باران ووریږي.»

د سفر ملګري یې وویل:

نه، هغه اوره نه دي او خوځیږي هم نه، هغه غرونه دي، هغه ستر او پرتمین غرونه دي، کله چې سرته ور وخیژې، څوکو ته یې ورشې؛ داسې انګیرې چې اورو ته ورختلی یې. آیا باور کولای شې! سبا به له هغه ځای نه ټوله نړۍ وګورو.»

خو هغه غرونه لکه څنګه چې ښکاریدل، هغومره نږدې هم نه وو. یوه بله ورځ یې هم مزل وکړ، څو د غره لمنې ته وورسیدل. هلته ونو سرونه هسک کړي وو، شا و خوا غټې تیږې

لیدل کیدې، لکه یو ښار چې پروت وي. دا ډیر ستونزمن کار و چې سړی دې پاس لوړې څوکې ته ور وخیژي. دوی اړ وو چې د سبا ورځې مزله له پاره د چمتو کیدو په خاطر لږ دمه شي، د همدې له پاره هلته یوه میلمستون ته ورغلل.

په میلمستون کې خلک ډیر وو، هلته راټول شوي وو او د هغه سړي په لیدلو بوخت وو چې د تارونو په وسیله یې د نانځکو د ګډا ننداره وړاندې کوله. هغه د خپلې ننداري خونه نوې پرانستې وه او خلک هم د ننداري له پاره ورته راټول وو.

په لومړي کتار کې یو پنډ ځواکمن قصاب ناست او غټ قوي سپي یې هم ترڅنګه پروت و، سپی داسې و لکه چا ته چې خوله وراچوي، خو څه یې نه ویل او د ننداري په لیدلو بوخت و.

ډیر ژر کمیدي ننداره پیل شوه، ننداره په زړه پورې وه. بادشاه او ملکه پر ښکلي تخت باندې ناست وو، زرین تاجونه یې پر سرونو ایښودل شوي وو، قیمتي جامو یې اوږدې لمنې درلودې. د دروازو په څنډو کې لرګینې غټې ښایسته نانځکې درول شوې وې چې شیشه اې سترګې او غټ، غټ بریتونه یې درلودل او کړکۍ به یې د تازه هوا د راتلو په پار تړلې او خلاصولې.

ننداره داسې له خوښیو ډکه او خوندوره وه، چې هیڅ ستړې کونکې صحنه یې نه درلوده. کله چې ملکه جګه شوه او غوښتل یې د سالون غولي ته ولاړه شي، خدای پوهیږي چې سپی په کوم چورت کې و، خو ناڅاپه یې خیز کړل او د ملکې نرۍ ملا یې په غاښ کړه او داسې یې کېښکوده چې د ماتیدو تقهاری یې واوریدل شو. قصاب نه شوای کولای چې خپل سپی راونیسي. دا داسې ډارونکې صحنه وه چې د ټولو حالت یې ور بدل او خراب کړ.

د ننداري وړاندې کونکی د دې صحنې په لیدلو سره ډیر خوابدی او ناآرامه شو، ځکه چې د ده تر ټولو ښکلې او تر ټولو ظریفه نانځکه وحشي سپی ورته ماته کړې وه. ننداره بنده شوه او خلک ولاړل.

د یوهانس ملګری د ننداري وړاندې کونکي ته ورنږدې شو او ورته وې ویل چې دی کولای شي هغه نانځکه بیرته ورغوي او بیا یې له ځان سره لرلی ملهم د نانځکې پر ماتو شویو ځایونو وسولاوه او نانځکه له لومړني حالت نه هم لا ښه او روغه شوه، ان تر دې چې پرته له هغه چې څوک یې تارونه ښکته پورته کړي، هغې کولای شول وخوځیږي او خپل لاس پښې وښوروی. نانځکه اوس د یو ژوندي انسان په څیر وه او کولای یې شوای د خپل بدن غړي خپله وخوځوي، یوازې یې خبرې نه شوای کولای. د ننداري وړاندې کونکی ډیر خوشاله شو چې نانځکه یې کولای شي خپله وګډیږي او ځان پورته، پورته واچوي، خو نورو نانځکو یې دا کار نه شو تر سره کولای.

نیمه شپه وه، ټول ویده وو، چې نا څاپه د آه او زګیرویو عجیب غږ جګ شو او دومره سره وغځید چې ټول یې له خوبه راویښ کړل. ننداره وړاندې کونکی هم راویښ شو. هغه داسې ګڼله چې غږ د نانځکو له صندوق نه راوزي، ځکه د نانځکو د صندوق خواته ورغی. د صندوق سر یې چې جګ کړ، وې لیدل چې همدا نانځکې دې چې په بد حالت سره زګیروي کوي او آه باسي. دا ځکه چې هغوی هم غوښتل د ملکې په څیر شي او د خپل بدن غړي خپله وخوځولی شي.
ملکه نانځکه په ګونډو شوه او خپل ښکلی تاج یې د یوهانس او د هغه د ملګري خوا ته داسې ونیو لکه په زاریو سره چې وایي:

«دا تاج در واخلئ او په بدل کې یې زما د میړه او زما د درباریانو په لاس او پښو هم مرهم وسولوئ!»

ننداره وړاندې کونکی ځان ټینګ نه شو کړای او په ژړا شو، بیا یې یوهانس او د هغه د سفر ملګري ته وویل:

«که زما ټولې نانځکې داسې ورغوي لکه ملکه نانځکه، هر څه چې وغواړئ، تاسو ته به یې درکړم.»

نا آشنا همسفر وویل چې د دې کار په بدل کې دی هیڅ هم نه غواړي، یوازې د ننداري د وړاندې کونکي هغه توره غواړي چې په ملا پورې یې تړلې ده. هغه هم ومنله او توره یې ورکړه.
د یوهانس ملګري هغه ملهم په نانځکو وسولاوه، نانځکو حرکت وکړ او خیزونه یې پیل کړل او داسې په ګډا سر شوې چې تول ماشومان یې په ګډا راوستل. هغه شپه په میلمستون کې داسې شور بګت جوړ شو چې راشه که یې ګورې!

سبا ته یوهانس او ملګري یې له ټولو سره مخه ښه وکړه او د صنوبر د ونو په منځ کې یې د لوړو غرونو خوا ته مخه کړه. هغوی دومره پاس وختل او جګ ولاړل چې لاندې د کلیسا برجونه دومره واړه ښکاریدل لکه په ونو کې چې میوه زوړنده وي. یوهانس په خپل ټول عمر کې دومره ښکلاوې یو ځای او په یوه وار سره نه وې لیدلې.

په هغې تازه هوا او شنه اسمان کې لمر ډیر ښه ځلیده او د شپنو د شپیلۍ زړه وړونکی غږ په دښتو او غرونو کې انګازې کولې. د یوهانس په سترګو کې اوښکې راپیدا شوې او بې اختیاره یې چغې کړې:

«خدای پر موږ څومره مهرباني کړې ده چې دا نړۍ یې له دې ښکلا او پرتم سره رامنځ ته کړې ده.»

د یوهانس د سفر ملګری غلی ولاړ و او د لرو، لرو ځایونو ننداره یې کوله، ناڅاپه یې له پاسه د یوه الوتونکي زړه وړونکی غږ واوریده. چې پاس یې وروکتل، که ګوري چې د ایلۍ له کورنۍ نه یو سپین قانس په آسمان کې څرخونه وهي او داسې غږ یې ایسته چې تر نن پورې هغو دواړو هسې غږ نه و اوریدلی، خو د الوتونکي غږ ورو، ورو ټیټیده. بیا سپین قانس خپل سر ټیټ ونیو او لاندې پسې راته، ترڅو په پای کې د دوی له پښو سره، په بې ځانه حالت راولویده.

د یوهان ملګري وویل:

«څه ښکلي او پرتمین وزرونه!

څومره لوی، لوی او سپین دي!

دا وزرونه په ریښتا چې ارزښتمن دي، زه هغه د ځان له پاره راجګوم. اوس دې ولیدل چې دا توره مې څنګه په کار شوه؟»

بیا یې د سترګو په رپ کې د الوتونکي دواړه وزرونه غوڅ کړل. بیا وخوځیدل، ولاړل، ولاړل، تر څو یو لوی ښار ته ورسیدل. دې ښار په سلګونو برجونه او دیوالونه درلودل. د ښار په منځ کې یوه پرتمینه ماڼۍ جوړه شوې وه چې زرین بامونه یې درلودل او د بادشاه د اوسیدو ځای و. له ښار نه د باندې میلمستون و، دوی هلته ولاړل، څو ځانو ته نوې جامې برابرې کړې او بیا پاک او په نویو کالیو سمبال، د ښار واټونو کې قدم کیږدي.

د میلمستون خاوند هغوی ته وویل:

«د دې ښار بادشاه ډیر ښه سړی دی او تر نن پورې یې هیڅ چا ته آزار نه دی رسیدلی، خو لور یې ډیره بدجنسه ده، هغه ډیره ښکلې جلۍ ده، خو څه ګټه؟ هغه داسې بد جنسه سحرګره ده چې تر اوسه ډیرو زړورو د هغې له پاره خپل ځان بایلودی دی.

هغې له عادي خلکو نه نیولې، بیا تر شاهزادګانو پورې، د دې وطن ټولو نارینه ګانو ته اجازه ورکړې چې د دې ریباري وکړي، خو شرط یې دا دی چې دوی باید د نجلۍ په سوچ باندې پوه شي او ووایي چې هغه په هماغې شیبې کې د څه شي په باب فکر کوي. که څوک بریالي شول، کولای شي له شهزادګۍ سره واده وکړي او د بادشاه له مړیني وروسته د هغه ځایناستی شي او د هغه وطن واکدار شي، او که یې و نه شوای کولای د جلۍ د هغې شیبې فکر باندې پوه شي، نو شهزادګۍ امر کوی چې هغه شخص په دار وځړوي او یا یې سر ورباندې غوڅ کړي.

پلار یې دې حالت ته خواشینی دی، خو نه شي کولای خپله لور له کار نه لاس په سر کړي، ځکه چې پخوا یې لا ژمنه کړې وه چې لور به د خپل میړه په ټاکلو کې خپلې خوښې ته پریږدي. د همدې دلیل له مخې یې لور خلاص لاس لري چې هر څه یې زړه وغواړي، هغه به کوي.

هرکله چې کوم شهزاده د ریبارۍ په نیت خپل قدم شاهۍ مانۍ کې کیږدي او هڅه وکړي چې د شهزادګۍ په سوچ باندې پوه شي، نه یې شي تر سره کولای او په دې کار کې ماتیږي او خپل سر بایلي. ټول ریباران په دې ښه پوهیږي چې پر څه پایلې باندې اوړي، خو د شهزادګۍ ښکلا دومره تاثیر ورباندې کوي چې تر وروستۍ شیبې له خپله هوډه نه اوړي.

عمر خوړلی شاه له دې بابته دومره خواشینی دی چې هر کال یو ځلې له خپلو ټولو سرتیرو سره د دعا له پاره په ګونډو کیږي، دعا کوي چې د شهزادګۍ په پالیسۍ کې بدلون راشي، لږ را ښه شي او له دې ظالمانه کار نه لاس په سر شي، خو د پلار کارونه په هغې هیڅ تاثیر نه کوي. ښاریان له دې بابته ډیر خوابدي دي، هیڅ شی ښه نه ورته ښکاري.

یوهانس د دې خبرو له اوریدو وروسته وویل:

«عجیبه بد جنسه شهزادګۍ ده!

که زه د عمر خوړلي بادشاه پرځای واي، هغې ته به مې سم سبق ورکړای وای!»
په همدې شیبه کې څه غږځوږ له باندې ځای نه واوریدل شو، ځینو خلکو نارې وهلې:
«ژوندۍ دې وي شهزادګۍ!»

خلکو د شهزادګۍ د ښکلا تر تاثیر لاندې دا هیر کړي وو چې هغه څومره په زړه سخته او ظالمه ده، همدا چغې یې وهلې چې:

«ژوندۍ دې وي شهزادګۍ!»

شهزادګۍ پر داسې سپین اس باندې سپره وه چې د الماسو او یاقوتو په سلګونو غمیو باندې ښکلی کړای شوی و. د شهزادګۍ د سورلۍ جامې د زربفتو له ټوټې جوړې شوې وې. کومه متروکه یا قمچینه یې چې په لاس کې وه، داسې ځلیده لکه د لمر وړانګې، زرین تاج یې داسې بریښیده لکه د څو ستورو وړی او بې لستونو بالا پوښ یې د زرګونو رنګارنګ الوتونکو له وزرونو څخه جوړ شوی و او دولس ښکلې پیغلې چې سپین وریښمین کالي یې په تن وو، په لاسونو کې ګلان او په تورو براق آسونو سپرې وې، د شهزادګۍ په بدرګه کې روانې وې.

کله چې د یوهانس سترګې په شهزادګۍ ولګیدې، لکه څڅیدونکې وینه، تک سور واوښت او ژبه یې بنده شوه. شهزادګۍ هغه چا ته ورته وه، چې ده په خوب کې لیدلې وه. ده ته شهزادګۍ ډیره ښکلې، پاکه او معصومه په نظر ورغله، نو له ځان سره یې سوچ وکړ:

«دا چې ویل کیږي شهزادګۍ بد جنسه سحرګره ده او که یې څوک د پوښتنو ځوابونه ونه شي ویلای، نو یا یې غاړه غوڅوي او یا یې په دار جګوي، ګمان نه کوم چې دا به ریښتیا وي.»
همدلته و چې زړه کې یې غوټه کړه:

«هر څنګه چې کیږي، باید ماڼۍ ته ورشم او ځانته یې وغواړم.»

ټولو ورته وویل چې دا کار ونه کړي، ځکه دا به د سر په بیه ورته تمام شي. ملګري یې هم ډیره هڅه وکړه چې دی له دې کاره راواړي، خو یوهانس داسې ګڼله چې په دې کار سره به دی ښه راتلونکې ولري.

ده ښه په ځان ګوتې ووهلې، بوټونه یې برس کړل، مخ لاس یې ستره کړل، خپل ځلیدونکي ویښتان یې ږمنځ کړل او یکې یوازې سلطنتي ماڼۍ ته ورغی.
کله یې چې ور وټکاوه، عمر خوړلي شاه وویل:
«دننه راشئ!»

یوهانس ورننوت، شاه یې هرکلی وکړ.

کله چې بادشاه پوه شو چې هغه یې د لور غوښتونکی دی، داسې په لوړ غږ یې وژړل چې سلطنتي زینتي لکړه یې پر مځکه ولویده. شاه په خپلې اوږدې لمنې، خپلې اوښکې پاکې کړې او وې ویل:

«راځه له دې معاملې تیر شه! ځکه چې یو ډارونکی برخلیک دې په انتظار کې دی.»
بیا یې هغه د خپلې لور ځانګړې بڼ ته بوته.

څه عجیبه ډارونکې منظره وه: د هرې ونې پر سر د دې د لور د یوه خواستګار اسکلیت راځوړند شوی و او د شمال له لګیدو سره به اسکلیتونه ښوریدل او د هډوکو یو پر بل باندې د لګیدو غږ به اوریدل کیده. واړه الوتونکي به ډاریدل او دا زړه یې نه کاوه چې بڼ ته نږدې شي. بوټي او ګلان له هډوکو نه راتاو شوي وو او ککرۍ داسې ښکاریدې لکه نیشخند چې وهي. د یوې ځوانې نجلۍ له پاره په ریښتیا دا یو عجیب بڼ و.

عمر خوړلي شاه وویل:

«ویني یې! ستا برخلیک هم همداسې دی! نو ښه به دا وي چې پر خپلې راغلې لار باندې بیرته ولاړ شې. که دا کار وکړې، زه به ډیر خوښ شم، ځکه چې هیڅ مې زړه نه غواړي چې ته هم ووژل شې.»

یوهانس د عمر خوړلي او مهربان بادشاه لاس ښکل کړ او وې ویل چې هر څه به په ښېګڼه پای ته ورسیږي، ځکه چې دی په شهزادګۍ باندې میین شوی او خدای به هم په دې کار کې له ده سره مرسته وکړي.

په همدې شیبه کې شهزادګۍ راورسیده، یوهانس او بادشاه وړاندې ورغلل او سهار په خیر یې ورته وویل. شهزادګۍ په ریښتیا ښکلې وه. بیا ټول د مانۍ تالار ته ننوتل، څو لږ دمه وکړي. چوپړانو ورته له مربا سره زنجبیلي ډوډۍ راوړه. شاه خواشینی و، نه یې شوای کولای څه وخوري او زنجبیلي ډوډۍ هم ډیره کلکه وه.

په پای کې داسې پریکړه وشوه چې یوهانس باید سبا سهار ماڼۍ ته راشي او د سلطنتي شورا د غړو او د ښار د قاضیانو په حضور کې د شهزادګۍ د فکر اټکل وکړي. یوهانس باید درې ځلې هلته تللی وای او ویلې یې وای چې شهزادګۍ په هماغه شیبه کې د څه شي په باب سوچ کوي او که نه، نو خپل سر به یې بایللی وای.

یوهانس د مسابقې د پایلې په فکر کې نه و. برعکس هغه ډیر خوشاله و او ډاډه و چې په دې کار کې به خدای مرسته ورسره کوي، دا چې په څه ډول او له کومې لارې، ښه یې ګڼله چې په دې باب فکر و نه کړي.

یوهانس په خیزکونو، خیزکونو د میلمستون په لورې راغی، چیرې چې ده ته یې د سفر ملګری سترګې په لاره و.

دی پرلپسې په دې باب غږیده چې جلۍ څومره مؤدبه، نجیبه او شریفه ده. هغه په میړانې سره وویل چې له همدې شیبې نه د آزموینې له پاره چمتو دی، تر څو یې چې د شاه لور خپله کړې نه وي، کرار به کیننې.

خو د سفر ملګري یې په خواشینۍ او زوړند سر ورته وویل:

«زه له تا سره عادت شوی یم او مینه مې درسره پیدا شوې ده! موږ کولای شول چې اوږده موده سره دوستان او د لارې ملګري واوسو، خو افسوس چې ډیر ژر به زه تا له لاسه ورکړم. خوارکوټیه ملګریه! زړه مې غواړي وژاړم، خو دا سمه نه ده چې زما او ستا د یو ځایوالي دا وروستۍ شپه خرابه کړم. نن شپه به خوښ او خوشاله اوسو او سمه تفریح به وکړو! سبا ته چې ته په خپله مخه ولاړې، زه به په یوازیتوب او آرامه فضا کې وژاړم.»

دا خبر په ښار کې ډیر ژر خپور شو چې د شاه لور ته یو نوی خواستګار پیدا شوی دی، د همدې په پار د ښار د خلکو پر زړونو باندې لویه خواشینې غالبه شوې وه. نندارتونونه وتړل شول او قنادانو پر خپلو خوږو باندې تورې ټوټې وغوړولې. بادشاه او راهبان په کلیساوو کې، د دعا له پاره په ګونډوشول او دعاوې یې کولې. له هر کور څخه د آه او افسوس غږونه راجګېدل؛ ځکه هغوی داسې انګیرله چې یوهانس به هم له هغو نورو خواستګارانو نه کوم ښه برخلیک تر لاسه نه کړي.

څنګه چې شپه شوه، د یوهانس ملګري هغه ته یو عجیب شربت ورکړ او ورته وې ویل:
«یوهانسه اوس هغه شیبه ده چې باید خوښ اوسو او جشن جوړ کړو.»

یوهانس لا د هغه شربت دوه ګیلاسه نه و چیکلي چې خوب یوړ، ملګري یې په آرامۍ سره جګ کړ او په بستره کې یې څملاوه. بیا چې ښه تیاره شوه، د قانس ښکې یې په خپلې شا پورې وتړلې، بیا یې د یو بوټي ډنډر راواخیست او په جیب کې یې کېښود. د کوټې کړکۍ یې پرانسته او په الوتلو د بادشاه د ماڼۍ خوا ته ورغی. کله چې ماڼۍ ته ورسید، د شهزادګۍ د کړکۍ په څنډې کې په انتظار کېناست.

ټول ښار غلی او آرامه و، په ماڼۍ کې سلطنتي ساعت دولس ځلې وټنګید، شپه نیمایي ته رسیدلې وه. نا څاپه د کوټې کړکۍ خلاصه شوه، شهزادګۍ له تورو وزرونو او سپین بې لستوني بالا پوش سره راووته او په الوتلو سره، چیرته لرې د یو ستر غره په لوري ورغله.

د یوهانس د سفر ملګري، د دې له پاره چې شهزادګۍ یې ونه ویني ځان داسې کړ چې ونه لیدل شي، بیا په هغې پسې وروالوت. په تګ، تګ کې یې، په ډنډر سره شهزادګۍ باندې داسې کلک وارونه کول چې له بدن څخه یې وینه جاري کیدله، چغې یې آسمان ته جګېدلې او همدا عمل ورسره ښاییده.

په سپین بې لستوڼو بالاپوش کې یې باد ځاله کړې وه، د سپوږمۍ رڼا ورنه تیریدله او داسې یې په ځان پسې څښاوه، لکه بادبان چې وي. په پای کې هغه یوه لوی غره ته ورسیده. ور یې وټکاوه، لکه تالنده یو دروند او ډارونکی غږ، تر غوږه شو. غر په منځ کې پرانستل شو او هغه وردننه شوه، د یوهانس ملګری هم په چټکۍ ورپسې ور دننه شو.

هغوی دواړه له یوې اوږدې او لویې لارې تیر شول، داسې ځای ته ورسیدل چې دیوالونه یې په عجیب ډول ځلیدل. پر دیوالونو باندې تر زرو زیاتې ځلنده غنې ښکته پورته تللې او لکه اور داسې ځلېدلې. بیا داسې یوه ستر تالار ته ورسیدل چې له سرو او سپینو زرو جوړ شوی و. پر دیوالونو باندې، د لمر ګلې په اندازه سره او آبې ګلان ځلیدل، خو هیڅ چا دا ګلان ټولولی نه شول، ځکه چې ډنډرونه یې په اصل کې زشت او زهر لرونکي ماران وو او له خولو نه یې اور بادیده. د مانۍ ټول چتونه په داسې چنجیانو سمبال کړای شوي وو، چې د شپې له خوا به ځلیدل او رڼا به یې کوله، په زرګونه آسمانځکالي ور نه راځړیدل او خپل نازک وزرونه یې ښورول. په ریښتیا سره یوه زړه بدونکې منظره وه.

د تالار په منځ کې سلطنتي تخت د څلورو اسانو د اسکلیت پر شا باندې داسې ایښودل شوی و چې په څلور څنډو کې یې د سرو غښو څلور اورینې خولې ایښودل شوې وې. خپله تنخت له یوې ځانګړې شیشې نه جوړ شوی و چې د شودو په څیر رنګ یې درلود، بالښتونه یې واړه تور موږکان وو چې تل به یې یو د بل لکۍ په غاښ کولې. د تخت پر سر باندې د غښو له ښکلو تارونو نه جوړ چتر لیدل کیده او ډیر ښکلي شین رنګه حشرات داسې په کې کارول شوي وو چې د ګاڼو په څیر ځلیدل.

د تخت پر سر باندې، زرین تاج پر سر، یو عمرخوړلی جادوګر ناست و. جادوګر د جلۍ لاس ونیو او هغه یې په خپل څنګ کې کېنوله، بیا موسیقي پیل شوه. تورو ملخانو نغمه غږول پیل کړل، کونګ خپل وزرونه سره سولول او د دیګې د سر پوښ په څیر غږ یې ایسته، څو تنه تور ټیټ قدي چې فانوسونه یې پر سر نیولي وو، په تالار کې پورته، پورته لوېدل، خو هیڅ چا نه شوای کولای چې د یوهانس د سفر ملګری ووینې، هغه د لوی تخت تر شا ولاړ و، ټول یې لیدل او هر څه یې اوریدل.

په تالار کې کوم درباریان، چوپړان او سرتیري چې ښکته پورته کیدل، ډیر په عزت او پرتم سره وو، خو دا ټول د جارو له ډکو نه جوړ وو چې د کرم پاڼې یې پر سر ورته ایښې وې او جادو ګر په خپل جادو سره هغوی خوځول او هغوی ته یې د زرو په تارونو ګنډل شوې جامې وراغوستې وې، خو هغو هیڅ ارزښت نه درلود او یوازې د یوې ننداري او بوختتیاله پاره برابر شوي وو.

لږه دمه اوتفریح یې چې وکړه، جلۍ سحرګر ته وویل:

«نوی ریبار راپسې راغلی دی، وایه څه وکړم چې هغه زما فکر ونه شي لوستلای؟»
سحرګر وویل:

«ته باید یو ساده او آسانه څه وټاکې، داسې څه چې هغه یې فکر هم ونه شي کړای. د ساري په توګه د خپل یو بوټ په باب فکر وکړه، د هغه به هیڅ پام نه شي. هلته ته کولای شې سر یې پرې کړې، خو هیر دې نه شي چې سبا شپه کله بیا ماته راځې د هغه سترګې درسره راوړه چې زه یې وخورمه.»

جلې په درناوي سره تعظیم وکړ او وې ویل چې سترګې به هېرې نه کړي.
بیا د مانۍ په لوري والوتله.

د یوهانس د سفر ملګری ورپسې و او بیا یې دومره قمچینې ورحواله کړې چې د جلې چغې جګې شوې او په ټول توان سره یې، د خپلې خوب کوټې له خلاصې کړکۍ نه ځان کوټې ته وروارتیږه. د یوهانس ملګری په الوتلو سره ځان میلمستون ته ورساوه. د هغې ورځې په سبا، کله چې یوهان له خوبه جګ شو، د سفر ملګري یې ورته وویل چې بیګاه شپه یې د شهزادګۍ او د هغې د بوټ خوب لیدلی او یوهانس ته یې وویل چې د شهزلدګۍ د پوښتنې په ځواب کې ورته ووایي چې هغه د خپل بوټ په باب فکر کوي.

یوهانس وویل:

«ډیره ښه، همدا کار به وکړم. ښایي ستا لیدلی خوب سم وي، خو له دې سره، سره زه له تا سره مخه ښه کوم، ښایي یو بل سره ونه وینو.»

بیا یې د مخه ښې په دود یو بل سره ښکل کړل او یوهان د ښار په لوري وخوځید چې د بادشاه مانۍ ته ورشي. هلته تالار له خلکو ډک و، قاضیان پر لرګینو څوکیو ناست وو او د ښکو پَستو بالښتونو ته یې ډډې لګولې وې ځکه چې ژور او مهم سوچونه یې کول.

عمر خوړلی شاه له تخت څخه جګ شو، خپلې اوښلنې سترګې یې په سپین دسمال پاکې کړې او په همدې شیبه کې شهزادګۍ هم تالار ته راننوته. هغه له پرون څخه نن نوره هم ښکلې، جذابه او په زړه پورې شوې وه. هغې په ځانګړې درنښت سره ټولو ته درناوی وکړ، بیا یې یوهانس ته لاس ورکړ او ورته وې ویل:

«سهار مو په خیر!»

اوس باید یوهانس اټکل وکړي چې هغه د څه شي په باب فکر کوي. اوه چې هغې څومره په مینې سره یوهانس ته کتل، خو څنګه یې چې د بوټ توری تر غوږه شو، د څیرې رنګ یې د ګچ په څیر تک سپین شو او ټول وجود یې سره وریږدیده، ځکه چې د یوهانس اټکل ریښتیا و او دا څومره عجیبه وه!

عمر خوړلی شاه د زړه له کومې داسې خوشاله شو، چې ده ته نږدې خلک یې خپله غیږ کې ټینګ ونیول او ټول یې جلا، جلا ښکل کړل. ټولو حاضرینو د یوهانس په ویاړ لاسونه وپړکول. یوهانس یوازینی څوک و چې وې کولای شول چې د شهزادګۍ د سوچ اټکل په سمه توګه وکړي. د یوهانس ملګري چې کله د هغه د بریا واوریدل، ډیر خوشاله شو. یوهانس هم له هغه نه مننه وکړه او ډاډه و چې بیا به هم مرسته ورسره وکړي.

ماخوستن بیا هم لکه پرون کله چې یوهانس ویده شو، د سفر ملګری یې بیا په جلۍ پسې تر غره پورې ور والوت او بیا یې هماغسې قمچینې ورحواله کړې. کله چې جلۍ کوډګر ته ورورسیده، کوډګر ورته وویل:

«ښه به وي چې سبا ته د خپل لاسپوښي په باب فکر وکړې.»

سبا ته چې کله یوهانس له خوبه راویښ شو، د سفر ملګري یې ورته وویل:

«د دویمې پوښتنې ځواب مې هم په خوب کې ولید.»

په دې ډول یوهانس وتوانید چې د دویم ځل له پاره هم د جلۍ د فکر اټکل په سمه توګه وکړي. په تالار کې د خوښۍ لویه غوغا ګډه شوه، شاه او درباریانو یې د خوښۍ نارې وهلې، خو نجلۍ غلې او غمجنه وه، پر تخت باندې ناسته او څه یې نه ویل.

اوس نو یوازې یوه پوښتنه پاتې وه، که یې یوهانس سم ځواب ووایي، جلۍ به د تل له پاره د هغه شي، خو که ونه توانیږي، ژوند به بایلي او سترګې به یې کوډګر ته ورسیږي.

هغه شپه یوهانس ژر بسترې ته لاړ، خپله ماخوستنۍ دعا یې وویله او په آرامتیا سره ویده شو؛ خو د ده د سفر ملګری لکه دوې تیرې شپې خپل وزرونه پر شا پورې وتړل، درې ډنډره یې له ځان سره واخستل او د شاه د مانۍ خوا ته وروالوت.

تکه توره شپه وه، داسې توند باد لګېده چې د بامونو کودې یې له ځانسره وړل او د شهزادګۍ د بڼ وني له اسکلیتونو سره، لکه د ولو څانګې خمیدې، تالنده او بریښنا شیبه په شیبه ډیریده او ډارونکې غږونه یې پسې غځیدل.

تر لږ ځنډ وروسته د جلۍ د کوټې کړکۍ پرانستل شوه او هغه په الوتلو له مانۍ څخه راووتله، رنګ یې د مړي په څیر الوتی و، د هوا حالت ته یې په لیدو سره وخندل او له ځانسره یې وویل:

«تر اوسه پورې هوا ډیره خرابه شوې نه ده!»

بې لستونې سپین بالاپوش یې بیا د شپې په تیارې کې د سپین بادبان په څیر، په خوځیدو شو. د یوهانس ملګري دا ځل هم هغه د خپلو دریو متروکو تر ګوزارونو لاندې داسې ونیوله چې وینې یې له مخ او سر نه په بهیدو شوې. هغه چې نور څه نه وو ورپاتې، مټکې یې ځان تر غره پورې ورساوه.

جلی د کوډګر په لیدلو سره وویل:

«څه ډارونکی باد او ګلی ده! ما په ټول عمر کې داسې طوفان نه و لیدلی!»
سحرګر وویل:

«نارامه کیږه مه، زه به دا ځل د داسې څه په باب فکر وکړم چې د هغه خوارکوټې په فکر کې به هم ونه ګرځي. ته دا هیر کړه، اوس د تفریح او خوشالی وخت دی»

بیا هغه ټیټکي خندونکي چې فانوسونه یې پر سر نیولي وو، په ګډا پیل وکړ. سرې غنې په خوشالی سره پر دیوالونو ښکته پورت تللې راتللې، کونګ ډول غږاوه او چرچري (چرچرک) شکیلی واهه، ځیږه تورو ملخانو چنګ غږاوه؛ عجب شور بګت جوړ و.

کله چې ښه تفریح وشوه او د جلی د بیرته تګ وخت شو، کوډګر وویل چې دی به په خپله له هغې سره تر مانۍ پور ولاړ شي او هماغې بدې طوفاني هوا کې د مانۍ په لوري والوتل.
د یوهانس ملګری هم په دوی پسې شو او دواړه یې په خپله متروکه باندې وهل. کوډګر هغه نه لیده او داسې یې انګیرله چې دا د ګلی دانې دي چې په ده باندې لګیږي.

د مانۍ له دروازې سره سحرګر د مخه ښې په شیبه کې د جلی په غوږ کې وویل:

«زما د سر په باب فکر وکړه.» د یوهان د سفر ملګري دا خبره هم واوریدله.

په هماغې شیبې کې چې جلۍ د خپلې خوب د کوټې له کړکۍ نه مانۍ ته ننوتله، سحرګر یې تر اوږدې ږیرې راونیو او د خپلې تورې په وسیله یې سر ورنه په داسې چټکۍ غوڅ کړ چې حتی سحرګر هم پوه نه شو چې وژونکی یې څوک دی.

د یوهانس د سفر ملګري د سحرګر بدن سمندر ته وغورځاوه چې د کبانو خوراک شي، سر یې را واخست پاک یې پریوی او هغه یې د خپل جیب په وریښمین دسمال کې تاو کړ او له ځان سره میلمستون ته یوړ.

سبا سهار یې وریښمین پنډکی یوهان ته ورکړ او ورته وېویل:

«کله چې شهزادګۍ تا وپوښتي چې هغه د څه شي په باب فکر کوي، دا پنډکی پرانیزه او ور وېښیه.»

دا ځل د مانۍ لوی تالار ته دومره خلک راټول شوي وو چې د پښې ایښودلو ځای هم نه و پاتې. د شورا غړي پر پستو او ارامه څوکیو باندې ناست وو، عمر خوړلي شاه هم خپلې رسمي جامې اغوستې وې، رینتي لکړه او سلطنتي نښان یې ښه ځلیدل. خلاصه ټول شیان ښکلي او پرتمین شوي وو، خو د شهزادګۍ رنګ الوتی ښکاریده او داسې تورې جامې یې اغوستې وې، لکه د فاتحې په مراسمو کې چې ګډون کوي.

کله یې چې یوهانس ولید، هغه یې وپوښته:

«وایه چې زه د څه په باب فکر کوم؟»

یوهانس سمدلاسه د دسمال غوټه پرانسته، داسې چې دی خپله هم د جادوګر د زشت او ډارونکي سر په لیدو وډار شو.

ټول حاضرین وډار شول، ډیره ډارونکې منظره وه. جلې لکه مجسمه په خپل ځای داسې ولاړه پاتې وه، چې یوه کلمه یې هم پر ژبه نه شوه راوړلای.

په پای کې له خپل ځایه جګه شوه، یو آه یې ویست او وېویل:

«ته اوس زما خاوند یې، موږ به همدا نن مابښام واده وکړو.»

شاه وویل:

«ډیر ښه وشول، دا هغه څه وو چې ما غوښتل!»

ټولو حاضرینو په یو غږ د «هورا» غږونه ویستل.

د موزیک ډلې، د ښار واټونو کې موزیک غږول پیل کړل، ساعتونه وکړنګېدل او شیریني خرڅونکو له خپلو دکانونو څخه تورې غوړیدلې ټوټې لرې کړې، ځکه چې نور د ویر ساعت پای ته رسیدلی و، درې غوایي کباب کړای شول، چرګان او بټکې هم خوراک ته چمتو شوې او د ښار په واټونو کې د خوراک له پاره اېښودل شوي وو، د ښار له فوارو نه واین جاري وو، که د ډوډۍ پخولو په دکان کې جا شپږ وړې ګرې ډوډۍ اخیستې وای، نو یوه د ممیزو ډوډۍ وړیا ورکول کیده، د شپې له خوا ټول ښار ښکلی کړای شو و، عسکرو په توپونوسره د خوشالۍ ډزې کولې او هلکانو په وړو دانو ډزې کولې.

خوراک او چیکل روان وو، ګیلاسونه سره جنګول کېدل، په شاهي ماڼۍ کې د خوشالۍ درزودروز روان و او هلکانو او ښکلو نجونو ګډا سره کوله او دا سندره سره ویله:

«دلته ډیرې ښایسته نجونې دي،

دوی غواړي یو څوک ګډا ورسره وکړي،

ښایسته نجلۍ تاو راتاو شه،

ګډا کول او پښه پر مځکه وهل،

داسې دې پښه پر مځکه ووهه چې د بوټانو تل دې وخیژي!»

خو شهزادګۍ تر اوسه داسې ده لکه سحرګره او له یوهانس سره یې هیڅ مینه نه درلوده. د سفر ملګري دې ټکي ته پام و چې جلې یوهانس ته پاملرنه نه کوي؛ د همدې له پاره هغه یوهانس ته د قانس درې بټکې او له هغه سره یې په یوه بوتل کې قطره چکان هم ورکړل او ورته وې ویل چې باید د ناوې د تخت په څنګ کې له اوبو ډک، یو لوی لوښي کېږدي. کله چې شهزادګۍ غوښتل تخت ته وخیژي، یوهانس باید داسې ډکه ورکړي چې اوبو ته ور ولویږي او له بټکو سره قطره چکان هم ور واچوي او جلې دې درې ځلې د لوښي د اوبو په منځ کې ډوبه کړای شي. وروسته له هغه نه جلې د سحر له تاثیر نه خلاصیږي او له یوهان سره مینه پیدا کوي.

یوهانس ټولې هغه مشورې ترسره کړې، چې د سفر ملګري ورته ورکړې وې. کله چې یوهانس شهزادګۍ په اوبو کې غوټه کوله، هغې په لوړ غږ سره چغې وهلې، د یوهانس لاسونه یې له ځانه لرې کول، چې ځان ورنه خلاص کړي، ډیره قهرجنه او کرکجنه ښکاریدله. له دویم ځل غوټه کولو نه وروسته چې شهزادګۍ له اوبو نه راجګه شوه، په سپین قانس بدله شوې وه؛ په دې توپیر چې نوره ټوله سپینه وه، یوازې په غاړه کې یې یوه توره حلقه پاتې وه.

یوهانس د خدای دربار کې دعا کوله او دریم ځل یې داسې تر اوبو لاندې کړه، چې اوبه د پاسه ورباندې وزغلیدې او له دریم ځل غوپه کولو نه وروسته له سپین قانس نه په یوې ښکلې شهزادګۍ

بدله شوه. هغه پخوا هم ښایسته وه، خو اوس تر پخوا هم ښکلې ښکاریده او په داسې حال کې چې سترګې یې له اوښکو ډکې وې، له یوهانس نه یې مننه وکړه چې دا یې د سحر او جادو له دایرې نه را خلاصه کړه.

د مبارکې ویونکو له ډلې نه تر ټولو وروسته د یوهانس د سفر ملګری توبره په شا او لکړه په لاس، د مخه ښې له پاره راغی. یوهانس هغه په غیږ کې ونیو، ښکل یې کړ او ورته وېویل چې ته چېرې مه ځه، دلته له موږ سره پاتې شه، دا ستا برکت و چې ما ته خوښې او نیکمرغې را په برخه شوې ده؛ خو د سفر ملګري په آرامتیا او مینې سر وښوراوه او وې ویل:

«نه، زما وخت پوره ده. ما خپل پور ادا او دنده مې تر سره کړه. ستا هغه مړ شوی سړی په یاد کیږي چې هغو خرابو خلکو په تکلیفاوه؟ او تا خپل شیان هغو خلکو ته د دې له پاره ورکړل چې هغه مړی په خپل قبر کې ارام وکړي؛ هغه مړی زه یم!»
په دې شیبه کې هغه له سترګو پناه شو.

د واده مراسم یوه میاشت روان وو. یوهانس او شهزادګۍ له یو بل سره مینه درلوده. عمر خوړلي شاه ډیرې ښې او خوشاله ورځې تېرې کړې او پوره راضي و.

د یوهانس او شهزادګۍ بچیان یې پرېښودل چې د هغه پر ځنګنو کیني

او د هغه د لاس له زینتي لکړې سره لوبې وکړي او یوهانس د ټولې امپراتورۍ واکمن و.

پای

منبع:

H.C.Andersen Eventyr, 1, 101 _ 143 s, 1994, Odnsa, Denmark

د ژباړن لنډه بیوګرافي:

پوهندوی محمد آصف بهاند د محمد عمر زوی، د ۱۹۵۷م کال د دسمبر په ۲۳مه نیټه د کابل د چهاردهي په شکرالله خان نومي کلي کې زیږیدلی دی. لومړنۍ زده کړې یې د کابل د علاوالدین په تجربوي ښوونځي کې کړي دي، بیا یې د کابل په محمود طرزي لیسه کې خپلو زده کړو ته دوام ورکړ، خو دولسم ټولګی یې د میدان ښار د نرخ په لیسه کې پای ته ورساوه.

د ۱۳۵۵ کال د حمل په میاشت کې یې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو په پوهنځي کې لوړې زده کړې پیل کړې او په ۱۳۵۸ کال یې د لیسانس سند تر لاسه کړ. له فراغت نه وروسته د کابل د روښان په دارالمعلمین کې د ښوونکي په توګه ومنل شو.

په ۱۳۶۰ کال په ژمي کې د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي په علمي کدر کې ومنل شو. په ۱۳۶۶ کال کې یې د استاد صدیق روهي په لارښوونې د ماسترۍ د تیزس دفاع وکړه.

آصف بهاند له ۱۳۵۶ کال راهیسې شعر وایي، نوی شعر ډیر لیکي، کله، کله یوه نیمه غزله او قصیده هم لیکي. په سل ګونو علمي تحقیقي مقالې، شعرونه او کتابونه یې په هیواد کې دننه او له هیواد څخه د باندې په معتبرو علمي مجلو او بریښنایي خپرونو کې نشر شوي دي.

د هجري شمسي نېټې په شپیتمه لسیزه کې د څو کلونو له پاره د کابل پوهنتون د علمي مجلې (اجتماعي علوم) د مرستیالۍ دنده ورله غاړې وه.

دغه راز د هجري شمسي نیټې په شپیتمه لسیزه کې د اوږدې مودې له پاره د رادیو افغانستان د روزنې اداري د علمي پروګرام «موږ او اوریدونکي» لیکوال پاتې شوی دی.

آصف بهاند د افغانستان د لیکوالو ټولنې د مرکزي شورا غړی و.

په هيواد کي دننه او له هيواد څخه د باندي يي په لسګونو علمي او فرهنګي سمينارونو کي ګډون کړی، مقالي يي ورته ليکلي دي او په يادو سيمينارونو کي يي لوستي دي.

په ماسکو کي د اوږدي مودي له پاره د افغانستان د فرهنګ ټولني د منشيتوب او د يادي ټولني د ادبياتو د څانګي مسوليتونه ورله غاړي وو.

د سويدن په بيلابيلو ښارونو کي، د سويدن هيواد او په سويدن کي د ميشتو افغانانو د فرهنګي ټولنو له خوا د مورنۍ ژبي سيمينارونو ته بلل شوی او د يو لکچرر په صفت يي کارنده او فعاله برخه په کي اخيستي، مقالي يي ورته ليکلي دي او له سکندنويايي هيوادونو څخه د مورنۍ ژبي له راغلو ښوونکو سره يي د مورنۍ ژبي پر ستونزو او په پردي چاپيريال کي د مورنۍ ژبي د زده کړي او ساتلو پر ستونزو او د حل پر لارو چارو غږيدلی، مشوري يي ورسره کړي او د سويدن په ستاکهولم، يوتيبوري او مالمو ښارونو کي يي ګڼ لکچرونه وړاندي کړي دي.

آصف بهاند د خپل ادبي فعاليت په اوږدوکي دغه علمي کارونه تر سره کړي دي:

۱ ـ پښتو ادب له ۱۲۵۰ څخه تر۱۲۹۷ پوري (د ليسانس دوري مونوګراف)،

۲ ـ شعر د پښتو کلاسيکو شاعرانو له نظره (د پوهنيارۍ علمي رتبي ته د لوړيدو له پاره علمي اثر)،

۳ ـ د معاصر پښتو شعر شکل او مضمون (د پوهنملۍ علمي رتبي ته د لوړيدو له پاره علمي اثر)،

۴ ـ په پښتو شعر کي د انځور او تخيل مسأ له (د پوهندويۍ علمي رتبي ته د لوړيدو له پاره علمي اثر)،

۵ ـ د پښتو ژبي ګرامر او ادب، لومړی کتاب، د کابل پوهنتون د نا پښتو څانګو له پاره درسي کتاب (ګستـتـنر چاپ)،

۶ ـ د پښتو ژبي ګرامر او ادب، دويم کتاب، د کابل پوهنتون نا پښتو څانګو له پاره درسي کتاب (کستـتـنرچاپ)،

۷ ـ د پښتو ژبي ګرامر او ادب، دريم کتاب، د کابل پوهنتون د نا پښتو څانګو درسي کتاب (ګستـتـنرچاپ)،

۸ ـ د پښتو ادبياتو د لرغوني دوري منظوم متون، د پښتو څانګي درسي کتاب (ګستـتـنرچاپ)،

۹ ـ د پښتو ادبياتو د اوسنۍ دوري منظوم متون، د پښتوڅانګي درسي کتاب (ګستـتـنرچاپ)،

۱۰ ـ د خوشال د دستارنامي منتخبات، د پښتو څانګي درسي کتاب (کستـتـنرچاپ)،

۱۱ ـ د کوچنيانو ادبيات، د چاپ او خپرونو د دولتي کوميټي له خوا په ۱۳۶۶ کال کي خپورشوی دی او دويمه درجه مطبوعاتي جايزه يي ګټلي ده،

۱۲ ـ مروره مځکه (د شعرونو ټولګه) ، په ۲۰۰۹ کال په کابل کي د دانش خپرندويي ټولني له خوا خپره شوی ده،

۱۳ ـ لارورکي لارويان، لومړی ځل په ۱۳۹۱ کال کي چاپ شوی دی، مومند خپرندويي ټولني خپور کړی دی او دويم ځل د ۲۰۱۷ کال په جولای کي په افغان جرمن آنلاين کي پر ليکه شوی دی،

۱۴ ـ «د سمندر وړه ښاپیرۍ»، لیکوال: هانس کریستین اندرسن، ژباړن: آصف بهاند، په ۱۳۹۵ هـ ل کال، مومند خپرندویي ټولنې په جلال آباد کې چاپ او خپور کړی دی،

۱۵ ـ د سمندر وړه ښاپیرۍ او نه (۹) نورې کیسې، لیکوال: هانس کریستین اندرسن، ژباړن: آصف بهاند، د ۲۰۱۸ کال په جنوري کې په افغان جرمن آنلاین کې پر لیکه شوی دی،

۱۶ ـ لنډۍ او د ثبتولو ستونزه، ، د ۲۰۱۸ کال په جون کې په افغان جرمن آنلاین کې پر لیکه شوی دی،

۱۷ ـ د کوچنیانو ادبیات،(د کوچنیانو ادبیات، تاریخي پس منظر، اوسنی حالت) دویم ټوک، د دوه زره اوه لسم (۲۰۱۷) کال په اگست کې، په افغان جرمن آنلاین پورتال کې پر لیکه شوی دی،

۱۸ ـ د باران سیوری (د شعرونو ټولگه)، د ۲۰۱۸ کال په اکتوبر میاشت کې په افغان جرمن آنلاین کې پر لیکه شوې ده،

۱۹ ـ د تعلیم ډیوه او د نوې نسل روزنه (د مقالو ټولگه)، د ۲۰۱۹ کال فبروري میاشت کې په افغان جرمن آنلاین کې پر لیکه شوې ده،

۲۰ ـ د امپراتور نوې جامې او شپږ نورې کیسې، همدا اثر.

چاپ یا آنلاین کولو ته تیار:

ـ د شعرونو یوه ټولگه،

ـ او درې عنوانه څیړنیز کتابونه.

پوهندوی آصف بهاند اوسمهال د ډنمارک په هیواد کې ژوند کوي او لکه پخوا په فرهنگي کارونو کې فعال دی، خپلو څیړنیزو او تخلیقي کارونو ته دوام ور کوي.

پای